# دافغانستان اسلامي جمهوریت

## دلوړو زد ه کړو وزات

## کند هارپو هنتو ن

## ژورنالیز م پو هنځی

# ژورنالیز م حقوق او اخلاق

## لومړی برخه

استاد پو هیالي عبدالقدیر جلالی

کا ل : ۱۳۹۵

**Standard format for Course Syllabus** کورس پالیسي و مفردات آن

| موضوع (**Item**): | **Description**:توضیحات | | | |
|---|---|---|---|---|
| عنوان یا مضمون (**Title**):<br>دژورنالیزم حقوق او خلاق | د مضمون اهمیت او ضرورت:<br>دژورنالیزم حقوق او اخلاق د ژورنالیزم اساس دي ،نوموړي مضمون د هیواد او نړي په یوشمیر پوهنتونو نو کې تدریس کیږي ،نو له همدې کبله د ژورنالیزم اساس او بنسټ بلل کیږي.دنوموړي مضمون په لوستلو سره محصلان کولای شي چې دژورنالیزم په ډگر کې حقوقي او اخلاقي برخې هم وپیژني او په خپل ژوند کې دهغې څخه استفاده وکړي په پخوا وختونو کې به هرچا یوه خبر ،رپوټ ،مرکه کوله مگرپه دي نه پوهیده چي زه دکومو معلوماتو ته لاس رسي پیدا کولای شم او کو م معلومات خپاره کړم او کوم معلومات دخپریدو وړنه دي او باید دهغې معلوماتو له خپرو لو څخه ډه ډه وکړم مگر اوس ددغه ستونزي دهواري په موخه دژورنالیزم په ډگر کي یو لړ حقوقي او اخلاقي اصولي ذکرشوي دي چي دسرغړوني په صورت کي یو کس ترپوښتنو او گرویگنو لاندي راتلای شي . | | | |
| دکریدیتونو تعداد<br>(Credits and no. of hour): | ۴ کریدت در هفته | عملي(Practical) | نظري(Theoretic) | مجموعه(Total) |
| | | ۲۴ | ۴۰ | ۶۴ |
| تدریسي کال او سمستر<br>(Offering year and | کال ۱۳۹۵اول سمستر; | | | |

| | |
|---|---|
| :(semester | |
| اهداف (Aim) | اهداف درزمينه ي دانش:<br>محصلان د يو سمستر په جريان کې دژورناليزم دحقوقو او خلاقو د مضمون سره اشنايي پيدا کوي<br>دژورناليزم دمسلک حقوقي او اخلاقي برخي په پوره مانا زده کولاي شي ،همدارنگه ديو سمسټر په جريان کي دغه مطالب زده کولاي شي. چي حقوق څه ته وايي قانون څه ته وايي کوم مطالب بايد نشر شي او کو م مطالب نشر جرم دي او همدارنگه کولاي شي چې دوي وپوهيږي چي ديو خپروني دثبت په وخت کي دکومو حقوقي لارو څخه کاروا خلو<br>په نوموړي مضمون کې حقوقي برخي ،قانون بيلابيل ډولونه ،اخلاقي حقونه ،داخلاقو او حقوقو ترمنځ توپير ،مطبوعاتي حقونه ،درسنيو دتاسيسولو حقوقي لاري ،جرمونه ،مطبوعاتي جرمونه او داسې نورمهم موضوعات پکښي راټول کړاي شويدي .<br><br>اهداف درزمينه ي مهارت ها:<br>ددغه مضمون په تدريس سره به دشاگردانو مهارتونه لوړشوي وي اوو به کولاي شي چي دعمل په ډگر کي خپلي ستونزي حل کړي .<br>اهداف درزمينه اخلاق وسلوک:<br>د ژورناليزم دحقوقو او خلاقو مضمون اصلي موخه د دژورناليزم دمسلک دحقوقي او اخلاقي برخي سره اشنا کيدل دي او د دجرمونو په اړه معلوماتو حاصلول دي ،همدارنگه داخلاقي او حقوقي برخو سره د محصل اشنايي په راتلونکي کي د يو تکړه او باتجربه ژورناليست شاهدان وو. |
| ددي زده کړي څخه به يي نتايج څه شي وي ( Key Learnin :(Outcomes | ددغه مضمون دتدريس له لاري به وکولاي شي څنگه به دژورناليزم دحقوق او اخلاقو څخه استفاده وکړي او هم ورته معلوم شي چي دحقوقو او |

| | |
|---|---|
| | اخلاقو په مراعاتو لوسره به په ټولنه کي څو مره تفاوت راغلي دي او ټولنه به د پرمختګ یو بل پړاوته داخله شوي وي . |
| دمضمون اړوند استاد ( Staff Academi Responsible): | پوهیالي عبدالقدیر " جلالي "۰۷۹۳۲۰۴۸۹۵<br>ویبلاګ: jalali2016.wordpress.com |
| مفردات (Syllabus): | **مفردات مضمون؛ دژورنالیزم حقوق او اخلاق**<br>**لومړي اونۍ**<br>۱: قانون<br>**۲: د قانون بېلابېل ډولونه**<br>**۳: د تړون (قراردادونو) قانون**<br>**۴: د مالکیت قانون**<br>**دوهمه اونۍ**<br>**۵: د ترسټ قانون**<br>**۶: د ټورټ قانون**<br>**۷: د جزا قانون**<br>**۸: اساسي قانون**<br>**دریمه اونۍ**<br>۹: حقوق<br>۱۰: دحقوقوتعریفونه<br>۱۱ دحقوقو نظریې |

۱۲: داخلاقو او حقوقو ترمنځ توپیر

۱۳: دمطبوعاتو حقوق

۱۴: لومړي حقوقي نظامونه

۱۵: دپېشګیري نظام

څلورمه اونۍ

۱۶: تنبهي نظام

۱۷: درسنیو دتاسیسولو حقوقي لارې

۱۸: داعلام نامې طریقه

۱۹- دنوم ثبتونې طریقه

۲۰-مختلطه طریقه

۲۱: دوړاندې اجازې اخیستلو طریقه

۲۲: امتیازخاوند

۲۲: مسوول مدیر

پنځمه اونۍ

۲۳: جرم څه ته وایي؟دجرم پیژندنه

۲۴: ژورنالستیکې ذمه وارۍ :

۲۵: دجرمونو په کنترولولوکې ژورنالیزم په زړه پورې ونډه اخیستلای شي

شپږمه اونۍ

۲۶ په جرم کې لاندې درې عناصردبحث وړدي

۲۷ دجرایموډولونه دعمومي مصالحوله مخې

اوومه اونۍ

۲۸ دجرايموطبقه بندي دقانوني عنصرله حيثه: دقانوني عنصرله مخې ټول جرايم په لاندې ډول ويشل شوي دي:

اتمه اونۍ

۲۹: مطبوعاتي جرم

۳۰: مطبوعاتي جرم ځانګړتيا وې

نهمه اونۍ

۳۱: دجرم او تخلف دجزا سيستم

۳۲: دمطبوعاتي جزا په اړه دري نظرېې وجود لري

لسمه اونۍ

۳۳: درسنيو او مطبوعاتي جرمونو په اړه دجزا دقانون مادې

۳۴: دجزا په قانون کې دعلني وسايلو تعريف

يوولسمه اونۍ

۳۵: ځيني قانوني اصطلاحات

۳۶: په افغانستان کې درسنيو دتاسيسولو شرايط

دولسمه اونۍ

۳۷ : درسنيو دتاسيس لارې چارې

۳۸: دامتياز خاوند شرطونه

| | |
|---|---|
| | دیارلسمه اونۍ<br><br>۳۹: دامتیازخاوندان دلاندې شرایطو درلودونکي دي<br><br>۴۰ اخـلاق<br>۴۱ داخلاقوموخه:<br>څوارلسمه اونۍ<br>۴۲ په ژورنالېزم کښې دمسلکي اخلاقونړیوال اصول<br>۴۲ دورځپاڼه لیکونکي مسلکي شرافت<br><br>۴۳ اخلاق په ټولنیزو اړیکوکې<br>۴۴ دخبړنې اخلاق<br>۴۵ د څېړنې ارزښت څومره دی<br>پنځلسمه اونۍ<br>۴۶ د حقایقو د شنې او رپوټ چمتو کولو آرونه<br>۴۷ اعلان او اخلاق<br>۴۸ د انځور خبریالۍ اخلاق:<br>شپاړلسمه اونۍ<br><br>په ټول مضمون باندې یوه لنډ کتنه او د شاګردانو پوښتنو ته ځوابونه ویل |
| مضامین مربوطه قبلي (Pre-requisite): | ددي مضمون څخه مخکي نشته وروسته شته |
| مضامین مربوطه و ارتباط با دیگر مضامین ( Related Courses): | راډیویي پروګرامونو تولید ،ژورنالیزم اساسات |
| روش تدریس این مضمون ( Teaching and Learning | لکچرڅخه استفاده ،ګروپي کار، ، سوال او جواب، شفاهي ،عملي |

| | |
|---|---|
| (methods): | |
| ضرورت یاد گیري کمپیوتر (Computer Knowledge): | دهرمحصل لپاره کمپیوتر ضروري دي ترڅو وتوانیږي دمضمون اړوند سمینارونه جوړ کړي . |
| Course درسي منابع (Materials and References): | |
| | **<u>مآخذ(Reference)</u>**:<br>۱- ادیب همایون، ژباړن،احمدزی ،امیرجان وحید ،<u>پلټونکې خبریالي</u>، خپرونکی ،دانش خپرندویه ټولنه پیښور،۱۳۸۷ ل .<br>۲- باختري،منیژه،<u>اخلاق وحقوق در ژورنالیزم</u>، خپرونکی ،ناصر هوتکي، کابل ، ۱۳۸٦ لمریز.<br>۳- تڼی ، اسدالله ، د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي څخه <u>درسي لیکچرنوټ</u> .<br>٤- ثاقب ریاض ، ژباړن ، سهار، نذیراحمد، <u>نوي خبریالي</u>، خپرونکی،میوند خپرندویه ټولنه،پیښور، ۱۳۸٦ ل .<br>٥- د افغانستان <u>اساسي قانون</u> ،۲٤ ماده .<br>٦- د ټولنیزو رسنیو قانون ، <u>رسمي جریده فوق العاده ګڼه</u> ، ۱۳۸٤ ل ، پرله پسې ۸۷۱ ګڼه .<br>۷- دمجلې اداره، <u>د افغانستان د خبریالانو اخلاقي اصول</u>، مینه (مجله)، خپلواکه کلتوري او هنري خپرونه، اوم کال څلورمه ګڼه ، پرله پسې ۳٤ ګڼه ، ۱۳۸۷ل .<br>۸- ستانکزی ، پوهندوی نصرالله ، <u>د حقوقو بنسټونه</u> ،خپرونکی،سالنګ کتاب خپرونکی،۱۳۷۹ لمریز .<br>۹- ستانکزی ، پوهندوی نصرالله ، <u>د حقوقوویشنه</u> ، خپرونکی،سالنګ کتاب خپرونکی،کابل،۱۳۸۷ ل .<br>۱۰- شاهد،ایس ایم، ژباړن، سهار، نظیر احمد، <u>رسنیزه څیړنه</u>،خپرونکی، د ختیځې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکه ټولنه، ۱۳۸۷ ل .<br>۱۱- شکرخوا،ډاکټریونس، ژباړن ،شینواری، محمدآصف، <u>خبر</u>،دانش |

| | |
|---|---|
| | خپرندویه ټولنه، پیښور، ۱۳۸۵ ل .<br>۱۲- کاتوزیان، ډاکټر ناصر ،مطالعه علم حقوق ومطالعه در نظام حقوقي ایران، خپرونکی،شرکت سهامي انتشار،چاپخانه حیدري، ۱۳۸۳ ل .<br>۱۳- لنګرودي ، ډاکټر محمدجعفر جغفري،مقدمه علم حقوق، خپرونکی، کتابخانه گنج دانش، ۱۳۸٤ ل .<br>۱٤- ممو‌زی، عرب شاه ، ژورنالیستي اخلاق، آواز(مجله)، د افغانستان د ملي راډیوتلویزیون له خپرونو څخه،خپرونکی، مطبعه آزادي، ۱۳۸۷ل .<br>۱۵- مدني،ډاکټرسیدجلال الدین، حقوق اساسي و نهادهای سیاسي جمهوري اسلامي ایران،خپرونکی، چاپخانه علامه طباطبائي ، ۱۳۷۰ل .<br>۱٦- هاله ، پوهاند حبیب الرحمن، ژباړن ، اماني، استاد امان الله ،د ژباړنې اصول ، خاور خپرندیه ټولنه ،۱۳۸۷ ل .<br>-۱۷http//www.article 19. Org/pdfs/standards/righttoknow/pdf<br>۱www.wipo.int/new/en/links/addresses/ip/index.htm |
| دارزیابي طریقه ( **Evaluation Method(s)**): | **صنفي فعالیت اوحاضري (10%)، کارخانګي (5%)، عملي کار(5%) امتحان منځني ازموینه (20%) فاینل امتحان (60%)** |
| دمحصل مکلفیتونه | ۱: **محصل** باید په صنف کي حاضروي<br>۲: **محصل** باید په تدریس کي فعاله ونډه ولري<br>۳: **محصل** باید ټول درسي مواد له ځان سره ولري<br>۴: **محصل** باید راتلونکي درس کتلي وي<br>۵: ټولګي ته باید په خپل وخت حاضروي ، او د**محصل** اړوند ټول اخلاق په ځان کي ولري<br>۶: ورځني عملي کارونه په منظم ډول ترسره کړي |

| | |
|---|---|
| | |
| استاد مکلفیتونه | ۱: په خپل وخت صنف ته تلل<br>۲: صنف ته دپوره اماده گي سره تگ<br>۳:دمحصلینو سره عملي کارکول<br>۴: دمحصلینو ته درسي مواد برابرول<br>۵:کورني دندي کتل<br>۷: ازمویني په ټاکلي وخت اخیستل<br>۸:په ټاکلي وخت دنمرو اعلانول<br>۹:محصلین دتدریس لپاره هڅول |

| | | |
|---|---|---|
| درسي تقسیم او قات (Time Distribution): | | |
| لکچر (**Lecture**): | % 60 | |
| تمرین (Tutorials/exercises): | % 20 | |
| مشخصه موضوع مطالعه کول (Case study): | % 10 | |
| کارخانګي یا مطالعه( Home study): | % 10 | |

مضمون ارتباط ددیپارتمنت له **Relationship of this Course to Program Learning Outcome**): اهدافوسره (

| مهارتونو زده کولا Skills/knowledge | متوسط Moderate | ډیر لږ Some | هیچ None | زیات Extensive |
|---|---|---|---|---|
| دحقوقو او خلاقو مضمون پیژندنه | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| راډیو اړوند معلومات | | | | |
| قانون | | | | |
| حقوق | | | | |
| جرمونه | | | | |
| رسنیو دتاسیسولو لاري | | | | |
| مطبوعاتي جرمونه | | | | |
| ملاحظات Remarks | | | | |

نوموړې کورس پالیسي دځانکې (   ) گنه پروتوکول ۱۳۹۵\۱   \   \   ثبت او تایید دي

دژورنالیزم دځانگې آمر

پوهیالي عبدالوهاب رحیمي

## قانون

ددهخدا په فرهنګ کې قانون داصل په معنی راغلی دی او ځینې لغت پېژندونکی په دی باوردی چې قانون په اصل کې عربي کلمه نه ده بلکې دکانون معربه بڼه ده چې په عربي ژبه کی دبنیاد او قاعدې په معنا کارول کیږي .همدارازپه اصل کې دکانون کلمه په لرغونی یونان کې دقاعدې او دستور په مانا کارول کېده او هغه مهال کلیسایی حقوق په دې نوم پېژندل کیدل .

دکانون کلمه دخط کش او چوکاټ په معنا سره هم کارول شوې ده .

دژوند په هره دوره کې قانون دانسانانو لپاره یو بنسټیز ضرورت او اړتیا بلل شوې دقانون په نشتوالی کې دټولنیز ژوند نظم خرابیږی او په دغه ډول ټولنوکې بې عدالتی او ظلم دعدالت او حق ځاي نیسي .

انسان یو ټولنیز مو جود دی او دخاوریني نړی دغه مو جود په ټولنه کی دژوند کولو لپاره ناچاره دی ترڅو دیو لړ قواعدو او مقرراتو څخه پیروی وکړي او دټولنیز ژوند نظم مختل نه کړی .

او داجتماعی کیدو ارزښت په دې کې وي چې دانسانانو ترمنځ خپل منځي همکاري رامنځته کوي او کله ناکله دتعارض ،اختلاف او منازعې لامل هم ګرځي ،چې په پایله کې دافرادو ګټې دځینو نوروافرادو دحقوقواو ګټو مانع ګرځی چې په دغه صورت کې

قانون دحقوقو څرنګوالی څیړي او هغه ستونزې چې دافرادو داستحکاک په نتیجه

کې رامنځته کیږي ،دوضعه شوي قانون په چوکاټ کې وڅیړي .

قانون دمقننې قوې له خوا وضعه کیږي او دیوې ډلې خلکو لپاره حقوق تعینوي پرته

لدې چې دطرفینو اراده پکښې شامله وي لکه دمیراث او داسې نورقوانین .

قانون پوهان دقانون کلمه داسې تعریفوي :

قانون له هغه کلی اصل څخه عبارت دي چې دټولنیزو اړیکو دتنظیم په موخه دټولنې

دافرادو او واکمن هیت له خوا منل شوې او اجرایوي ضمانت هم ورته وجود ولري .

## د قانون بېلابیل ډولونه

**قانون د قواعدو ټولګه ده چې د یو با صلاحیته ارګان له خوا نافذ شوی وي. سیاست ، اقتصاد او ټولنه ددغو قواعدو پر بنسټ د بېلابېلو لارو څخه تنظیمیږي او همدارنګه قانون د یو لومړني ټولنېز منځګړی په توګه د خلکو ترمنځ اړیکې ځاري. حقوق او قانون د برابرې ، انصاف او عدالت په باب ډیر ارزښتمند او پیچلي مسائل تر څیړنې لاندي نیسې. ارسطو د یونان فیلسوف د میلاد نه ۳۵۰ کاله وړاندې لیکلی دي : " د قانون حاکمیت له انفرادي حاکمیت ځنې غوره دي "**

**قانوني سیسټیمونه حقوق او مسئولیتونه په بېلا بېلو بڼو روښانه کوي. د مدني حقوقو او کامن لا (Common Law) سیسټیمونو ترمنځ عمومي توپیر دادي چې مدنې حقوق خپل قوانین تدوینوي حال دا چې د کامن لا په سیسټیم کې په یوه ځانګړي محکمه کې د قاضیانو په لاس جوړ شوی قوانین تطبیقیږي چې کیداي شي دا قوانین په نورو محکمو کې د تطبیق وړ نه وي. په حقوقي ، فلسفي ، اقتصادي او یا د ټولنپوهنی په تحلیلونو کې قوانین د علمې څیړنو لپاره یوه ډیره بډایه سرچینه ده. په یوه ولسواکۍ کې د قانون ایجاد او تفسیر مرکزي بنسټونه د دولت دري بنسټیز قواوي دي: د بي پري قضا،**

منتخب پارلمان او داسي اجرائیه اداره چې د حساب ورکولو وړتیا ولري. د قانون د نافذولو او وګړو ته دعامه خدماتو ورسولو لپاره په دولتي بیوروکراسۍ کې د اردو او پولیسو ونډه د پام وړ ده پداسي حال کې چې د دولت دغه بنسټیز ارګانونه د قانون پواسطه منځ ته راغلي او سره تړلي دي. ، د قانون خپلواکه کار پوهه اداره او مدني ټولني دقانون پرمختګ تر څارنې لاندي نیسي.

د تړون (قراردادونو) قانون (Contract Law): د بس د یو ټکټ څخه نیولې د سوداګري د ډیرو لویو او پیچلو اړیکو او راکړو ورکړو پورې د څارنې دنده پر غاړه لري.

د مالکیت قانون (Property Law): پدي قانون کې وګړو ته د ملکیتونو د انتقال په اړه حقوق او مسئولیتونه ور پیژندل کیږي.

د ټرسټ قانون ( Trust Law): د هغو شتمنیو لپاره چې په پانګه اچونه کې کارول کیږي، قوانین وړاندي کوي او مالي امنیت هم ترغور لاندي نیسي .

د ټورټ قانون ( Tort Law): که چیرې د یو کس حقوقو او ملکیت ته زیان ورسیږي، او دغه زیان جرم وګڼل شي، د ضرر د جبران لپاره قوانین وړاندي کیږي.

د جزا قانون ( Criminal Law): د مجرم د محاکمه کولو لپاره لارې چارې بیانوي.

اساسي قانون ( Constitutional Law): د قانون د جوړولو لپاره یوه سرچینه ، د بشري حقوقو د خوندي کولو او د خلکو د استازو د ټاکلو لپاره یو لارښود دي.

د اداري قانون(Administrative Law ): د حکومتي ادارو پر پریکړو د څارني قوانین وړاندي کوي.

نړیوال قانون (International Law ): د خپلواکو هیوادونو تر منځ اړیکې او راشه درشه تنظیموي چې پدې کې سوداګرې،د چاپیریال ساتنې په هکله قوانین ، نظامي خوځښتونه او داسې نور شامل دي.

## حقوق

د بشري ژوندانه د ودې لپاره د ځيني داسې شرطونو شتون اړين دی چې له مخې يې يو سړی د بل چا په خصوصي چارو کې بې ځايه مداخله و نشي کړی. دا حق نه يوه سړي ته ورکول کېدی شي او نه هم کومې ادارې يا دولت ته ، په بله مانا هر يو سړی بايد په خپلو شخصي چارو کې پوره ازادي ولري او هغه ته بايد ددې ازادۍ ضمانت ورکړ شي. د شخصي ازادۍ لپاره چې د کومو شرطونو شتوالی اړين دی هغوی ته حقوق وايي. حقوقو ته يواځې هغه مهال په سمه توګه حقوق ويل کېدی شي چې څوک د دغو حقوقو د پايمالولو اجازه ونه لري. ښکاره خبره ده چې دا ډول ضمانت حکومت ورکولی شي. په دې ډول حقوق د شخصي ژوندانه د خپلواکۍ او د هغه د ودې هغه اساسي شرطونه دي چې حکومت يې هم مني او هم د هغوی د بقا او سلامتۍ بشپړ ضمانت ورکوي

حقوق دحق جمع ده چې په پښتو ژبه کې دوړ ، روا او دباطل ضد په معنا سره راغلي .

حقوق ديولړ کلی او لازمی قواعدو ټولګه ده ،چې موجوديت يې دټولنيز نظم دايجادولوله پاره اړين بريښي ،چې دغه قواعد ددولت او حاکمې قانوني قوې له خوا اجرا کيږي

**دحقوقوتعريفونه** :-.

د دنيا مختلفو پوهانو د حقوقو مختلف تعريفونه کړي دي چې يو يو يې په لاندې ډول بيانوو.

۱- ها لينډ : له حق څخه مراد د يو چا هغه صلاحيت دی چې له مخې يې هم د ټولنې رايه او طاقت د نورو کړه وړه قابو کړي.

۲- لاسکي: حقوق د ټولنيز ژوندانه هغه شرايط دي چې له هغوی څخه پرته د ټولنې وګړي د خپل شخصيت ښه اظهار نشي کولی.

۳- ولډ: حق د خپلواکۍ معقوله دعوه ده چې پر مټ يې يو څه کيدلی شي

۴-:ټي ايچ ګرين

حق داسې اعتبار دی چې د عامه ګټو لپاره اړين ګڼل کيږي.

باب هاوس: حقوق هغه دي چې موږ يې هيله له نورو څخه کوو او نور يې له موږ څخه توقع لري

5. ټول: ريښتيني حقونه د ټولنيز ښه والي لازمي شرطونه دي

## دحقوقو نظريې (Theories of Rights):-

د حقوقو په اړه چې کومې مختلفې نظريې وړاندې شوې دي په هغو کې د نورو نظرونو په ډول اختلافي او ارتقايي کار په مخ کې راځي. ځکه چې د مختلفو سياسي نظرونو او د هغوی د خنډونو په سوب د ازادی تصور په مختلفو ډولونو انځور شوی دی. په اروپا کې چې دحقوقو کوم تصور دی هغه تصور په کمونيستي هيوادونو کې نشته. په ولسواکۍ کې د حقونو په اړه شته نظريات په آمريت کې نه ليدل کيږي. ددغه اختلافونو په سوب عالمان هم د حقوقو په اړه مختلفي رايې لري چې په لنډ ډول يې وړاندې کوو.

## دفطري حقونو نظريه :-

فطري حقوق د حقوقو په نظرياتو کې لومړۍ درجه لري. له دې نظريې سره سم بشري حقوق پر فطري قانون باندې مبني ګڼل شوي دي. د اتلسمې او نولسمې عيسوي پيړۍ ځيني مفکرين او د شلمې پيړۍ ډېری سياسي مولفينو د شخصی خپلواکيو د خوندي کولو د فطري حقوقو ملاتړ وکړ. د هغوی په وينا بشر خپل ټول حقونه د خپلې زوکړې پر مهال له ځانه سره راوړي. که دولت هغه مني اوکه نه، د هغوی ارزښت نه اغيزمن کيږي. د فرانسوي پوه بوډن د ټولواکۍ په تصور کې د ابهام ستر سوب دا و چې په فکري ډول د ټولواک د مطلق العنانيت په منلو سربېره يې د هغه په واک باندې د فطري حقونو، د ژوند حق ، د جايداد حق او د خپلواکۍ په حق باندې بنديزونه و لګول. د هغه په آند فطري حقوق د کورنۍ د ژوند له پيل سره سم وپنځېدل. سياسي مفکر لاک هم د حکومت د کار د محدودولو لپاره د طبعي حقونو نظريه وکاروله. نوموړی د فطري حقونو په لوړوالي دومره قايل دی چې د فطري حقونو ساتنه د دولت د تخليق يو کار فرما عمل ګڼي. د لاک نظريات د بشر د حقونو په منشور او د امريکا په اساسي قانون کې بنسټيز حيثيت لري. دغې نظريې د بشر د حقونو په نوې اساسي نظريه کې ډېرستر رول ولوباوه.

## ۲-:اخلاقي حقونه

د اخلاقي حقوقو نظريه د حقوقو له پخوانيو نظرياتو څخه يوه ده. ددې نظريې له مخې حقوق اکثرا په مروجو ي. ددې د پلي کولو لپاره د مکافاتو او مجازاتو لپاره کومه قوه نه وي بلکه عامه رايې يې ټولنيزو اقدارو باندې ولاړ و

خپله پلي کوي. دا حقونه هر ځای شته ليکن کوم قوانين چې د حقونو د قوانينو برخه نه وي هغه يواځې د ژبې حيثيت لري نه د قانون. دا حقوق د فطري قانون برخه هم دي.

۳-د تابعت حقونه: دا هغه حقوق دي چې د اتباعو له مراعاتو سره اړيکې لري او دولت يې په خپله اتباعو ته ورکوي او مني يې او د هغوی د حقونو ساتنه کوي. د مفکرينو په آند دولت د دغو حقوقو په اړه دوه ډوله قوانين پلي کوي : ۱- خصوصي قانون ۲- عوامي قانون ارنيسټ بارکر د تابعت د حقوقو په هکله وايي چې دا هغه حقوق دي چې له فطري کړو وړو سره اړيکې لري او له غير قانوني قيد وبند څخه ازاد دي. او په سيميزو حدودو کې هر ځای چې وغواړي ژوند کولی شي . دا داسې حقوق دي چې د فکر له ازادۍ او عملي چارو سره تعلق لري لکه مذهبي اعتقادات او وجدان، د رايې اظهار ، د روزګار حق، د تجارت او صنعت ازادي او نور

داقتصادي حقونو نظريه :-

د ولسواکۍ د نظام له ودې سره سم د سياسي حقوقو نظريه را پيدا شوه. ددې نظريې مطابق حکومت د ټولنې برخه وي. عوام حکومت جوړوي او حکومت د عوامو استازو ته ځواب وايي. د حکومتونو په بد لېدو کې هم د عوامو خوښه چلېږي او عوام د حکومت په ټولو فعاليتونو او پاليسيو باندې د انتقاد حق لري. ځکه چې ولسواکي د حکومت داسې يو شکل دی چې هره تبعه يې له نسلي ، مذهبي او ګوندي امتيازاتو پرته په سياسي فعاليتونو کې برخه اخيستلی شي. د اتباعو د غه حق په سياست کې د هغوی برخه اخيستل ښيي. د لاسکي په وينا له سياسي واک څخه محرومي په حقيقت کې له دغو اختياراتو سره د تړليو ګټو څخه د محرومي مترادف ده. په سياسي حقوقو کې د رايې حق، په ټاکنو کې د برخې اخيستنې حق ، د دولتي مناصبو حق د سياسي ګوند جوړولو حق او نور دي

**داتباعو بنسټيزحقوق**(Fundamental Right of citizens).

---

په اوسني وخت کې اتباع دوه ډوله حقونه لري. چې لومړی يې اخلاقي (Moral ) او دوهم يې قانوني (Legal) دي. دلته زموږ منظور له دوهم ډول څخه دی. ځکه چې دا حقونه په دولت کې ټولو اوسېدونکو افرادو ته ورکول کېږي. دا څلور برخې لري چې عبارت دي له مدني حقونو ، مذهبي حقونو ، اقتصادي حقونو او سياسي حقونو څخه.

د ملګرو ملتونو د بشر د بنسټيزو حقونو په چارټر کې اقتصادي حقونه ، سياسي حقونه، مذهبي حقونه، مدني حقونه او د تابعت حقونه ليکلي دي چې په لنډ ډول يې بيانوو.

۱-د ژوند کولو حق: دا د بشر بنسټيز حق دی. بشر دولت ځکه جوړوي چې د هغه ژوند وژغوري ځکه چې د ټولنې ټولې لوړې او ژورې په ژوندانه پورې تړلې دي. دا د دولت دنده او د اتباعو حق دی چې ساتنه يې وشي.

۲-:د جايداد(شتو) حق

د بشر د ورځني ژوند، او استعدادونو د ودې او ټولنيزو لېوالتياوو لپاره جايداد ډېر مهم دی ځکه نو د بشر د جايداد ساتنه هم په بنسټيزو حقونو کې شامله ده.

۳-د کورنۍ يا خاندان حق: کورنۍ د بشر د ژوند اساسي واحد دی او ښه جوړښت يې ښه ټولنه منځ ته راوړي. د واده ، طلاق، ميراث او اولادونو په اړه دولت نه يواځې انسان ته خونديتوب او مصونيت ورکوي بلکه د هغوی په اړه قوانين هم جوړوي.

۴-د ليک او بيان حق: ليک او بيان د بشر د فطري ازادۍ اظهار دی. ليک اوبيان چې په کوم ځای کې د ولسواکۍ د بري ذريعه ده په همغه ځاې کې د مطلق العنان حکومت د مخنيوي لاره هم ده. داحق د بشر د رايې اظهار هم دی. دا حق د ولسواکې ټولنې برخه ده.

۵-د انجمن جوړولو حق: انجمن جوړونه د ازادي ټولني خوی دی. وګړي د خپل زور او قوت په يو ځای کولو اود خپلې رايې او ږغ د اغېزمنولو لپاره انجمنونه جوړوي. چې د منظم منشور لرونکي وي. دوی د اجتماعو ، اجلاسونو او عامو جلسو په توسط خپل خيا لات څرګندوي.

۶-د زده کړې حق: زده کړه د هر انسان اساسي حق دی او هر حکومت دنده لري چې د بشر دغه بنسټيز حق ومني او اسانتياوي ورته و لټوي.

**مذهبي حقوق** (Religious Rights):-

۱-:د مذهب اوعقيد ې د ازادۍ حق

دا د هر دولت د اتباعو حق دی چې د خپلې عقيدې يا مذهب سره سم ژوند وکړي او پر هغوی باندې د مذهب د بدلون په خاطر فشار را نه وړل شي.

۲-د عبادت حق: دولت دنده لري چې هر وګړي ته له خپل مذهب اوعقيدې سره سم د عبادت کولو حق ورکړي .او ځوک يې په مخ کې خنډ ونه ګرځي

۳-.د تبليغ حق: هر سړی بايد د مذهب په سطح پرته له کوم فشار څخه د تبليغ کولو اجازه ولري

**اقتصادي حقونه** (Economical Rights):

۱-د کار د وختونو ټاکل: هر کاريګر وګړی حق لري چې حکومت يې د کار کولو د وختونو ساتنه وکړي . کچېرې کومه اداره غواړي چې له کارمن نه يې تر ټاکلي وخت زيات کار واخلي نو د زيات کار په مقابل کې بايد حق الزحمه .ورکړي

۲-له بېکار څخه ساتنه: د کار له اجورې نه پرته کاريګر بايد په کار کولو باندې مجبور نه کړی شي او کاريګر . بايد له بېکار کېدلو څخه وژغورل شي او بېکار کوونکو ته بايد سزا ورکول شي

معقول معاش: حکومت بايد معاوضې او معاشونه وټاکي اود کار د معقولو معاوضو او معاشونو ساتنه ۳-.وکړي

۴-د نقل و حرکت د ازادۍ حق: د هر دولت اتباع بايد په دولت کې هر ځای ته د تګ او راتګ او د نقل وحرکت ازادي ولري او هر چېرې چې غواړي استوګنه کولی شي او د کوم جرم له ارتکاب څخه پرته بايد بندې او يا توقيف .نه کړی شي

۵-د معاهدې حق: دولت بايد د افرادو تر منځ په تجارتي او اقتصادي چارو کې د معاهدو ساتنه وکړي او د .عوامو ددغه حق احترام وکړي

۶-:د ژبې او کلتور (ثقافت) حق

هر انسان له خپلې ژبې او کلتور سره مينه لري ځکه نو هغه ته بايد دا حق ورکول شي چې په خپله ژبه ليک .لوست او خبرې وکړي اوله خپل کلتور سره سم ژوند وکړي

۷-:د قانون حاکميت

له دې څخه مطلب دادی چې ټول اتباع بايد له قانون سره سم د ساتنې مساوي حقونه ولري. او هغه په قضا کې له کوم توپير څخه پرته په نورو خپل حق و مني.

:۸- د عزت حق

عزت د انسان معیار دی ځکه نو انسان په دې اړه په ځانګړي ډول ډېر حساس وي . دولت دنده لري چې د انسان ددې حق ساتنه وکړي.

۹-د خط او کتابت د اخفاء حق: حکومت دنده لري چې د اتباعو تر منځ کېدونکی خط وکتابت پټ وساتي او هغه ښکاره نه کړي.

**سیاسي حقوق** (Political Rights):

۱-د رایي ورکولو حق: په ولسواکۍ کې دا د وګړو سیاسي حق دی چې په ټاکنو کې د رایې ورکولو د حق ساتنه ورکړل شي تر څو د خپلې رایې اظهار وکولی شي.

۲-د استازیتوب حق: کچېرې د دولت کوم تبعه د استازیتوب استعداد ولري نو هغوی ته باید په ټاکنو کې د نوماند کېدلو یا کاندیداتورۍ حق ورکول شي.

۳-د حکومتي چوکیو حق: کچېرې د دولت اتباع د یوې چوکۍ لپاره اړوند استعداد ولري نو هغوی ته باید په دولتي چوکیو کې مساوي حق ورکول شي تر څو له خپلې وړتیا څخه ګټه واخستلی شي.

۴-پر حکومت باندې د نیوکو کولو حق: دا د هر وګړي حق دی چې په ولسواکه حکومت کې د حکومت په فعالیتونو نیوکه وکړي او حکومت یې باید مخنیوی ونه کړي.

۵-:په نورو هیوادونو کې د ساتنې حق

له هیواد څخه د د باندې وتلو په صورت کې د اتباعو د ژوند او شتو ساتنه د دولت په غاړه وي.

۶-د مظاهرو حق: کچیرې حکومت د اتباعو ټولنیز، سیاسي ،مذهبي یا اقتصادي حقونه سلب کړي نو اتباع باید د مظاهرو او لاریونونو حق ولري.

د هر حق په بدل کې یوه دنده هم شته (Every Right has a corresponding duties ):دهر حق په بدل کې یوه دنده هم شته – دایوه مشهوره خبره ده او پر حقایقو مبني هم ده ځکه چې په بشري ټولنه کې که انسان په ارادي یا غیر ارادي ډول څه تر لاسه کوي نو په عوض کې یې څه نا څه شی هرومرو له لاسه ورکوي. د بېلګې په ډول که ټولنې ته اخلاق وړاندې کوي نو عزت تر لاسه کوي ، که پیسې ګټي نو کار کوي او که دروېزه کوي نو غیرت او

وجدان سوداکوي. په دې ډول هر انسان له ټولنې څخه د یوه نه یوه حق غوښتونکی وي. په دې ډول که د ځان او شتو د ساتنې حق غواړي نو په بدل کې یې مالیه ور کوي ، د نورو د حقونو احترام کوي ، د حکومت د قوانینو تابع اوسي. لنډه دا چې که په یوه لاس باندې څه تر لاسه کوي نو په بل لاس څه نه څه خامخا له لاسه ورکوي. ددې جملې مفهوم چې د هر حق په بدل کې یوه دنده هم شته دا چې که څوک کوم حق تر لاسه کوي نو نورو ته هم ځینې حقونه ورکوي.

## په اسلام کې بنسټیزحقوق(Fundamental Right in Islam):

اسلام بنسټیز حقونه په بشپړه توګه له طبعي غوښتنو سره همغږي کړي دي چې له لاندې نکتو څخه .معلومېږي

۱. د ژوند حق: اسلام د بشر ژوند ته په ډېر احترام قایل دی . د یوه انسان وژل یې د ټول بشریت وژنه بللې ده. په قرآنکریم کې الله (ج) د انسان وژنه یو دروند جرم بللی دی. الله (ج) نه یواځې انسان د نورو انسانانو له وژلو څخه منعه کړی دی بلکه د خپل ځان په هلاکت کې د نه اچولو حکم یې هم ورکړی دی. الله (ج) فرمایي: ژباړه: او (: خپل ځانونه مه قتلوئ ( النساء

۲-د نورو د حقونو احترام: هر سړی دنده لري چې د نورو د حقونو درناوی وکړي . ددې کار په سوب په ټولنه کې د انتشار او تخریب فضا له منځه ځي.

۳- له نورو سره مرسته او ګډون: هر شخص دنده لري چې په ټولنه کې له نورو خلکو سره د ښېګنې په کارونو کې مرسته او ګډون وکړي. په ستونزو کې له نوروسره مرسته: که کوم سړی غریب او یا ناروغه وي نوهر انسان باید د هغه خدمت وکړي.

۴- د خصوصي ژوندانه حق: په اسلامي دولت کې د دولت اتباع د خصوصي ژوند کولو حق لري. د کور څلور دېواله یوه خوندي کلا بلل کېږي چې څوک پکې د داخلېدو حق نه لري. الله (ج) فرمایي : اې خلکو چې ایمان مو راوړی دی. له خپلو کورونو څخه پرته د نورو کورونو ته مه دا خلېږئ تر څو پورې چې مو د کور له خاوندانو نه اجازه نه وي اخستې او د کور خاوندانو ته سلام مه وراچوئ. دا طریقه ستاسې لپاره بهتره ده. امید دی چې تاسې به ددې خیال وساتی. ( النور ) ۴- د شخصي ازادۍ حق: په اسلام کې د دولت هر سړی په شخصي توګه د ژوند کولو حق لري. هیڅ یو تبعه په قضا کې د جرم د اثبات څخه پرته نشي بندي کېدلی. الله (ج) فرمایي : ژباړه : د یوه انسان کار دا نه دی چې الله (ج) خو هغه ته کتاب ، حکم او نبوت وروبښي او هغه خلکو ته ووایي چې د الله (ج) پر ځای

تاسې زما غلامان شئ. (آل عمران) . ژباړه : کله چې د خلکو تر منځ پرېکړه کوئ نو په انصاف سره پرېکړه وکړئ. (النساء) په اسلام کې له معقولې لارې پرته نه څوک چاته سزا ورکولی شي او نه يې په بندي کولو سره له ازادۍ څخه محروموﻟﯽ شي.

۵- د رايې د اظهارولو حق: په اسلامي دولت کې اتباع د خپلې رايې اظهار کولی شي. الله (ج) فرمايي: ژباړه: هغوی د نيکي کولو حکم ورکوي او له بدو کارونو څخه مو منعه کوي ( آلعمران) اسلام د رايې د اظهار لپاره دا حد مقرر کړی دی چې مسلمان دا ازادي يواځې دنيکۍ د ودې لپاره کارولی شي. د بدو کارونو د خپرولو لپاره د ا ازادي نشي ورکول کيدی.

۶- د ظلم پر ضد د غږ اوچتولو حق: په اسلامي دولت کې وګړي حق لري چې که په دوې ظلم کيږي نو پر خلاف يې غږ پورته کړي او له ظالم څخه ونه ډاريږي. الله (ج) فرمايي: ژباړه: او له حدودو څخه د وتونکو اطاعت مه کوئ (الشعراء) د رسول الله ﷺ حديث مبارک دی چې : تر ټولو غوره جهاد د جابر سلطان په مخ کې د حق ويل دي . په يوه اسلامي دولت کې هيڅ يو حکومت د بيان پر ازادۍ باندې بنديز نشي لګولی ځکه چې داسې کول د هغه حق سلبول دي چې د الله (ج) له خوا څخه ورکول شوی دی.

۷- د مذهب حق: په اسلامي دولت کې هر شخص بايد د مذهب ازادي ولري په دې اړه د الله (ج) ارشاد دی: ژباړه : د دين په چارو کې هيڅ جبر نشته – سمه خبره له غلطو خيالونو څخه بېله کړل شوې ده. (البقره) ژباړه: اې نبي(ص) نصيحت کوه ته يواځې نصيحت کوونکی يې .په هغوی باندې جبر کوونکې نه. ( الغاشيه ) اسلام د عقيدې د ازادۍ په معامله کې يواځې دا هدايت نه دی کړی چې ته په چا جبر وکړې بلکه دا حکم يې هم کړی دی چې د چا زړه مه ازاروه. د هغوی معابدو ته بد مه وايه ( الانعام)

۸- د مساوات حق: اسلام ټول انسانان سره مساوي ګڼي . په ټولنيز ژوند کې هم د دوی په منځ کې له تقوی او پرهېزګارۍ پرته د فضيلت بل معيار نشته. اسلام د ايمان پر بنسټ ټول مسلمانان سره ورونه بللي دي او د دوی تر منځ يې بشپړ مساوات قايم کړی دی. الله (ج) فرمايي : ژباړه : ټول مسلمانان سره ورونه دي ( الحجرات) د حجت الوداع په وخت کې رسول الله (ص) وفرمايل: نه يو عرب په عجم باندې او نه هم کوم عجم په عرب باندې ، نه تور په سپين او نه سپين پر تور باندې له تقوی او پرهېزګارۍ څخه پرته کوم فضيلت لري. ۹- د انصاف حق: د اسلامي دولت ټولو وګړو ته د انصاف حق ورکول شوی دی. اسلامي دولت ددې لپاره منځ ته راغلی چې په ټولنه کې عدل منځ ته راشي. الله (ج) خپل نبي (ص) ته هدايت ورکوي: ژباړه : • او ما ته حکم راکړشوی دی چې ستاسې په منځ کې

عدل قایم کړم. ( الشورى) • اې محمد (ص) هغوی ته ووایه چې زما رب خو د ریښتیا او انصاف حکم کړی دی ( الاعراف) • عدل مه یواځې قایموئ بلکه د هغه بیرغ د اوچتولو لپاره بشپړ قوت صرف کړئ • کله چې د خلکو تر منځ منځګړتوب کوی نو په عدل سره یې وکړئ ( النساء) • کله چې خبرې کوی په انصاف یې کوئ که څه هم ستاسې د خپلوانو وي. (الانعام) رسول الله (ص) فرمايي چې د عادل امام یوه ورځ د اویاوو کلونو له عبادت څخه بهتره ده. اسلام بډای او غریب ، اعلی او ادنی ته د قانون په آند مساوي حیثیت ورکړی دی او د انصاف بنسټیز حق یې د ټولو لپاره سهل الحصول جوړ کړی دی. د اجتماع حق: په اسلامي دولت کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د بنسټیز شرط تر څنګ اتباعو ته د ګوندونو جوړولو او اجتماع حق هم ورکړ شوی دی. الله (ج) فرمايي: ژباړه: تاسې بهترین امت یاست چې خلکو ته د هدایت او اصلاح لپاره پیداکړشوي یاست. تاسې د نېکۍ حکم ورکوئ له بدو کارونو څخه منعه کوئ او پر الله (ج) باندې ایمان ولرئ (آل عمران) ۱۱- د نقل و حمل ازادي: په اسلامي دولت کې د نقل و حمل ازادي ټول اتباع لري. هغوی په خپله خوښه چېرې چې غواړي استوګنه غوره کولی شي. الله (ج) خپلو بندګانو ته د استوګنې د ځای پرېښوولو او نقل و حرکت ازادي ورکړې ده. الله (ج) فرمايي: ژباړه: څوک چې د الله (ج) په لار کې هجرت وکړي هغه په ځمکه کې د پناه اخیستلو لپاره ډېر ځای او د وختونو تېرولو لپاره لوی ګنجایش پیداکوي. (النساء ۱) ۱۳.د معاوضې حق: په اسلامي دولت کې مزدورانو ، بزګرانو او نورو زیارکشو خلکو ته دا حق ورکول شوی چې بېګار ونه نیول شي . د هغوی د زیار معقوله معاوضه و رکړل شي، له هغوی سره ښه سلوک وشي. مزدورانو ته هم پکار ده چې د کار لوري ته پوره توجه وکړي. د رسول الله ( ص) ارشاد دی چې مزدورانو ته دې دومره مزدوري ورکول شي چې د هغه وخت د حالاتو مطابق وي، مناسبه وي او هغوی پرې خپلې اساسي اړتیاوې پوره کړی شي.هغوی فرمايي: د مزدور مزدوري د هغه د خولې له اوچېدو څخه مخکې ورکړئ او له اجورې ورکولو پرته کار مه پرې کوئ. ۱۳- په سیاسي ژوندانه کې ګډون: په اسلامي دولت کې هر مسلمان ته د هیواد په امورو کې د ګډون پوره حق ورکول شوی دی آلله (ج) فرمايي: ژباړه: او د مسلمانانو کار په خپل منځ کې په مشورې سره چلېږي (الشورا) ژباړه: اې پیغمبر(ص) له هغوی څخه ( مسلمانانو څخه) په خپلو کارونو کې مشوره واخله. په اسلامي دولت کې وګړي او د هغوی استازي د تنقید ، اختلاف او د رایې د اظهار ازادي لري. عوام حق لري چې وغواړي یو څوک حکومت وکړي او چې نه یې غواړي د حکومت له منصب څخه یې بېل کړي. ۱۴- د اقتصادي ساتنې حق: اسلام افرادو ته د اقتصادي تحفظ او خوشالۍ لپاره په عملي تدبیرونو باندې تاکید کړی دی. • هر شخص ته یې په اقتصادي هڅو کې د پوره برخې اخیستنې تلقین کړی دی. • د حلالو او حرامو تر منځ یې بریدونه تعین کړي دي تر څو په ټولنه کې ټولنیزې بدۍ له منځه ولاړې شي. • په غیر شرعي مصارفو باندې یې د

عوایدو لګول منعه کړي دي. • دولت دنده لري تر څو د حرام کسب ور ونه یادروازې وتړي او د حلال کسب دروازې پرانیزي.

## داخلاقو او حقوقو ترمنځ توپیر

کله چې داخلاقو په علم او فلسفه نظرواچول شی نو داڅرګندیږي چې اخلاق هغه قاعدې او ارزښتونه دي چې انسان یې ددولت او قانوني مداخلې پرته ښیګڼې ته درسېدلو له پاره عملي کوي .

په دې سربېره چې دغه ارزښتونه دحقوقي او قانوني لارو څخه نه عملي کیږي ولې بیاهم دقانون دایجادولو له پاره یو جوهرشمېرل کیږي .

دختیځ ستر فیلیسوف ابن سینا په دې باوردی چې اخلاق یوازې دندې نسبت ده ته مطالعه کوي اما کولي شي چې دیو مهم عامل په توګه دقانون په تعینولو کې رول ولوبوي .

دایراني حقوق پوه ناصرکاتوزیان له انده اخلاق هغه پدیده ده چې قانون یې پرپایو استواردي نو په دې اساس قانون جوړونکي نشی کولی چې داخلاقي ارزښتونو څخه غفلت وکړي ځکه چې قانون داخلاقي ارزښتونو یوانځوردی او هرحقوقي نظام په خپله خواکې اخلاقي نظام هم لري چې غاړه غړه وی  حرکت کوي .

هغه څه چې نشو کولای ،چې انکارترې وکړو هغه داخلاقو او قانون ګډ هدف دي چې په ټولنه کې دښه ژوند کولو او نظم راوستل او نیکو کړنو ته دبشر لارښوونه کول دي او په دې دواړو علومو کې فردي او شخصي خصوصیات ځاي نه لري .

ځینې په دې باوردي ،چې عموما قوانین داخلاقي ارزښتونو او په ټولنه کې له مروج عرف څخه سرچینه اخلي چې له مخې یې ځینې اخلاقي ارزښتونه دقوانینو په متن کې هم راوړل کیږی او داهغه دوه مهم عوامل دي چې دانسان کړنې په یوه ځانګړي چوکاټ کې تنظیموي او ددې ښکارندوي کوي چې کوم م څیز ښه او کوم کاربد دی او انسان ترکومې اندازې آزادي لري ترڅو دنورو حقوق پایماله نه کړي .

داخلاقو او حقوقو ترمنځ دتوپیرونو پرتله ورتوالي ډیرلیدل کیږي او ډیر حقوقي مقررات اخلاقي شمیرل کیږي لکه دنورو په ناموس او دخلکو دشته نه غلا کول .

دورته په خواکې داخلاقو او حقوقو ترمنځ ډیر توپیرونه هم وجود لري .

دحقوقي قوادعدو شاخصونه عبارت دی له اجرایو ي ضمانت ،کلی توب او لازمي والي او دحقوقو له اجتماعي توب څخه خو بنستیز توپیر یې بیا په دوه ټکیو کې اجرایو ي ضمانت او دحقوقو مراعتولوته دافرادو مسولیت دي .

داخلاقو او حقوقو مهم توپیر دقانون اجرایوی قوه ده چې هرشخص په خپل هیواد کې دنافذ قانون څخه سرغړونه وکړي او قانون دخپل اجرایوي ځواک په مرسته

موضوع تعقیبوي اوسرغړونکي شخص ترقانوني پوښتنې لاندې راولي ،ولې که چېرې یوشخص داخلاقو خلاف عمل ترسره کړي ممکن دخپل وجدان په وړاندې دشرم احساس وکړي او دټولنې عامه افکاردده په وړاندې منفي بڼه خپلوي .

اخلاقي ارزښتونه دالهی الهاماتو اودفردي او ټولنیز وجدان څخه سرچینه اخلي په داسې حال کې چې ډیر حقوقي قواعد دانسانانو دازادې ارادې زیږنده وي .

ځینې کارپوهان اخلاقي مسایل دحقوقو سره یوځاي کوي خو له دې نظر یې سره بیا ډیر دفکرخاوندان موافق ندي ځکه چې داممکنه نده چې ټول اخلاقي موارد دې دپراخو ابعادو په لرلوسره دقانون په چوکاټ کې ځاي کړی شي دبېلګې په ډول ایا داممکنه ده چې یوشخص دې په حقوقي لحاظ په دې ګرم وګڼل شي چې دخپل ناروغ ګاونډي پوښتنه یې نده کړي او یایې هم په لارویانو باندې سلام ندي اچولي همداراز په هیڅ قانون کې دغیبت کولو له پاره جرم ندي تعین شوي داټول هغه څه دي چې ددواړه پدیدو له پاره اجرایوي ضمانت مشخصوي داسې چې حقوق دقانون له لارې دځواک او فشار په مرسته تطبیقیږي او برعکس اخلاق اجرایوي ضمانت نه لري او یواځې دوجدان په ملامتي انسانیت ته په احترام لرلو اودهغه برخلیک له وېرې چې په اخرت کې به ورسره مخ شي خلاصه کیږي .

په پایله کې کې ویلی شو چې اخلاق له حقوق مقرراتو سره توپیرلري .

حقوقي مقررات دقانون په ملاتړ سره عملي کيږي مګراخلاق کيداي شي چې دهرفرد په وجدان کې په مختلفو پيمانو سره وجود لري چې قاضي يې په خپله دانسان وجدان او دټولنې عمومي اخلاق ګڼل کيږي .

اخلاق دانسان په وجود کې دهغه په شخصيت پورې اړوند و نيمګړتياو او کمزوريو دلرې کولو له پاره وجود لري چې داخلاقو په مراعتولو کې ازادي او اختيارلرل ددغه علم له ځانګړتيا و څخه شميرل کيږي .

**دمطبوعاتو حقوق**

**لومړی حقوقي نظامونه** :

هرهیواد درسنیو دملاتړ اودخبریالانو دحقوقو دتضمینولو له پاره یولړ مقررات او حقوقي جوړښتونه وضع کوي چې ددې کارپه خواکې درسنیو کړنې هم څاري .

څرنګه چې رسنې په خپله کاري ساحه کې آزادي لري او دخپلو مشروع امتیازاتو غوښتنونکي هم دي خو په عین حال کې یولړ مسولیتونه هم لري او هغه اشخاص چې په یو ډول دډلونو له رسنیو څخه متضررشوی دی ددغه ډول قوانینو منځ ته راتګ ته یې لاره هواره کړې ده .

همدارنګه دبیان له آزادي څخه ناوړه استفاده کول او مطبوعاتي جرمونه هغه نورعوامل دي چې ددغه ډول نظام شتون اړین کوي .

١ - **دپیشګېري نظام** :

هغه هیوادونه چې داستبدادي او دیکتاتوري سیاسي جوړښت لرونکي دي په دغه ډول هېوادونو کې درسنیو تاسیسول دپېشګېري نظام تابع وي .

په دغه ډول نظام کې درسنیو تاسیسولو وړاندې باید اجازه واخستل شي .

او ددې په خواکې دمالي تضمين ايښودل هم ضروري شميرل کيږي .په دې ډول نظام کې دواک خاوندان په دې توانيږي چې درسنيو دآزادي مخه ډب کړي او مخالف سياسي ډله او نورو سياسي ډلوته درسنيو دتاسيسولو وخت ورنکړي چې په دې ترتيب ديوې لويې ډلې دعقايدو دترويجولو مخه نيول کيږي او رسني دحاکمې ډلې په اختيارکې وي .

**۲ - تنبهي نظام :**

په ديموکراتيکو هېوادونو کې چې دبيان دآزادي اصل او ديموکراسي ته ارزښت ورکوي دغه هېوادونه درسنيو دتاسيسولو له پاره دتنبهي نظام څخه کاراخلي .

په دې ډول سياسي نظام کې افراد او بېلابېلې ډلې کولی شي چې داعلام نامې په وړاندې کولو او دثبت نام دغوښتنې پراساس پرته له هرډول محدوديت څخه په خپرونو پيل وکړي او يوائې دهېواد دعمومي قوانينو تابع وي .

په تنبهي نظام کې کله چې خپاره شوي مطالب له قانون سره په مخالفت کې واقع شی او دمطبوعاتو دجرم لامل وګرځي دغه ډول قضيې دمطبوعاتي محاکمو له خواترڅېړنې لاندې نيول کيږي او دتخلف مطابق ورسره چلند کيږي .

**درسنيو دتاسيسولو حقوقي لارې**

درسنيو له تاريخ څخه داځرګنديږي چې تردې دمه درسنيو دتاسيسولو له پاره څلورحقوقي لارې تجربه شوې دي :

۱- داعلام نامې طريقه

۲- دنوم ثبتونې طريقه

۳-مختلطه طريقه

۴- دوړاندې اجازې اخيستلو طريقه

۱ - **داعلام نامې طريقه** :

ديادې طريقې له لارې دخپرونې دامتياز خاوند او مسول مديرله خوا ديوې اعلام نامې په ترڅ کې ټاکلې مرجع ته درسنی دڅانګړتياؤ ،چاپخانې او ددې په خواکې دخپرونې دامتياز خاوند او مسول مدير دمشخصاتو په اړه معلومات ورکول کيږي .

داعلام نامې طريقې يادونه دلومړي ځل له پاره په ۱۸۸۸کال کې دفرانسې په قانون کې وشوه ،چې وروسته يې نورو هېوادونو قوانينو ته هم لاره پيداکړه .

په اعلام نامه کې دپورته يادوشويو ټکو په خواکې دسرمايې اندازه دخپرونې دخپراوي دوخت ،ژبې او تيراژ يادونه هم کيږي .

په اعلام نامه کې دپورته يادوشويو معلوماتو تردرجولو وروسته دمسول شخص له خوا اعلام نامه داطلاعاتو کلتو وزارت او ياهم دمطبوعاتو عالي شوراته تسليميږي چې ديادوشويو مراجعو دنده يواځې داعلام نامې ثبتول دي .

کله چې په اعلام نامه کې درج شوي معلومات واقعيت ونه لري نو دمحکمې له خوا درسني مسول دنقدي جريمې په ورکړې او ځينې وخت دحبس لامل هم ګرځي .

اعلام نامې ددولت درسمي کاغذ پرمخ درسني مسول مدير ،امتيازخاوند او ياهم ددوارو په امضاپه ليکلي بڼه مسولې مرجع ته تسليميږي او په عوض کې يې رسيد ترلاسه کوي .

داعلام نامې ترتسليمدو وروسته رسني کولاي شي چې په خپرونو پيل وکړي او هرکله چې بايد تاکلي مرجع ته اطلاع ورکړي .

داعلام نامې له يادې طريقې څخه په فرانسه ،مراکش ،ترکيه ، الجزاير ،تونس او ځينو نورو هيوادونو کې استفاده کيږي .

**٢ - دنوم ثبتونې طريقه :**

دنوم ثبتونې له طريقې څخه دلومړي ځل له پاره په ١٨٨١ کال کې استفاده وشوه چې له دغه لارې دېرې ورځپاڼې دمطبوعاتو په ځانګړي دفترونو کې خپل نومونه ثبت کړل چې وروسته بيا دغه کړنلارې دهندوستان ،پاکستان ،بنګلديش ،انګلستان او جنوبی ويتنام ته هم لاره پيداکړه چې اکثره دغه هيوادونه هغه مهال دانګلستان له خوا مستعمره شوي ؤ .

په دغه هيوادونو کې کله چې حکمي ياحقيقی اشخاص وغواړي چې يوه رسني تاسيس کړي .

نو باید خپله رسني داطلاعاتو او کلتو وزارت او یاهم دمطبوعاتو په عالي شوراکې ثبت کړي .درسنی ترثبتولو وروسته ټاکلي شخص یابنسټ دثبت ګواهي صادروي او ثبت شوي رسني باید دشپږو میاشتو په بهیرکې په خپرونو پیل وکړي همدارازددې طرزالعمل له مخې رسني نشی کولی چې په ورته نومونو او یاهم په نږدې مشابې نومونو ثبت شی.

درسنی دلومړۍ شمارې ترچاپیدو وروسته څو نسخې داطلاعات او کلتور وزارت په ادرس لیږل کیږي او هرکله چې دخپرونې په نشرولو کې ځنډپېښیږي نو باید اړونده مرجع په جریان کې واچول شي چې دتخلف په صورت کې کیداي شي چې درسنې دتو قیف لامل هم وګرځي .

**۳-مختلطه طریقه** :

ځینې هیوادونه درسنیو له پاره له دواړو اعلام نامې او نوم ثبتونې له طریقې څخه په ګډه استفاده کوي .

هرڅوک چې درسنی دتاسیسولو تکل ولري نواړوندې مرجع ته اعلام نامه باید تسلیم کړي او خپله رسنی ثبت کړي .

کله چې درسنی دمسول یاامتیاز خاوند له خوا اعلام نامه ترتیب او اړوند ې مرجع ته وسپارل شوه نوترهغې وروسته دمطبوعاتو عالي شورا دټاکلیو شرایطو ترکتنې او

موجودیت وروسته دمحکمې دریس اړوندې اداري او فردته ته درسني دثبتولو لارښوونه کوي .

دیادونې وړده چې په یاده طریقه کې داعلام نامې اعتبار ترشپږو میاشتو پورې وي چې په دغه بهیرکې رسنی باید په خپرونې پیل وکړي .

په اکثره قوانینو کې که چیرې کومه رسنۍ دنوم ثبتونې پرته په خپرونو پیل وکړي دحکومت له خوادااړوندې رسنی مسول مجازات کیږي لکه دایتالیې دمطبوعاتو دقانون په ۱۶ ماده کې داسې راغلی :

که چیرې کوم فرد یابنسټ دنوم ثبتونې پرته رسنی تاسیس او په خپرونو پیل وکړي نو دقانون سره سم به حد اکثره په دوه کاله بند او سل زره لیره جریمه کیږي .

۴- **دوړاندې داجازې اخیستلو طریقه** :

درسنیو دتاسیسول په مصر ،سوریې ،لبنان ، اردن ،سعودی عربستان ،یمن عربی متحده امارات ،بحرین ،کویټ ،قطر او لیبیا کې قانوني حیثیت لري .

په یاده طریقه کې وروسته ترهغې چې اعلام نامه دتاکلي هیواد دقانون سره سم ارایه شوه دمطبوعاتي شوراله خوا دڅلویښتو ورځو په بهیر کې تصمیم نیول کیږي چې یاده رسنی په خپرونې پیل وکړي او که نه .

دوراندې اجازه اخیستلو په طریقه کې کله چې یوه رسنی ته دفعالیت اجازه ورکړل شوه نو دحکم صدورسره سم درسنی چلونکي مکلف دی چې ددریو میاشتو څخه په کمه موده کې په خپرونو پیل وکړي .

۱-امتیازخاوند هغه حقیقی شخص دی چې درسنیو دحاکمیت او مالکیت په غاړه لري او درسنیو دمادي معنوي امتیازه دده په غاړه دي .

درسنیو دقانون مطابق کله چې درسنیو دامتیازخاوند یو حقیقي شخص وي باید دهغه هیواد تابعیت سند په لاس کې ولري او داتلس کلني عمرې پوره کړي وي او دصلاحیت لرونکي محکمې په اساس دمدني او سیاسي حقوقو څخه محروم نه وي .هغه اشخاص چې وغواړي درسنیو په تاسیس اقدام وکړي باید په مربوطه اداروکې یې ثبت او راجستر کړي او ددې ترڅنګ دمدني او سیاسی حقوقو څخه محروم نه وي .او دافغاني هویت یې ثابت وي .دافغانستان څخه بهر نماینده ګي او بین المللي موسسات او بین الحکومتي کولای شي دکارپه دوره کې وروسته داطلاعات او فرهنګ وزارت او تروریزم دموافقې څخه په نشرورسیږي .

دامتیاز خاوند مجبوراو مکلف دي چې اعلام نامه داطلاعات اوکلتوروزارت ته وړاندې کړي چې پوره شهرت ،دفعالیت ډول ،دفعالیت ځاي او نوم ،دفعالیت هدف او درسنیو ددسرمایي دتمویل اندازه پکې موجوده وي .

دافغانستان دجزا دقانون په ۱۱۳ مادې په مطابقت کې هغه شخص چې په اوږد زندان ،یاعمري زندان چې دلسو کلونو څخه زیات محکوم شوي وي نشی کیدای چې مسول مدیر ،دامتیازخاوند ،دمجلو او ورځپاڼو دهیت ریئس وټاکل شي .

**مسوول مدیر** :-

مسول مدیر هغه شخص دی چې ټول فني او مسولیتي او درسنیو نشراتي مواد په غاړه لري .دامتیازخاوند او مسول مدیر یوشخص هم کیدای شي .

په حقیقت کې مسول مدیر هغه شخص دي چې دمضامینو دنشر مسولیت او محتویات په غاړه لري . دافغانستان درسنیو قانون په اساس مسول مدیر باید دهیواد تابعیت او اتلس کاله عمرولری او دتحصیلاتي سند ،مسلکي او دري کلنې تجربې خاوند وي .مسول مدیر باید دمدني حقوقو څخه دیوې باصلاحیته محکمې په اساس محروم شوی نه وي یوبل شرط درسنیو قانون مطابق دغه دی چې مسول مدیر په دولتي چاروکې رسمي ماموریت ونه لري مګرداچې رسني ددولت مربوط وي .

**جر م څه ته وايي ؟دجر م پېژندنه** :

دایو حقیقت دی ،چي په هره نړیواله ټولنه کې اوپه ځانګړي ډول په لویدیځي ټولنو کې جرمونه په ډیرې چټکۍ سره مخ په ډیریدو دي ،چې په دې کې ټول جرمونه شامل دي، که هغه عادي جرمونه وي او که سنګین ترین جرمونه وي دبیلګې ډول بډې (رشوت) غلا ،ناانصافي

،ځانوژنه ،مرګ،ژوبله ،زورزیاتی ،سپکاوی او لغړتوب ،غداري، سازشونه ،دقومی رازونه ښکارونه ،بغاوت اوداسې .

جرم له قانون نه باغي او دټولنې دښمن عمل دی ،او په نړۍ کې هیڅ یوداسې هیواد نشته ،چې په هغه کې دې جرم شتون ونه لري او دامن وامان لپاره دې بیلګه وي مونږ هیڅ یوې داسې نړۍ تصور نه شو کولای،چې په هغه دې له جرمونوپاکه وي.

لومړي راځو دجرم مانا او مفهوم ته جرم یوه عربی کلمه ده چې دپریکولو ،له ونی دمیوې راټولولو،ترلاسه کولو او ګناه کولو په مانا ده مجریم هغه چاته ویل کیږي چې له حق نه لیري او باطلو ته یې مخه کړي وي .

**جرم تعریف**: جرم هغه عمل دي چې قانون هغه دجزا په واسطه منع کړي وي یعني جرم لومړي باید په قانون کې تعریف او بیا دهغه لپاره جزا تعین شي ،او جرم کې دمجرم نیت او دهغه اراده هم شامله ده په لنډه توګه ویلي شو چې په جرم کې دمجرم نیت او دهغه اراده هم

شامله ده په لنډه توکه ویلي شو چې په یاپه بل عبا رت

دځینو ټولنیز پوهانو په آند جرم هغه کړني یا هغه عمل ته ویل کیږي چې له ټولینز نظم او یاد ټولنی دارزښتونو سره په ټکر کې وي .

دجزایی حقوقو له مخي بیا هر هغه عمل چې په قانون کې ورته جزا ټاکل شوي وي جرم بلل کیږي.

که دجرم تعریفونو ته له مختلفو زاویو وکتل شي ښايي لږ اوډېر توپیر سره ولري خو په ټولو کې دګټیو سیاست پوهان او حقوقو پوهانو په آند جرم هر هغه عمل ته ویل کیږي چې قانونی ممانعت ولري .

دننګرهار پوهنتون دحقوقو اوسیاسی علومو دپوهنځي استاد منګل شیرزاد دجرم پر ورته سربیره دبیلابیلو ډولونو یادونه هم کوي او زیاتوي .

(( جرم په خپله هغه عمل دي چې شریعت او قانون منع کړي وي او دهغه په کولو اونه کولو حکم کړي وي او جرایم بیا په څو ډوله دي لکه جانحه ده ،جنایت دي او قابحه ده ،چې دهر جرم لپاره بیا بیل بیل تعریفونه دي او دهغو دمجازاتو څرنګوالي او وخت او زمان هم سره فرق کوي ))

دا کومه نه وي موضوع هم نده له ډېره پخوا راهیسی په مطبوعاتي ډګر کې مطرح ده که څه هم ځیني ژورنالیستان او شنونکي له قانونی پلوه دمطبوعاتی جرایمو اصطلاح دشلمي پیړی زیږنده بولی او دزیږ ژورنالیزم دټوکیدا سره تړی خو په اصلی مانا بیا هماغه درسنیو له راتګ سره جوخته مطبوعاتی لړی پیل شوې ګڼي رسنۍ او رسنیوال په بیلابیلو جرمونو تورن شوي او نه یوازي رسنۍ یې له منځه وړل شوي بلکي کله کله خپله چلوونکي یې هم له ژونده بیغمه شوي .

لنډه دا چې د دربار او کله کله دکلیسا دې چلند هومره زور واخیست چې په وړاندي یې دبغاوت لړۍ هم خورا تونده شوه او سوکه سوکه دخلکو دپوهې په زیاتیدو سره دهغو شفایی فرمانونو ځاي چې هغه مهال دقانون بڼه درلوده لیکولو قوانینو ونیوله اوس هر جرم دقانون په رڼا کې تعریفیږي .

دژورنالیست او لیکوال عبدالغفور لیوال په وینا مطبوعاتي جرایم هم په همدې مانا،دشلمي پیړۍ په پیل او دنولسمي هغې په وروستیو کې دزیړ ژورنالیزم له پنځیدا وروسته مطرح شوه دې چاري دمطبوعاتو دآزادۍ مخه هم خلاصه کړه :

«جرم هغه عمل ته ویل کیږي ،چې په یوه ټولنه کې ددولت دجاري کړي قانون ،دکړنلارو پرضدوي او پراخه مفهوم یې دادی،چې مهمې طبقې ټاکلي ارزښتو نو ،اودودونو اویادکوم وکړي دټولنې له پامه بداخلاقي اودګناه لاره خپله کړې.

هره ټولنه ځانته ځانګړي دودونه ،کولتور اودپرمختګ قوانین لري،چې سرغړونه تري جرم ګڼل کیږي؛خوکه قانوني بندیزپرې لګول شوی وي؛نوجرم ورته ویل کیږي او داسې کارونه دهر هیواد او هري ټولنې لپاره دتور داغ حیثیت لري لنډه دا چې که جر م هرډول وي؛خوپه حقیقت کې دیو اولس دټولنیزو حقوقو پای مالول او پر ولس له تیري سره مترادف دي،ځکه چې مجرم له اخلاقي پو لو اوړي ،ویره ډار خوري،سوله ا یزه فضا خرابوي ،په ټولنه کې دخوندیتوب احساس له منځه وړي

.

**ګټې** :

دورځپاڼودنده ده،چې دمجرمانو دمحاسبې او دجرمونودلانجو دختمولو لپاره له قانون پلي کونکیو ادارو سره مرسته وکړي او دورځپاڼې مخونه باید په ناوړه جرمونوکې دککړو کردارونونه دپردې دپورته کولولپاره ځانګړې شي.

په ورځپاڼوکې دجرمونو راپورونه خپرول ځینې ګټې او ځینې زیانونه لري ،دبیلګې په توګه ګټه یې داده ،چې که داسې کردارونه په ګوته شي ،نوقانون پلي کوونکې ادارې یې پرضدفعالیت کوي اودجرمونومخنیوی کیږي، که ټولنه بد لورته روانه وی نودټولنی د

سمون ولولی دخلکو  په زړونو کی راپاریږي او ګټه یی داده چی دبیلابیلوجرمونوپه اړه دجز یاتولوستل لکه په بیلابیلو پیښو  کې دبیلګې په ډول لوټونکیو دلوټنې لپاره بیلابیل تکتیکونه کارولي وي ؛ نولوستونکي دلوټو نکیو له هرډول تکتیک سره اشنا کیږي    اوپه راتلونکې کې دغه ډول پیښو سره دمخ کیدو په صورت کې هوښیاروي او ځانونه ترې ژغورلای شي چې په اړه یې پروفیسور ډاکټر مسکین علي حجازي لیکي:

په کومو هیوادونو کې که نالوستي کم وي او خلک له خپلو حقونه خبرنه وي اویا نیستمن وي ،اوړده قانوني فعا لیتونه ترسره کولای نشي اویا ،چې قانون دشتمنو لپاره دغې جال وي او دنیستمنو لپاره غښتلی اوپیاوړی وي ؛نوپه داسې هیواداو سیمه کې دجرمونو په اړه راپورونو خپریدوله امله بې وزلو ته ډاډګیرنه او دتیری کوونکیو دمحاسبې صورت راپیداکیږي .

په ورځپاڼو کې لوڅ بربنډ راپورونه او دې ته ورته دجرمونو راپورونه نه یواځې ورځپاڼې ته بد رنګ ورکوی  بلکې  دجرمونو دجزیاتو تفصیل یې خلک جرمونو ته لمسوي او دجرم دکولو لارې چارې ورته ښیي .

دورځپاڼوسر بیره په تلویزون اوفلمونو کې په جرمونو ککړکردارونه په ډیر مهارت سره وړاندې کیږي ،چې ډیرکشش او زړه راښکونتیاپکې نغښتل شوې وي،په ځانګړې ډول هغه فلمو نه ،په سینما ګانو کې ننداریې ته وړاندې کیږي؛نو په هغو کې دمرګ ژوبلې ،دانساني غړیو پریکول ،پرمخونو دتیزابو شیندل ،دګاډو او دودانیو ړنګول ځو ان نسل جرمونو ته لیواله کوي او همدالامل دی،چې دشتمنو کورنیو «خپل سري»هلکان شوقانه غلاګانې کوي،له ښځو دستکول تښتوي اوپه داسې کولو سره هغوی ځانونه په رواني ډول دفلمونو اتلان تصور کوي په ورځپاڼواو جریدوکې دجرمونو دراپورونو دډیرښت په اړه خورشید احمد ګیلاني لیکي چې .

دورځپاڼې مدیر اوچلوونکي به په ورځپاڼوکې دښځې دتښتونې راپورخپرول هم جرم ګڼه اودادومره پخوانی هم نه و یانې نن ته نږدې دورو؛خواوس هسې نه ده بلکې اوس داسې راپورونه په الفاظوکې کټ مټ انځورولای شي »

ورځپاڼې ،مجلې ددې روش هیڅ اخلاقي جوازنه لري اونه څه اړتیاشته ؛خوبواځې یوتربله دمخکې کیدو دسیالۍ لامل دی او داسیالي دهیواداولس دخدمت او دژورنالیزم له سپیڅلي دندې نه سرغړونه ده ،همدارنګه دورځپاڼو او مجلودنده ده ،که دجرمونوپه اړه کوم راپورونه خپروي؛نو رنګارنګې اوهیجاني تومنه بایدوروانه چوي

.

**ژورنا لستیکې ذمه واري** :

دیونظریاتي هیواد ژورنالیزم کارداولس دخبرولو ترڅنګ داولس اخلاقي روزنه هم ده ،همداشان ژورنالیزم په حقیقت کې داولس لپاره نندارتون نه بلکې دروزنتون درجه لري ،دېولنې اصلاح اوسمون په لړ کې ژورنالیزم ډیره درنه ذمه واري پرغاړه لري.

۱ : دجرمونو په کنترولولوکې ژورنالیزم په زړه پورې ونډه اخیستلای شي ،

دښه ژورنالیست دنده ده ،چې دمجرمانو له جرمونونه پرده پورته کړي په ورځپاڼواو مجلو کې داسې مضاممین خپاره کړي ،چې خلک يې له امله دخوندیتوب تدابیر خپل کړي او دجرمونو

پرواړندې يې په زړونو کې کينې راوپاريږي او په دې مضامينو سره دخلکو په زړونو کې صبر ،زغم ،ښنه ،او دالله ج ويره پيداکړای شي،

۲ : دجرمونو په اړه راپورونه بايدخپاره نه شي ، راپورونه په داسې اندازوړاندې نه کړي،چې تورن شخص پکې داتل په ښه انځورشي،چې خام فکره هلکان ترې ناوړه اغيز وانه خلي او ددی ترڅنګ دجرمونو په اړه دراپورخپرونو پرمهال داخبره په پام کې ونيول شي ،خبر بايد داسې وړاندې کړې شي ،چې لوستونکی يې له جرم سره خپله کينه څرګنده کړي ،هسې نه چې خبرپه داسې ښه خپور کړای شي ،چې لوستونکی جرم ته ليواله کړي او (دشتمن کيدو) هيله من نه شي .

۳ دورځپاڼې په لومړي مخ کې بايد دجرمونو دوه درې راپورونه خپاره کړای شي پاتې راپورونه په منځني مخونو کې خپاره کړای شي ،جنسي جرمونه بايدلږ تر لږه خپاره شي ،ځکه چې دا په هر ځای کې لوستل کيږي ،په کور کې يې ميندې ،خويندې لولي ،بهرني سفيران يې هم لولي ،بالغ مزاجه دخامو ذهنونو لرونکي هلکان يې هم لولي او پر هغو ی ډير ناوړه اغيزکوي .

**پروفيسورعبدالسلام خورشيد ليکي** :

(جرم بايدپه لنډون سره بيان کړای شي ،داسې مفصل بيان نه کړای شي ، چې لوستونکی دغه جرم ته وهڅوي او يالوستونکي دمجرم تقليداوپيروی ته ليو التيا

وانګيري او دجنسي تيريو په اړه راپورونه هم بايد په داسې ډول وليکل شي ،چې په کور کې دټولو غړو په مخ کې په لوړ اواز لوستل کيدای شي .

دتفصیل په بیانو لو سره په ټولنه کې ډاراو د ناخوندیتوب احساس پیداکیږي ؛ خو که دجرم تفصیل انتهایې اړین وي ؛ نو دداسې تفصیل لپاره دورځپاڼو پر ځای او نیزه جریده مناسبه ده ، چې پکې خپور شي .

دورځپاڼو او مجلو دنده ده ،چې دښځو په چارو کې له ډیراحتیاط نه کار واخلي ،دښځو سپکا وي، طلاق ،له کوره تښتیدل ،دښځو تښتونه اودې ته ورته راپورونو په خپرولو کې ډیر احتیا ط نه کارواخلي اودداسې ښځو دانځو رونو له خپرولونه ډډه پکارده اوپه ځانګړي ډول دسپکاوي په پیښو کې دښځو درنښت په پام کې نیول پکاردي.

داچې دجرم راپورونه له پولیسو،نورو پټو شبکواو څارنوالۍ سره اړیکه لري ؛ نو دژورنالیست داخلاقو غوښتنه داده ،چې جرم کوونکي ته باید تورن وویل شي ،ترهغې چې څارنوالي یې مجرم ونه ګڼي ؛ نو هغه کس یوائې په اړوند جرم تورن دی

.

**په جر م کې لاندې درې عناصردبحث وړدي** .

مادي عنصر

معنوي عنصر

قانوني عنصر

الف : مادی عنصر

دجرم  مادي عنصر دقانو ن ديو مخالف عمل له ارتکاب او ياد دقانوني عمل دترسره کولو څخه ديو چا منع کولو څخه عبارت دي .

دافغانستان دجزا قانون په ۲۹ ماده کې دجرم مادي عنصر داسې  تعريف شوي  دی دجرم مادي عنصر دقانون ديو مخالف عمل له ارتکاب او ياله هغه څخه منع بلل کيږي په داسې توګه چې دهغې پايله جرمي وی او دعمل او پايلې ترمنځ يې دسببيت اړيکه موجوده وي .

ب : معنوي عنصر عبارت دی دمجرم له قصد څخه په داسې توګه چې دده دارادې په خلاف او ياموافق صورت کې اجراشي .

دجزا دقانون په ۳۴ ماده کې قصد داسې تعريف شوی دی .

قصد عبارت دی دفاعل دارادې له سوق کولو څخه دهغه فعل داجرا په موخه چې جرم بلل کيږي په داسې توګه چې پايله يې جرمي تمامه شي .

دپورتني قانون په ۳۶ ماده کې دسهوې په هکله داسې راغلي دي .

(( جرم په هغه مهال کې غيرقصدي بلل کيږي چې له فاعل څخه دهغې پايله دخطا په صورت کی راغلي وي او ياد قانون دنه رعايت په صورت کې راغلي وي .))

ج: قانوني عنصر :

دجرم قانوني عنصر عبارت دي دجرمي اعمالو په قانون کې دتصریح او دهغه له جزا څخه .

دجرایمودډولونه دعمومي مصالحوله مخې

دجرایموعمومي ډولونه:

دجرایمودډولونه دمختلفواړخونو له مخې څیړو:

دجرایمودډولونه دعمومي مصالحوله مخې

انسان پنځه ډوله مصالح لري چې خمسه ضرورتونه هم ورته ویل کیږي چې عبارت دي له:

ددین اوعقیدې مصلحت

دنفس اوځان مصلحت یاارزښت

دعقل مصلحت

دعفت اوناموس مصلحت

دمال مصلحت

دپورته پنځویادوشویومصالحوڅخه دهریوه په ضدعمل ته دهماغه مصلحت پروړاندې جرم ویل کیږي.

يعني د دين اوعقيدې په ضد جرايم لکه ارتداد، دعقل په ضد جرايم لکه شراب څښل، دعفت اوناموس په ضد جرايم لکه زنا، او دمال په ضد جرايم لکه غلا.

دجرايمو ډولونه دعمومي متشکله عناصروله حيثه:

الف: دجرايموطبقه بندي دقانوني عنصرله حيثه: دقانوني عنصرله مخې ټول جرايم په لاندې ډول ويشل شوي دي:

۱: دجرايموډولونه دمقدروالي اوغيرمقدروالي له حيثه.

۲: دجرايموډولونه دموضوع له حيثه.

۳: دجرايموډولونه دشدت او وخامت له حيثه.

۴: دجرايموډولونه دطبعي والي اوغيرطبعي والي له حيثه.

۱: دجرايموډولونه دمقدر والي او غيرمقدروالي له حيثه: ددې ويشنې له مخې جرايمو په دوو برخو ويشل شويدي لکه:

- مقدره جرايم: مقدره جرايم هغه دي چې هم يې جزا اوهم يې جرم په شرعي اوقانوني نصوصوکې ټاکل شوي وي. مقدره جرايم (۷) دي لکه دغلاجرم، دزناجرم. دقطاع الطريق جرم، دبغاوت جرم، دشرابو څښلوجرم، د ارتداد اوقذف جرم.

- غیرمقدره جرایم: غیرمقده جرایم هغه دي چې نه يې جرم اونه يې هم جزا په شرعي اوقانوني نصوصوکې ټاکل شوې وي لکه تعزیرات ددغه جرایموټاکل اسلامي شریعت اولوالامرته محول کړي وي چې دجامعي له ضروروت سره سم کوم عمل ته جرم ووايي اوکوم ته يې ونه وايي.

۲: دموضوع له حیثه دجرایموډولونه: لدې حیثه جرایم په لاندې دوو برخو ویشل شویدي:

دجرایموډولونه دعاموالي او خصوصي والي له حیثه. له دې حیثه جرایم تړول په دوو برخو ویشل شویدي:

الف: عام جرایم: داهغه جرایم دي چې دولت تر اغیزمن شوي وي.

ب: خاص جرایم هغه دي چې یوځانګړي فرد ترې متضرروي.

خونن ورځ دا ویشنه وجود نلري.

- دجرایموډولونه دعادي والي او اختصاصي والي له حیثه. په دوو برخو ویشل شوي دي لکه:

- عادي جرایم هغه دي چې دهرچا لخوا هرچیرې او په هروخت کې ترسره کیږي

 ختصاصي جرايم هغه دي چې دهرچالخوا په هرځاي او حالت کې نشي ترسره کيداي بلکې دخاصو افرادو لخوا په ځانګړو ساحو کې ترسره کيږي، دا جرايم په څلورو برخو ويشل شويدي:

 سياسي جرايم

 نظامي جرايم

 داطفالو جرايم

 مطبوعاتي جرايم

مطبوعاتي جرم

(( دژورناليستيکو يامطبوعاتي جرايمو مسله هغه وخت رامنځته شوه کله چې دنولسمي پيړۍ په اواخرو او دشلمي پيړۍ په پيل دزيږ ژورناليزم اصطلاح په امريکا کې رامنځته شوه په هغه هېوادونو کې چې دمطبوعاتو دآزادۍ له نظره په اول کتارکې دي دمطبوعاتي جرايمو ډېره کلکه څارنه کيږي دهمدې لپاره هلته دمطبوعاتو آزادي ډيره عامه ده مثلاً که تاسو داسی يو څه وليکي چې شخص ته پکي بې احترامي شوي وي او قانون تاسو ته ددې اجازه درنکړی نو داموضوع په کلکه پلټل کيږي يا هر هغه هيواد چې ديوه مطبوعاتي جرم په صورت کې محکمې ته عريضه کولای شي هلته دژورناليستانو حساسيت او احتياط دمطبوعاتي جرمونو په وړاندي ډېر وي ))

په بيلابيلو دورو کې دمطبوعاتو جرايمو له څرنګوالی تيريږو په لنډه يوازې په تير اته کلن بهير کې دقانون له مخې دمطبوعاتي جرايمو په اړه رڼا اچوو

که څه هم دهمدې څوکلنو کې درسنیو په قانون کې دوخت له غوښتنو سره سم یولړتعدیلات راغلل خو دمطبوعاتی جرایمو په برخه کې دپام وړ بدلون نه ترسترګو کیږي او لا هم داتمی دمادی په اساس هغه لیکنی چې داسلامي اصولو سره په ټکر کې او نورو مذهبونو او دینونو ته پکي سپکاوي وي او یاهغه لیکنه چې داشخاصو دسپکاوي او پرهغو باندي دافترا لامل شی منع شوي او ترسره کول يې مطبوعاتي جرم ګڼل کیږي له قانونه دسرغړوني په صورت کې دڅیړني کمیسون دسرغړونکي ارګان یا رسنۍ موضوع څیړي چې دغه کمیسون له ځانګړیوکسانو څخه جوړ دي دا چې په مختلفو هیوادونو کې درسنیو دقانون په توپیر سره دمجرم پیژنده او په جرم کې دشریک په توګه دنوروکسانو نیونه یوبله سره توپیر لري .

خو په افغانستان کې درسنیو دقانون له مخې بیاله قانون سره په ټکر کې دیوه مطلب دخپریدو مسولیت نه یوازي خپله لیکوال بلکي درسنۍ مسول هم دجرم دشریک په توګه پیژندل کیږي او که دمطلب لیکونکي معلوم نه وي ټول مسولیت مسول مدیر ته راجع کیږي .

که څه هم درسنیو دقانون په چوکاټ کې یولړ مطبوعاتي جرایم تعریف شوي خو دځینو شنونکو په آند لاهم یوشمیر نیمګړتیاوي لري .

لیکوال او شنونکي عبدالغفور لیوال نه یوازي دې نیمګړتیاوو ته ګوته نیسی بلکی همدا نیمګړتیاوي دقانون دبشپړ عملی کیدا په لاره کې هم یوستر خنډ بولی :

((له بده مرغه زموږ مطبوعاتي قوانین سره له دې چې له ډیر وخت نه وروسته جوړ شول خو دا به یوښه عدلی اصل وي خو دژورنالیزم او مطبوعاتو له نظره ډیر مسلکي ندي ځکه چې هغه چا چې جوړ کړي هغوي به په عدلی او قضایی مسایلو پوهیدل خو په ژورنالیزم نه پوهیدل زه فکر کوم چې دې ته دا اړتیا وه چې یوشمیر مسلکي اومتخصص ژورنالیستان هم دقوانینو په جوړولو

کې وای دا قوانین په خپل تطبیقي برخه کې ډیر زیات مشکلات لري لکه موږ له تر اوسه حتک حرمت ندي تعریف کړي موږ لا تراوسه پدې نه پوهیږو چې دقانون له مخې څه وخت یو سړي کولای شي چې دیوې رسنۍ په وړاندي عریضه وکړي موږ لا هم نه پوهیږو چې دبیان دازادي په نامه باندي هغه له انارشۍ نه ډکي څرګندوني چې مطبوعات کوي ،ادعا ګاني کوي ،حتک حرمت کوي ،خلک پسي درواغ وایی دا په کومو قوانینو او څه ډول ونیسو .

له همدې امله په افغانستان کې ډیر زیات مشکلات دي تر څو چې دا قوانین مسلکي نشي او ترڅو چې ارزښتونه تعریف نشي ترڅو چې ملی ګټي تعریف نشي او ورسره دتکر مخه ونه نیول شي زه فکر کوم چې دا مشکلات به په افغانستان کې دوام لري .

له بله مخه زموږ رسنۍ یوه لویه ناقانوني چې کوي هغه داده چې هرکله چې ورته دژورنالیزم داخلاقو او حقیقت لارښوونه وکړي نو بیا درته وایی چې دبیان ازادي ده حال داچې دبیان ازادي دروغو ویل ندي او دبیان ازادي له حقیقت څخه تیښته نه ده دبیان ازادي کوم خاص سیاسی طرف ته تبلیغات ندي،دبیان ازادي چاته ښکنځل ندي دبیان ازدي حتک حرمت ندي دبیان ازادي دیوه سیاسی ډلی خلاف دپروپاګندي کول ندي

له بده مرغه داشیان لا تراوسه په افغانستان کې تعریف شوي ندي کله چې دانه وي تعریف شوي تاسو څه ډول انتظار درولای شی چې قوانین به تطبیق شي ))

له بلي خوا یوشمیر ژورنالیستان او په افغانستان کې درسنیو دډګر لارویان په تیرو څو کلنو کې دمطبوعاتي جرایمو دپیښو دزیاتیدو یادونه کوي او ددغي لړۍ له غځیدو اندیښمن دي .

ژورنالیست وحیدالله غازي خیل په همدې نظر دي او وایی :

(( په افغانستان کې په تیرو اتو کلونو کې چې کوم بدلون راغلی په هغه کې مطبوعات هم ښه وځلیدل خو متاسفانه زموږ مطبوعات هغسې ندي له دنورو مطبوعاتو په څیر مانا داچې په

مطبوعاتو کې نامسلکي کسان ډیر زیات دي دژورنالیزم له مسلکه ناوړه ګټه اخلی دبیان له ازادۍ ناوړه ګټه اخستل ،داوټ اف ریکارډ خبرو خپرول ،دداسی پوښتنو کول چې یوې غاړې ته پکې سپکاوي وشي دملی یوالي پرضد او دشخړو زیږول دیوچا په پلوي پوښتني کول او بلی غاړې ته کم وخت ورکول یا په بحثونو کې دانډول نه ساتل یا په مرکه کې دیوچا ژوند ته پام نه کول او ورته نور مسایل په مطبوعاتي جرایمو کې راځي ))

داچې په هیواد کې دمطبوعاتي جرایمو دزیاتیدو لاملونه څه دي او دېړې ګوته چاته نیول کیږي په اړه وحیدالله غازی خیل وایی :

(( په افغانستان کې دمطبوعاتو قانون شته خودلته متاسفانه ژورنالیستان نامسلکي دي ځیني وختونه سم چلند نه کوي دمثال په توګه څه موده وړاندي په ولسي جرګه کې یوه غونډه وه دا غونډه باید دمطبوعاتو له قانون له مخې پټه شوي واي مګر متاسفانه ځیني ژورنالیستانو دا کار غیر قانوي وباله او دې ته یې هوا ورکړله چې دا خپله یو غیر قانوني کار دي مګر دلته حکومت تر اوسه داسی کارونه ندي کړي یاکه کوم ژورنالیست دمطبوعاتو له ازادۍ ناوړه ګټه پورته کړي وي ددې پرځای چې هغه داطلاعاتو اوکلتور درسنیو کمیسون ته معرفي شي دحکومت له خوا وهل کیږي چې دحکومت له خوا داسی ناوړه چلند هم قانوني ندي کله رسنیو له خوا سرغړونه کیږي او کله دحکومت له خوا دا ددې خبري په مانا ده چې افغانان تر اوسه پوري له مطبوعاتي ډګر سره هومره اشنا نه دي ))

دمطبوعاتي جرایمو دښه روښانیدو په اړه دکابل پوهنتون دژورنالیزم دپوهنځي له استاد محمد شفیق وردګ مرکه ګورو :

په سرکې به دمطبوعاتي جرایمو مانا او دمفهوم په اړه ترې یوڅه واورو مرکه !

جرم خو په عامه دګناه تیروتني او داصلو سرغړوني ته وایی بیا مطبوعاتي جرمونه په دوو برخو یشل کیږي یو په عامه مانا او بله په خاصه مانا .

په عامه مانا باندي ټولي هغه لیکني او تیروتني چي په لیکنیزو شیانو او یامطبوعاتو کي کیږي په هغه کي له املایی تیروتنو را واخله تر افترا تهمت او ادبي غلا پوري دا ټول په عامه په مطبوعاتي جرمونو کي راځي .

بل په خاصه مانا باندي دي چي هغه یوازي په رسنیو پوري مربوط دي خلک ته دحق رسولو په برخه کي تیروتنه کول او ددي په څنګ کي ټول هغه شیان چي دهغه خپرول منع کرځول شوي خپرول په خاصه مانا باندي  مطبوعاتي جرمونه دي .

پوښتنه ستاسو په اند دمطبوعاتي جرایمو مسله په ژورنالیستیک ډګر کي کله نه ده  مطرح شوي ؟

ځواب : دمشخص تاریخ په اوږدو په اړه یي څه نشم ویلای خو له هغه وخته چي چاپ شروع شوي لیک لوست شروع شوي دا تیروتني  ورسره رامنځته شوي کله یي په وړاندي سخت غبرګون ښودل شوي کله بیا نرم .

مطبوعاتي جرمونو معمولاً دمطبوعاتو له رامنځته کیدو نه حتي ویلای شو چي دچاپ درامنځته کیدو نه را پیل شوي خو کله بیا په وړاندي یي اقدام شوي او کله نه .

زموږ په قوانینو کي هم مطبوعاتي جرمونه یوازي په افترا باندي له دینه نه په سرغړوني خلاصه کیږي حال داچي مطبوعاتي جرمونه ډېر پراخ دي .

پوښتنه : فکر کوی چې په مختلفو وختونو کې دجرمونو تعریف هم بدلون موندلی وی یعنی په یو وخت یومسله جرم ګڼل شوي وي خو بیا بل وخت نه ؟

ځواب هو بلکل لکه داخلاقو مسله چې په ختیځو او لویدیځو ټولنو کې سره توپیر لري یعني یوه مسله په ختیځو ټولنو کې اخلاقی خو په لودیدځو ټولنو کې بیا بد اخلاقی وي یا مثلآ دښځو حجاب کول هم ددین له پلوه او هم دکلتوري دودونو له پلوه مور او تاسویی لوړ فضیلت بولو خو په غرب کې بیا دې ته تیري وایی چې په ښځو کیږی همدغسي جرمونه هم ډیر داسی جرمونه دي چې سره توپیر لري مثلآ چې کام بخش په نامه یوځوک وو چې داسلام خلاف یوه مقاله یې نشره کړه دلته دا جرم وو خو په غرب کې دبشر حقونو ټولنو ترې ملاتړ وکړ یاد حقوق زن په مجله کې چې یومطلب خپور شود لته دا جرم وو په نړۍ کې ترې ملاتړ کیده نو دا حتمي نده چې په هر ځای کې او هر وخت کې جرمونه سره ورته وي .

پوښتنه : دمطبوعاتي جرمونو دڅارني او کشف دنده په چا پوري اړه لري ؟

ځواب : دا په دوو برخو ویشلای شو یو خو داجرایوي ځواک له مخې چې هغه له حکومت سره دا ځواک شته چې او قانون ورته اجازه ورکړې چې دوي باید ترسره کړي بل یې ژورنالیستانو ته داخلاقی تګلارو په جوړولو پوري اړه نیستی ځکه ډیر داسی شیان دي چې ژورنالیستان یې باید داخلاقی تګلارو له مخې نشر نه کړي مثلآ په عادي ژوند کې یومثال دسګریټو څکول دي که یوځوک سګریت څکوي هیڅوک ورته څه  نه وایی ځکه په قانون کې دبندیز کومه ماده نشته خو که اخلاقی فضیلت ته راشو نو په عام محضر بیا دا ښه چاره نده او اخلاق دي باید یوچاته اجازه ور نکړي همداراز په مطبوعاتو کې ځیني شیان دي چې حکومت ورته فکر نه وي یا په قانون کې نه دي راغلی خو اخلاق ژورنالیستانو ته دهغو دخپرولو اجازه نه ورکوي زما په فکر ددغو جرمونو مخینوي اوڅارنه دحکومت او اخلاقی تګلارو دجوړیدو په مټ امکان لري .

ګوره په اساسی قانون کې راغلی چې هر شي چې داسلام له دين سره په ټکر کې وي خپرول يې منع دي چې بيا درسنيو په قانون کې دا مسايل توضيح شوي که څه هم زموږ درسينوقانون ځيني نيمګړتياوي لري حتي اساسی قانون دټولني عينيت او واقيعتونو سره سم ندي جوړ شوي يوه برخه يې دفرانسې نه کاپي شوې يوه برخه يې دامريکا نه کاپي شوي همداغسی دمطبوعاتو قانون هم در واخله لکه دمطبوعاتو په قانون کې راغلی چې ملی ګټي بايد زيانمنی نشي خو ملی ګټی څه ته وايی دا ندي ښودل شوي يا فرضاَ دقانون له مخې افترا جرم بلل شوې خو داچې افترا څه مانا ده دا نده تعريف شوې بل داچې جرمونه هم خپل حدود لري خو دا په قانون کې ندې روښانه شوي .

پوښتنه : دځينو په اند پدې وروستيو کې مطبوعاتي جرمونه خورا ډير شوي تريوه بريده خوپه قانون کې دهمدغو نيمګړتياو له امله به وي سربيره پردې نور کوم لاملونه دي ؟

ځواب : اول خو داچي داطلاعات او کلتور وزارت دمطبوعاتو په قانون کې راغلي مسايل عادي ونه بولی او په کلکه يې عملی کړي بل زما شخصي فکر دي په رسنيو باندي بايد ماليه ولګول شي

او دغه ماليه درسنيو دخپرونو دوخت له مخې وضعه کړي بل دا چې ژورناليستان بايد خپله يوه اخلاقی تګلاره جوړه کړي ځکه دغه اخلاقی تګلاره داسی يوشي وی چې دوي په خپله اړباسی چې غير اخلاقی څيزونه خپاره نکړي .

بايد يادونه وکړو چې که رسنۍ له يوې خواه دبشری ژوند يوه له مهمو اړتياوو څخه ده چې له پيړيو څخه راهوکيدلې او لا دغوړيدا په حال کې ده او دنړۍ له ګوټ ګوټه دانسانانو دخبروني ،لاربښووني ،او رهبرۍ ستر مسوليتونه لري له بلی خوا دخپلی يادو دندو په ترسراوي کې بايد خپله رسنۍ هم يولړ اصولو او مقرراتو ته غاړه کښيږدي البته دغه اصول اومقررات په بيلابيلو ټولنو کې يو له بله توپير لري خو بياهم په ټوله کې له دغو اصولو سرغړونه جرم بلل کيږي چې همدې جرم ته مطبوعاتي جرم وايی .

همدغه راز چې جرم دقانون خلاف کړني ته وايې نو دمطبوعاتي جرمونو غوره پېژند نی لېاره يوشمير تعريفونه وضع شوی چی په لاندی ډول .ذکرکيږی

ايراني ژورنالیست ډاکټر افتخار جهرمي له اساسی یا نورو فرعی قوانینو سره په ټکر کې درسنیو هري کړنی ته مطبوعاتي جرم وایې .

دکابل پوهنتون دژورنالیزم دپوهنځي استاد ډاکټر محمد هاشم عصمت الهي هم درسنیو له خوا دقانون ضد مطالبو خپرول مطبوعاتي جرم ګڼي او وایې :

(( دمطبوعاتي جرمونو تر تعریف وړاندي لومړي باید دجرم او جریمې پرمانا ځان وپوهو جرم چې جمعه یې جرایم دي ټولو هغه کړنو او عملونو ته ویل کیږي چې دقانون له مخي منع شوي وي هر قانون دیولړ مطالبو خپرول منع کړي په همدې اساس هغه رسنۍ چې دقانون خلاف یو کار کوي جرم ګڼل کیږی دبیلګي په توګه زموږ دهیواد درسنیو دقانون له مخی ټول هغه مطالب او خپروني چې له اسلامي اصولو سره په ټکر کي وي دحقوقي او حکمي اشخاصو سپکاوي او انساني کرامت ته په سپکه کتل دوګړو په خصوصي پولو او ژوند کې لاس وهنه اویا دامنیتی اسرارو افشا کول او دنورو ورته مسایلو خپرول منع شوي که څوک ددغو چارو خلاف یوڅه کوي مطبوعاتي جرم ګڼل کیږي او داړوند ارګانونو له خوا تر څارني او پلټني لاندي راځي چې باید ځواب ورکړي .

همدا وجه چې یو ژورنالیست دخپلو خپرونو او مطالبو په وړاندي مسولیت او مکلفیت لري چې دقانون خلاف څه خپاره نکړي ))

استاد عصمت الهي دافغانستان دقوانینو ځینی مطبوعاتي جرمونو ته اشاره وکړه خو دا په دي مانا نده چې ګوندي په ګرده نړۍ کې یاد موارد مطبوعاتي جرایم وپېژندل شي ځکه هره ټولنه خپلو ځانګړيو عقیده وي ،کلتوري ،دودیزو او نورو ټولنیزو ارزښتنو ته په پام سره قوانین لري او دهمدغه قوانینو په رڼا کې مطبوعاتي جرمونه تعریفوي .

دکلتورنو ،نظامونو او ټولنو په توپیر سره دجرمونو دتوپیر ټکي ته استاد عصمت الهي داسی اشاره کوي :

(( مطبوعاتی جرمونو نظر هیوادونو ، شرایطو ، قوانینو او ټولنو ته سره توپیر لري لکه چې هر قانون دټولنی غوښتني او اړتیاوو ته په پام سره وضع کیږي نو له همدې مخی مطبوعاتي جرمونو په بیلابیلو هیوادونو کې بیلابیل حالاتونه لري او یو له بله سره توپیر

لري ))

هماغه رازچې استاد الهي په بیلابیلو ټولنو کې دغه راز مطبوعاتي جرمونو شتوالی ته نغوته وکړه چې دټولنی بیلابیلو ارزښتنو په رڼا کې تعریفیږي .لیکوال او ژورنالیست عبدالغفور لیوال دختیځو او لودیځو ټولنو دبیلګو په را وړل سره داتوپیر داسی روښانه وي :

(( مطبوعاتي جرمونه سره فرق لري مثلاً که تاسو په یوه اروپایی ټولنه کې یاستي او هلته دبیان په ازادي کې دا اجازه وي چې تاسو پر یوه عقیده وي بنسټ باندي انتقاد وکړي نو دا کوم جرم ندي مګر په شرقي ټولنو په تیره بیا اسلامی ټولنه کې که یوه خبره داسی نشر کړي چې هغه دخلکو دعقایدو سره په ټکر کې وي نو مجرم ګڼل کیږی دا دهري ټولنی اجتماعي ،عقیده وي او کلتوري ارزښتونوپه اساس ټاکل کیږي البته موږ نه شو ویلای چې کوم قوانین خراب او کوم ښه دی ځکه هر قانون دخپلي ټولنی لپاره ښه دي تر ټولو ښه قانون هغه دي چې ډیر دانفاذ او عملی کیدو وړ وي ځکه طبعي ده چې قوانین فرق کوي هغه څه چې مهم دي دقوانینو عملی کول دي ))

په یادو نظرونو کې دمطبوعاتی جرمونو څرنګوالی نظر قوانینوته او قوانین بیا نظر ټولنو ته توپیر لري او دښاغلی لیوال په وینا دښو او بدو قوانینو په اړه پریکړه اسانه نده دننګرهار پوهنتون دحقوقواو سیاسی علومو استاد منګل شیرزاد بیا دښو قوانینو ځیني ځانګړني دا راز په ګوته کوي:

((قانون هلته قانون دي چې شاته یې یو اجرایی قدرت موجود واوسي که دقانون محتوا ډیره کمزورې وي خو شاته یې اجرایی قدرت وي او هغه په خپل ځای باندي عملی کړي طبعآ هغه قانون اوچت او ښه قانون دي بله مسله داچې ښه قانون هغه دي چې هغه په ولسونو کې قابل دتطبیق وي دولسونو ذهنیت ورسره عادت اوسی او قبلولو ته یی په ورین تندي هرکلی ووایی داسی نه چې دبل هیواد دکلتور او فرهنګ سره مطابق وي اومور ته راوړل شي چې ددغو قوانینو پلی کیدل ستونزمن وي او خلک یې منلو ته غاړه نه ایږدي ))

دمطبوعاتی جرایمو دموضوع دڅیړني په لړ کې باید په یاد ولرو چې هره مطبوعاتی سرغړونه مطبوعاتي جرم نه ګڼل کیږی ځکه دژورنالیزم په ډګر کې ګڼ داسی موارد شته چې یوازي مسلکي او اخلاق ممانعت لري نه قانوني ،دبیلګي په توګه په خبري ژانرونو کې دانډول نه مراعتول ،دپټوکامرو کارول او ورته نور مسایل چې یوازی داخلاقي او مسلکي پولو په چوکاټ کې را ایساریږي

.

ښاغلی لیوال همدا مسله داسی روښانه وي :

(( جرم یوازي هغه وخت یوکار ته ویلاي شو چې دقانون په چوکاټ کې هغه مجازاتو وړ وي یعني قانون حکم وکړي چې دا کارله احکامو او قوانینو سره په ټکرکی دی ځکه اخلاق په عام ډول باندي حاکم ندي یا په ټولو الزامي نه دي حال دا چې قوانین الزامي دي او دقوانینو او اخلاقو حکم همدا دي چې قوانین ډیر عام دي په ټولو دتطبیق وړ دي یعني یوه اداره شته چې دغه قوانین په ټولو باندی په یوه ډول تطبیقوي دهمدې لپاره کله جرایم وایو دا تر ډیره قانوني مسله ده نه اخلاقي))

که څه هم دشویو څرګندونو له مخې مطبوعاتي جرمونو دبیلابیلو ټولنو له مخې توپیر لري چې دقانون په چوکاټ کې تعریف شوي خو له مسلکي پلوه بیا یو لړ نړیوال جرمونه هم شته چې په ټوله نړۍ کې دژورنالیستیک ډګر لارویانو ته متوجه وي په اړه یې یوځل بیا ښاغلی لیوال :

(( مطبوعاتي جرایم تر ډیره په دوه ډوله دي یو دجرایمو عامه پیژندنه ده چې په ټوله دنیا پوري مربوطه وي یعني هغه نړیوال اخلاقی موازین چې دمطبوعاتو لپاره شته بل ډول خاص قوانین دي چې دهرهیواد او هرې ټولنې له ارزښتونو او قواعدو سره سم جوړیږي او دغه مطبوعاتي جرایم دهغو له نظره سنجول کیږي .

له مسلکي پلوه هم مطبوعاتي جرایم په دوه ډوله دي یوه هغه دي چې تاسو دژورنالیزم بین المللی قواعد مات کړئ او دغه قواعد ترپوښو لاندي شي چې دا تر ډېره حده مسلکي او تخصوصي جرم دي خوکه تاسو دژورنالیستیکي وظیفي په جریان کې یا دیوې رسنی په نمایندګۍ داسی یوڅه وکړي چې عمومي مدني قوانین مات شي نو دا هم ژورنالیستیکي جرم ګڼل کیدای شي ))

وړاندي تر دې چې دمطبوعاتي جرایمو دپلټولو او موندني پر موضوع وغیږو باید روښانه شی چې دحقوقي پلوه هر جرم یولړ عناصر لري چې له مخې جرم ثابتیدای شي او کنه خبره یوازي د تور او اتهام ترپولو نه اوړي دمطبوعاتي جرایمو په لړ کې هم ددغو دریو عناصرو شتوالی حتمي وي :

۱-خپروني (نشریه )

۲-شفاهی یا لیکنی یا څرګندوني

۳ انتشار یاخپرول

دمطبوعاتي جرایمو دکشف اوموندي لپاره درې یاد عناصر خورا مهم دي خو داچې دیو مطبوعاتي جرم دترسراوي پرمهال مسولیت چاته راجع کیږي بیا هم دهیوادونو او ټولنو قوانین سره توپیر لري په یوشمیر هیوادونو کې دقوانینو خلاف دیومطلب دخپرولو پرمهال لومړي

مسوليت خپله ليکوال ته راجع کيږي او بيا په وروستيو پړاونوکې دخپرني مسول مدير دچاپ ډلی او بلااخره ويشونکي ډلی ته چې ديو اوبل په نشتوالی کي ورستيی کس تر پوښتني لاندي راځي خوپه ځينو نورو هيوادونو کې بيا ياد هرکس ترخپل واک او صلاحيته

تر پوښتني لاندي راتلای شي او داسی هيوادونه هم شته چې ټول مسوليت يوازي يوازي دمطلب ليکوال ته راجع وي دهيوادونو او قوانينو دهمدغو توپيرونو په رڼا کې ديو مطبوعاتي جرم پرمهال دمجرم معلومولو ته ليکوال او ژورناليست عبدالغفور ليوال دا راز اشاره کوي .

(( دا مسله بيلابيل ويشل کيږی په يوشمير رسنيو کې ټول سياسی او حقوقی مسوليت خپله رسنۍ په خپله په غاړه اخلی په داسی حال کې بيا رسنۍ مقصره وي خو يوشمير داسی رسنۍ وي چې په خپله خط مشي کې واضحه ليکي چې دغه نظريات چې مطرح کيږي هغه دليکوال دي او موږ ورسره موافقه نلرو پدې صورت کې دجرم مسوليت دوه برخي کيږي لومړي مسوليت دليکوال په غاړه وي او دجرم بله برخه رسنۍ ته هم راجع وي ))

دا چې دمطبوعاتي جرم او مجرم موندني او کشف مسوليت څوک لري او څوک يې پلټي په اړه يی استاد الهي داسی وايی :

(( کله چې يوه رسنۍ کې داسلام دسپيڅلی دين خلاف او د امنيتی ارګانونو اړوند پوځي امنيتی اسرار اوپټ رازونه خپاره کړي نو امنيتی ،مذهبي او نورو اړوند ارګانونو يی دڅارني او پلټني دنده لري چې ژورناليست ځواب ورکول ته اړباسی ))

دمطبوعاتي جرايمو تر پيژندلو وروسته همدغه مسله په افغانستان کې څيړو چې دافغانستان په قوانينو کې مطبوعاتي جرايم څنګه تعريف شوي او تر کومه بريده دپلی کيدو وړ دي نيږدي يوه پيړۍ وړاندي کله چې په اماني دوره کې دنسبي ولس واکۍ فضا وغوړيده د ډيرونورو برياوو ترڅنګ

دازادو رسنيو منځته راتک او بيا درسنيو دقانون تصويبيدل هم يوه له مهمو لاسته راوړنو څخه وه داچې افغانستان يو اسلامی او عقيده وي ټولنه وه نو دهماغه پيله درسنيو په قانون کې دنور ګڼو مواردو ترڅنګ اسلامي او انساني ارزښتونو ته پام نيوي هم له مهمو مسايلو څخه و چې بايد رسنۍ ورته متوجه واي او مراعت کړي يی وای که څه هم له هغه وخته بيا تر ننه دمختلفو رژيمونو په راتګ سره درسنيو په قانون کې يوشمير تعديلونه راغلل خو په ټولو کې داسلامي ارزښتونو مراعتول يوه حتمي برخه وه او تري سرغړونه يو مطبوعاتي جرم ګڼل کيده .

ټول ژورنالستان بايد په دې پوه وي چې له قانون څخه بې خبري عذر نه بلل کيږي ،يوازې اشخاص نه بلکې که رسنۍ هم له قانون څخه سرغړونه وکړي نو دجرم مرتکب ګرځي .

جرم يوه نسبي پديده ده او هر هيواد په نافذ ه قوانينو پورې اړه لري او دهغې په رڼاکې تعريف شوی دی .

ټو هغه کارونه او سرغړونې چې له رسنۍ څخه صورت نيسي او دهغه پايله دنافذه قوانينو ترپښو لاندې کيدل ، دهيواد ارزښتونو ته تاوان رسول او د يو حقيقي او خصوصي شخص حيثيت بربادول مطبوعاتي جرم بلل کيږي .

پس مطبوعاتي جرم دهيواد دنافذ قوانينو نو يو خلاف عمل دي چې درسنيو دکارمندانو له خوانه ترسره کيږي او دهرهيواد په قوانينو کې درج شوی دی ،مطبوعاتي جرم بايد دمطبوعاتو په قانون کې واضح شوی وي .

په حقوقي ترمينالوژي کې دمطبوعاتو جرم داسې تعريف شوی دی :

مطبوعاتي جرم عبارت دی دورځپاڼې ،مجلې ،يا خپرونې په وسيلې سره له توهين او افترا څخه

چې درسمي دندې يامقام يا ټولنيزې او يا له سياسي لحاظ ديوه شخص يا اشخاصو په اړه وي .

همدارنګه د مطبوعاتو په قانون کې په ۱۳۸۴ په ایران کې داسی تعریف شوی دی : مطبوعاتي جرم عبارت دی دورځپاڼې ،مجلې یا خپرونې په وسیلې سره له توهین او افترڅخه چې درسمي دندې یا مقام یا ټولنیزې او یاله سیاسی لحاظ دیو شخص او یا اشخاصو په اړه وی عبارت دی له مطبوعاتی جرم څخه .

همدغه پورته ذکرشوي تعریف نشو کولای چی کاملا په نظر کې ونیسو لکه څرنګه چې دایران په مطبوعاتو کې دجرم په اړه داسی راغلی دی .

۱- دهغه اطلاعاتو او خبرونو دنشرڅخه خوداری کول کوم چې دټولنې لپاره مضرتمامیږی .

۲- دهغه اطلاعات خپرول کوم چی فحاشی او دخلکو ترمنځ بی اتفاقي رامنځ ته کوی .

۳- دناسمو خبرونو خپرول کوم چې عامه ذهنیت ګډوډوي .

۴- دخصوصی او نظامی اسرارو افشا کول .

بعضې انګلیسي حقوق دانان په دې عقیده دی چې مطبوعاتي جرم خاص جرم ندي مګر مرتکب دجرم کیږی .چې داموضوع دعمومي حقوقو ده .بعضې هیوادونه لکه فرانسه ،بلژیک چې دمدون حقوقو دسیستم لرونکي دی . مطبوعاتي جرمونه په دوه برخو تقسیموي چي په اوله برخه کې یی دمجازاتو قانون شامل دي لکه توهین ،افترا ،درواغجن نشرات ؛ ددغه جرایمو لپاره دمطبوعاتو قانون جزا تعین کړی ده دوهمه برخه یې مسلکي جرایمو ته ځانګړې شوې ده چې دحقوقو

،سیاست ،او مطبوعاتو له نظره ارزښت لري .مطبوعاتي جرم یومستقل جرم ندی بلکې شامل په هغه جرمونو کې دی چې یودولت دمطبوعاتو لپاره وضع کړی وي

مطبوعاتي جرم ځانګړتیا وې :

څوچې یوه موضوع له یوې رسنۍ څخه خپره او دعامو خلکو په اختیارکې ورنه کړل شي مطبوعاتي جرم نه بلل کیږي .

نو په دې لحاظ ویلي شو چې دمطبوعاتي جرم بنسټ او اساس عبارت دی له افشا او علني کولو څخه که مقصد پکې شامل نه وي هغې ته مطبوعاتي جرم نه ویل کیږي .

خو همیشه باید په دې ټینګارونه شي ځکه چې رسنۍ به همیشه اشتباهات کوي .

تخلف : (سرغړونه )

دجزا دقانو ن له مخې تخلف یاسرغړونه له قانو ن څخه دسرغړونې په ما نا دي چې په دې حالت کې له جرم سره مترادف بلل کیږي .

داداري حقوقو له نظره درسمي دندې پرمهال له ادراي مقرراتو څخه سرغړونه تخلف بلل کیږي ،چې په دې حالت کې ورته انظباطي تخلف ویل کیږي .

دجرم او تخلف دجزا سیستم :

انظباطي تخلف دجزا مرتکب له دندې سره په تناسب کې قرار لري لکه سرزنش ،تعلیق  موقت او دایم او داسې نور .

اما جزایې جرم غالبا له دندې سره تماس نه لري او دهغې جزا لکه اعدام ،حبس او دنقدي جرمي اصول په خپل برکې نیسي .

دمطبوعاتي جرم دارتقا په صورت کې لاندې یولړ مراتب په نظرکې نیول کیږي ،چې په  دې سلسله کې دامتیاز خاوند ،مسول مدیر ، خبرنګار او دهغه نور همکاران دمسولیت له مخې مسول بلل کیږي .

نو په همدغه  مسله ددې باعث ګرځي څو مطبوعاتي جزا له یو لړ ستونزو سره مخامخ شي .

په مطبوعاتي جرم کې ډېر کسان له لیکوال ،مسول مدیر ،دامتیاز خاوند ،اډیټور ،خبریال او ویشونکي شامل دي .

دمطبوعاتي جزا په اړه دري نظریې وجود لري :

۱- داجتماعي مسولیت نظریه :

ددغې نظریې پربنسټ ویلې شو چې په دې مسله کې داخل کسان دجزا دمسولیت درلودونکي وي .

۲-ترتیبي نظریه :

ددې نظریه پربنسټ ویلي شو چې په دې سیستم کې درتبو سلسله په نظرکې نیول کیږي ،

ددغې له مخې  لیکوال اصلي مسول بلل کیږي ،مسول مدیر او خپرونکي په دوهمه درجه کې قرار

لري او همدارنګه نور افراد .

په دې برخه کې نورمرتکبین په هغه صورت کې ترعدلي تعقیب لاندې راځي چې په لومړي کتګوري

کې نورخوک ترپوښتنې لاندې ونیول شي .

۳- دبې پروايي ( غفلت نظریه ) :

دپورتنۍ نظریه پربنسټ ویلي شو چې په دې صورت کې دجزا مسولیت یوازې دیوشخص پرغاړه ده

او دغه جزا نورو کسانو ته مصونیت وربښي .

دنړۍ په ډېرو قوانینو کې مطبوعاتي جرم له مطبوعاتي تخلف څخه جد ا بلل شوي اماد

دافغانستان  دمطبوعاتو په قانون کې دجرم او تخلف ترمنځ په مستقیمه تو ګه فرق وجود نه

لري ،تخلف په جوته توګه نه دی تعریف شوي او همدارنګه له مطبوعاتي جرم څخه منځته نه

دي راغلي .

مګر دممنوعه توکیو دنشر او خپرولو داحکامو داتم فصل د ۳۳ مادې له منځپانګې څخه په

دې باندې پوهیږو چې دلاندینیو توکیو خپرول مطبوعاتي جرم بلل کیږي .

(( دلاندېنیو تو کیو خپرول په ډله ایزو رسنیو کې جواز نه لري .))

۱- هغه توکي چې داسلام دمقدس دین سره په ټکر او نورو ټولو ادیانو ته پکې توهین وي .

۲- هغه توکي چې داشخاصو حرمت ته تاوان او افترا بلل کیږي .

۳- دجګړې خشونت ،تبلیغ او ټول هغه مواد چې دافغانستان داساسي قانون له حکمونو سره په مغایرت کې وي او یاد جزا له قانون سره هغه هم جرم بلل کیږي .

۴- دخشونت او تجاوز دقربانیانو دهغو دانځورونو افشا کول چې په یو ډول دډولونو دهغوي ټولنیز موقف ته صدمه رسوي .

دافغانستان دډله ایزو رسنیو په قانون کې نقدي جریمې :

په ۳۵ ماده کې دجریمو ترسرلیک لاندې داسې راغلي دي ؛ دغه جریمې دداسې حکمي او حقیقي اشخاصو لپاره وضع شوي ، چې ددې قانو ن مطابق له قانون څخه سرغړونې په صورت کې دجرمي عمل مرتکب شي او باید ټول یې په دوه اونیو کې ثبت کړي .

ټول حکمي او حقیقي اشخاص چې ددې قانون له رعایتولو څخه پرته یې دافغانستان په قلمرو کې دډله ایزو رسنیو ،مطبوعاتو ،نشراتي موسسو ،دژورنالیزم په ښوونیزو بنسټونو دڅانګو په دفترونو او دتبلیغاتو او اعلاناتو په تاسیسولو لاس پورې کړي په لاندې توګه په نقدي جریمه او ددوه اونیو په اوږدوکې په ثبتولو مکلف دي .

الف : هرکله که موسسه او دایروونکي حقیقي شخص وي په لاندې توګه جریمه کیږي .

۱- تلویزیون : ۵۰۰۰۰زره افغانۍ

۲- راډیو ۳۰۰۰۰زره افغانۍ

۳- آژانس ۳۰۰۰۰زره افغانۍ

۴- کیبلي شبکه ۱۰۰۰۰۰زره افغانۍ

۵- چاپي خپرونه : ۱۰۰۰۰زره افغانۍ

۶- مطبعه : ۵۰۰۰۰زره افغانۍ

۷- نشراتي موسسه : ۵۰۰۰۰زره افغانۍ

۸- دارالترجمه : ۲۰۰۰۰زره افغانۍ

۹- دتبلیغاتو او اعلاناتو شرکتونه : ۱۰۰۰۰۰زره افغانۍ

۱۰- دژورنالیزم روزنیز بنسټونه : ۵۰۰۰۰زره افغانۍ

۱۱- رسالې او کتابونه : ۱۰۰۰۰زره افغانۍ

ب : هرکله که موسسه او دایروونکي حکمی شخص وي په لاندې توګه جریمه کیږي .

۱- تلویزیون : ۶۰۰۰۰زره افغانۍ

۲- راډیو : ۴۰۰۰۰زره افغانۍ

۳- آژانس : ۴۰۰۰۰زره افغانۍ

۴- چاپي خپرونه : ۱۲۰۰۰زره افغانۍ

۵- کیبلي شبکه : ۱۲۰۰۰۰زره افغانۍ

۶- مطبعه : ۶۰۰۰۰زره افغانۍ

۷- دارالترجمه : ۳۰۰۰۰زره افغانۍ

۸- داعلاناتو او تبلیغاتو شرکتونه ک ۱۲۰۰۰۰زره افغانۍ

۹- کتاب او رساله : ۱۲۰۰۰زره افغانۍ .

ددې فقره په دوهم بند کې راغلي دي هرکله چې په دې ماده حکمي او حقیقي اشخاص ددوه اونیو په اوږدو کې دخپلې رسنۍ په ثبتولو لاس پورې نه کړي رسنۍ یې بندیږي .

دافغانستان دجزا قانون او مطبوعاتي جرم :

دډله ایزو رسنیو له قانون څخه سربیره دجزایي مسولیتونو دتثبیت ترټولو لویه سرچینه دافغانستان د۱۳۵۵هـ ش کال دتلې دمیاشتې دجزا قانون دی چې د۵۲۳ مادولرونکی دی

په دغه قانون کې دمطبوعاتي جرمونو بيلا بيلو برخو ته خاصه توجه شوې ده ممکن دغه عمل ژورنالستان او يا عادي کسان ترسره کړي خو په دواړو حالتونو کې يو ډول جزا ورته تعين شوې ده .

دافغانستان دجزا په قانون کې هغه مواردو ته چې درسنۍ له خوا دجرم عمل ورته ويلی شو داسې مشخص شوي دي .

١- دټو لو هغو خبرونو او اطلاعاتو خپرول چې له عامه ګټو سره په مغايرت کې واقع وي .

٢- دهغه اطلاعاتو او خبرونو خپرول چې دهيواد او عامه امنيت ګډوډوي او د دولت نظا مي ديپلو ماتيک او رسمي اسرار افشا کړي .

٣- دهغو اطلاعاتو او خبرونو خپرول چې داسلام ددين له اصولو سره په ټکر او يا اسلامي ارزښتونو او ياهم مذهبی شخصيتونو ته توهين بلل شوی وي .

۴- دهغو خبرونو او اطلاعاتو خپرول چې خلک ارتاد ته دعوت کړي .

۵- دهغو غيررسمي جلسو خپرول چې دپارلمان ،قضا او نورو تقننی موسسو څخه جوړيږي .

۶- دمغرضانه دروغو او کاذبو خبرونو او اطلاعاتو خپرول .

۷- دهغو صحیح خبرونو او اطلاعاتو خپرول چې مضر وي .

۸- دهغو خبرونو او اطلاعاتو خپرول چې په هره برخه کې زورزیاتي ته لمن وهي .

۱۰- دهغو خبرونو او اطلاعاتو خپرول چې دجرم او جنایت تائید او دقانون دنه رعایتولو لپاره تبلیغ گڼل کیږي .

۱۱- دهغو خبرونو او اطلاعاتو خپرول چې خلک دفحشا لوري ته تشویق کړي .

۱۲- دښکاره وسایلو په واسطه ملي بیرغ ،ملی سرود او افغان ملت ته توهین .

۱۳- دهغو اشخاصو په وړاندې توهین او دهغوی حرمت ته صدمه رسول چې په عامه خدماتو کې دوظیفې پرمهال دي .

۱۴- دعلني وسایلو په واسطه داتباعو لپاره توهین او دهغې حرمت ته صدمه رسول .

درسنیو او مطبوعاتي جرمونو په اړه دجزا دقانون مادې :

په تیرو بحثونو کې درسنیو اړوند ځینې جرایم مو وپیژندل په دې برخه کې کوښښ کیږي هغه مسایل چې لاتراوسه بررسي شوي ندي هغه تربحث او څیړنې لاندې نیول کیږي .

دجزا په قانون کې دعلني وسایلو تعریف :

۱-ویل هغه وخت علني ګڼل کیږي چې په عام محفل ،عامه لار او یانورو ځایونو کې په داسې توګه په جهره سره وویل شي او یاد نوروسایلو په واسطه نشر شي چې که په هغه ځای کې که څوک حاضروای اوریدلي به یې وای

۲- فعل هغه وخت علني ګڼل کیږي چې په عام محفل ،عامه لار او نورو ځایونو کې په داسې توګه واقع شي چې په هغه ځاي حاضرواي هغه به یې لیدلی واي .

۳- رسم ،تصویر ،فلم ،لیکنه ،کنایه او داسې نورتمثیلي وسایل هغه مهال علنی بلل کیږي چې له یوه کس څخه ډیروته توضیح شي او یا په داسې توګه ننداریږ ته وړاندې شي چې که په ځاي کې څوک وای نوهغه به یې لیدلي وای .

ځینی قانوني اصطلاحات :

قذف :په لیکلي یانالیکلي ډول نورو خلکو ته ناوړه خبرې ،ښکنځل لعنت ویل په یو چا باندې دزنا تورلګول .

افتر : یوچاته ددرواغو نسبت کول او دیوکس په اړه ناسمې خبرې جوړول .

شطم : دیو چا په اړه داسې کلمات ،حرکات او بیان چې دهغې پرحیثیثت یرغل وکړي او دخلکو په وړاندې یې ټیټ راولي .

فتنه : لغوي مانا يې فريب ،ناسمه لارښوونه ،تېرايستنه او شکنجه او همدارنګه ديو چا په وړاندې فتنه اميزه خبره او ديومشروع دولت پرمشروعيت يرغل .

په افغانستان کې درسنیو دتاسیسولو شرایط

په افغانستان کې دتنبهي حقوق نظام په حاکمیت سره دهغو هېوادنو له جملې څخه دی ،چې درسنیو دتاسیسولو له پاره داعلام نامې او نوم ثبتونې له طریقې څخه کاراخیستل کیږي .

دافغانستان داساسی قانون په ۳۴مه مادې په یوه برخه کې داسې راغلی چې هرافغان داحق لري چې دقانون داحکامو سره سم دمطالبو په چاپ او نشرولو پیل وکړي باید دیوې اساس نامې لرونکي وي چې په اساس نامه کې اهداف ،دندې ،تشکیل ،مالي تمویل او مالي سرچینې ښودل کیږي البته دمالي سرچینو یادونه باید په شفاف او علني ډول وشي .

دافغانستان دې ډله ییزو رسنیو دقانون پراساس دهېواد وګړي ،سیاسي ډلې ،ټولنیزسازمانونه او کورني غیرې دولتي موسسې کولی شي چې چاپي او برقي رسنی تاسیس کړي او همداراز دبهرنیو هېوادونو اخیستونکي هم کولای شی چې دټاکلیو شرایطو لاندې رسني تاسیس کړي .درسنیو دثبت په باره کې داطلاعات اوفرهنګ وزارت یوه دنده داده چې رسنی باید ثبت کړي دافغانستان درسنیو قانون په یوویشتمه ماده کې ددې ذکرراغلی دی چې دافغانستان درسنیو قانون په ۱۳۸۴کال کې تسجیل شوی دي .

دامتیازخاوند مکلف دی چې برقي ،چاپی ،آژانسونو دزده کړی مرکزونه ،ژورنالیزم

،نشراتی موسسات ،مطبعې ،دارالترجمې او تلبیغاتي شرکتونه ،اعلانات ددرلودونکو

شرایطو په اساس چی دقانون په ۲۳-۲۸ ماده کې ذکرشوی دی خپله رسنۍ په

اطلاعات او کلتوروزارت او تروریزم کې ثبت کړي .

په افغانستان کې رسنۍ کولای شي چی مخکې دثبت کیدلو څخه نشرات وکړي

مګروروسته له دوهفتو نشراتو څخه باید خپله رسنۍ ثبت کړي .

دهغه مشخصاتو په اړه چې په اطلاعات او کلتوروزارت او تروریزم ته وړاندې شی

داسې راغلي دی .

درسنیو دامتیازخاوندان ،مطابع ،نشراتی موسسې دزده کړې نهادونه ،دارالترجمې

،تبلیغاتي شرکتونه او اعلانات مکلف دی چې خپلې بیان نامې او معلومات دثبت په

خاطر اطلاعات او فرهنګ وزارت او تروریزم ته تقدیم کړي .لکه مکمل شهرت

،دفعالیت ډول ،نوم او دفعالیت ځاي ،هدف او دفعالیت مرام ، دتمویل منبع او

دسرمایی اندازه .

۲- دبرقی ،مطابع ،آژانسونه ،دژورنالیزم دزده کړې نهادونه ،نشراتي موسسې او

تبلیغاتي شرکتونه ،دکیفیت او کمیت نه ثبت اعلانات ماشین آلات او تجهیزات او

درسنیو لپاره چاپي ،تیراژ ،ژبه دمحتو ا ډول ،دچاپ وعده مخکې دثبت نه ضروری ده .

که چیرې اطلاعات او فرهنګ وزارت او تروریزم درسنی دثبتولو څخه انکاروکړی نو په دې صورت کې دامتیاز خاوند کولای شی دشکایاتو دبرسی کمسیون ته مراجعه وکړي که چیری یی دلته هم قناعت حاصل نشی نوبیا کولای شی په محکمه کې خپله عریضه وړاندې کړي .

درسنیو دتاسیس لارې چارې

په افغانستان کې درسنیو دتاسیس شرطونه :

داساسی قانون ۳۴ماده حکم کوي (دبیان آزادی له تیری څخه خوندي ده ).

هرافغان حق لري چې خپل فکردوینا ،لیکنې انځوراو نورو وسیلو له لارې په دې اساسي قانون کې دراغلیو حکمونو په رعایت څرګندکړي .

هرافغان حق لري دقانون له حکمونو سره سم مطالب بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښيي ،خپاره او نشرکړي .

دمطبعو ،راډیو او ټلویزیون ،دمطبوعاتو دخپرولو او دجمعې ارتباط په نورو وسایلو پورې مربوط حکمونه دقانون له لارې تنظمیږي .

دافغانستان درسنیو قانو ن په اړه داسې حکم کوی .

لسمه ماده :

۱- دهېواد اتباع ،سیاسي ګوندونه ،ټولنیز سازمانونه ،کورنۍ غیردولتی موسسې او دبهرنیو هېوادونو پناه غوښتونکي او دولتي ادارې کولای شی ددغه قانون دحکمونو سره سم چاپی رسنې تاسیس کړي .

۲- په افغانستان کې بهرنۍ سیاسي نماینده ګۍ ددیپلو ماتیکو موازینو په پام کې نیولو سره کولای شي چاپي خبرنامې په چاپولو او خپرولو لاس پورې کړي .

۳- دنړیوالو او بین الحکومتي موسسو نمایندګۍ کولای شي دخپل کارپه ساحو کې داړوندو وزارتونو دمو افقې په ترلاسه کولو سره عملي څېړنو او دموقوتو او غیرموقوتو خپرونو په چاپولو او خپرولو لاس پورې کړي .

۴- رپوټونه او عملي څېړنې داړوندو وزارتونو او ټولنو دمخکې اطلاع په اساس صورت نیسی .

۵- هغه بهرنۍ غیردولتي موسسی (NGOS)چې دقانون دحکمونو سره سم جوړې شوې وي ،کولای شي دخپل تخصصي کارپه ساحه کې داطلاعاتو او فرهنګ وزارت داجازې له ترلاسه کولو وروسته ،چې مسول مدير ئې دافغانستان له اتباعو څخه وي دمو قوتو او غیرموقوتو خپرونو په خپرولو لاس پورې کړي .

۶-ددغه قانون ددریمې مادې په دویم جز کې مندرجې رسنۍ ثبت څخه پرته تاسیس او خپریدلاي شي .

په هغه صورت کې چې خپرونه مخکې له ثبت څخه خپره شوې وي دامتیاز خاوند مکلف دي چې ددوه اوونیو په بهیرکې خپله خپرونه ددغه قانون داحکامو سره سم ثبت کړي .

دپټې او نورو مشخصاتو درلودل :

يولسمه ماده :

چاپي رسني ،دخپروني نوم ،مشخصه پته ،دمطبعې نوم او ځاي ،دامتياز دخاوند او مسوول مديرنومونه او دهغې دخپرولو نېټې درلودونکي وي .

دولسمه ماده :

دهيواد اتباع ،سياسي ګوندونه ،ټولنيزسازمانونه ،کورنۍ غيردولتي موسسې او دبهرنيو هېوادونو پناه غوښتونکي او دولتي اداري کولای شي ددغه قانون دحکمونو سره سم بريښنايي رسنۍ تاسيس کړي .

دامتيازخاوند :

دامتيازخاوند کېداي شي حقوقي ياحقيقي شخص وي .دافغانستان درسنيو قانون له مخې دامتيازخاوند که حقيقي وي ياحقوقي بايد چې دهيواد تابعيت او سند ولري .تراتلس کلنۍ کم نه وي او دواکمنې محکمې له خوا له مدني حقونومحروم شوی نه وي .

درسنيو په قانون کې دې ټکي ته داسې اشاره شوېده :

ټولیزې رسنۍ او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې مندرجې موسسې باید

دامتیازخاوند درلودونکي وې

دامتیاز خاوند شرطونه :

دیرشمه ماده :

دټولیزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې دمندرجو موسسو

دامتیازخاوندان دلاندې شرایطو درلودونکي دي :

الف :حقیقی شخصیتونه :

۱: دهېواد تابعیت ولري

۲- داتلس کلنۍ عمربشپړول

۳-دواکمنې محکمې دحکم پراساس دمدني حقونو څخه نه محروم والی .

ب - حکمی شخصیتونه :

۱-په اړونده دولتی اداروکې ثبت اوراجستر .

۲- داړوندو موسولو ادراو له خوادافغانی هویت تثبیت .

ددغه قانو ن دلسمې مادې په دویمه او درېیمه فقره کې درج شوي اشخاص او ټولنې

ددې حکم څخه مستثنا دي .

۳- دواکمنې محکمې دحکم پراساس له مدني حقوقو څخه نه محروم والی .

بهرنۍ موسسې او شخصیتونه باید دخپل متبوع هیواد دتابعیت سند ولري .

داساسنامې لرل :

یودیرشمه ماده :

دټولیزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې دمندروجو موسسو دامتیاز

خاوندان مکلف دي دخپلو رسنیو او یاموسسو په اړه لازم معلومات او دهغوي

دفعالیتونو څرنګوالي په اړه خپله اساسنامه کې ،چې دموخو ،تشکیل ،دندو پانګې

شمېره ،مالي سرچینو او واک لرونکي وي ، سمبالوي .

دفرهنګي رسنیو او موسسو ثبتول :

دوه دیرشمه ماده :

دټولیزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې دمندرجو موسسو دامتیازخاوندان

مکلف دي دلاندینو معلوماتو لرونکی لیک ،دثبتولو په موخه داطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته

وړاندې کړي :

۱:بشپړ شهرت .

۲-دفعالیت څرنګوالي .

۳-درسنۍ نوم .

۴-دهغې دفعالیت ځاي .

۵-دفعالیت موخه او مرام .

۶- دتمویل سرچینه او دپانګې اندازه .

۷-دچاپی رسنیو لپاره ټوک ،ژبه دنشراتي منځپانګې ډول دچاپ موده او دکچې صحافت .

۸- په بریښنايي رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې مندرجې موسسو دماشینونو او تجهیزاتو دڅرنګوالي او څومره والي تثبیت .

دپتې او ځانګړي نښان درلودل :

څلوردېرشمه ماده :

ټولنیزې رسنۍ او دغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې مندرجې موسسې دپتې ،مهراو ځانګړي نښان درلودونکي وي .

محکمې ته دمراجعې حق .

پنځه دېرشمه ماده :

که چیرې دامتیازخاوند دجوازدنه ثبت یاصادرولو په باب داطلاعاتو او فرهنګ وزارت تصمیم دقانون دحکمونو مغایروبولي ،کولای شي اړوند کمسیون ته مراجعه وکړي .دنه قناعت په صورت کې دمحکمې پروړاندې دعوي وکړي .

(۱) دتولیزو رسنیو (پلورنه ،هبه ،میراث ) او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې دمندرجو موسسو دملکیت او دفعالیت جواز لیږدونه لري .

۲- دفعالیت دامتیاز حق هغه شخص ته لیږدول کیدای شي چې په دې قانون کې مندرجو شرطونو لرونکی وي .

۳- بل شخص ته درسنیو او یاد پورته ذکرشویو موسسو دملکیت یادامتیازحق دخرڅلاو او یادهغه دهبه په صورت کې ددغه قانون په احکامو کې مندرج مراتب بیا تطبیقیږي .

۴- دامتیاز خاوند دمړینې یاد حقوقي اهلیت دلاسه ورکولو په صورت کې دمادی ملکیت په باب دمدني قانون او ددغه قانون له حکمونو سره سم اجرات کیږي او معنوي امتیاز یې هغه شخص ته لیږدول کیږي چې وارثان ورسره مو افقه ولري او ددغه قانون په حکمونو کې درج شوي شرطونه ولري

کله کله یوه رسنۍ له ټاکلو بریدونو تیري کوي نو درسنیو په قانون دامتیازدبیرته اخیستلو په اړه هم راغلي دي .

دامتیازسلبول :

اووه څلویښتمه ماده :

(۱)هغه حقیقی یاحکمي اشخاص چې یوه رسني داطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کې ثبتوي ،په هغه صورت کې چې چاپي رسنۍ دثبت له نیټې څخه تریوه کال پورې او ددغه قانون په اووه ویشتمه ماده کې مندرج بریښنا یي رسنۍ دثبت له نیټې څخه تریوه کال پورې او ددغه قانون په اووه ویشتمه ماده کې مندرج بریښنا یي رسنۍ دثبت له نیټې څخه تردووکلونو پورې که چیرې خپل خپرنیز فعالیت پیل نکړي ،دهغوي امتیازسلب کیږي .

(۲)که چېرې دامتیاز خاوند دخپرونې له پیل څخه وروسته ،خپل خپرنیز فعالیت ودروي او دچاپي رسنۍ امتیاز خاوند او داووه ویشتمه مادې مندرج موسسې تردوو کلونو پورې بیا په خپرنیز فعالیت پیل ونکړي دهغه امتیاز سلبیږی .

دبیا فعالیت په صورت کې ددغه قانون په یو دېرشمه او څلوردیرشمه ماده کې دمندرجو پړاونودبیا په ترسره کولو مکلف دي .

لومړی څپرکي

عمومي حکمونه

لومړی ماده :

داقانون داسلام دسپېڅلي دین داصولو او احکامو ،داساسي قانون دڅلوردېرشمې مادې له حکم سره سم او دبشردحقونو دنړیوالې اعلامیې دنولسمې مادې په پام کې نیولو سره دفکر او بیان دآزادي دحق دتامینولو او په هیواد کې دټولیزو رسنیو دوسایلو دفعالیت دتنظیمولو په مقصد وضع شوی دي .

موخه :

ددغه قانون موخې عبارت دې له :

۱- دفکراو بیان دآزادۍ دحق تضمین او ملاتړ .

۲- دخبریالانو دحقوقو ملاتړاو دټولنیزو رسنیو دوسایلو دآزاد فعالیت دشرایطو تامینول .

۳- دآزادو ،خپلواکواو پراخ بنسټو ټولیزو رسنیو دوسایلو رواجول او پراختیا.

۴- دخبرو،لیکنو ،رسم ،تصویر په کسټ کې دثبتولو ،تمثیل ،حرکت او نورو علمی ،ادبی هنری او دچاپ او خپرولو په واسطه دهېواد داتباعو دفکراو احساس او په عادلانه تو ګه دحقایقو دڅرګندولو لپاره دمناسبو زمینو برابرول .

۵- داسلام دسپڅلی دین دحکمونو داصولو درعایت سره سم دبشردحقونو په نړیواله اعلامیه کې دبیان او دتولنیزو رسنیو دمسجل اصول رعایتول .

۶-دټولنیزو رسنیو دسالمې ودې په موخه مرسته په داسې ډول چې وکولای شي په هېواد کې صحیح اخبار ،اطلاعات ،ښوونه اوروزنه ،دعلم او ثقافت دخپرولو او اغېزمن وسایل وي او دخلکو نظرېي دژورنالیستکي معیارونو ،اصولو او ارزښتونو صداقت ،بې پلوئ او انډول سره سم منعکس کړي .

اصطلاحات :

درېیمه ماده :

په دې قانون کې لاندنې اصطلاحات لاندېني مفاهیم لري :

۱-رسنئ:

له لاندني وسایلو څخه په ګټه اخیستنې سره دپیغام ،معلومات او اطلاعات دلیږدونې وسیله ده .

- برېښنایې رسنئ :راډیو ،تلویزیون ،کېبلی شبکه او انټرنیت .
- چاپې رسنئ: ورځپاڼه ،جریده (اووه نیزه پنځلس ورځنئ ،میاشتنئ خپرونې ،مجله درې میاشتنی ،کلني پوستر او خبرلیک .
- په دې قانون کې ټولیزې رسنئ په لاندې ډولونو وېشل کیږي .

- عامه رسنۍ: هغه رسنۍ دي چې په عامه خلکو پورې اړه لري ،ددولت او اعلانونو دخپرولو او دخدماتو دوړاندې کولو له لارې تمویلیږي .
- خصوصي رسنۍ هغه رسنۍ دي چې په حقیقي اشخاصو او سیاسي ،اقتصادي ،ټولنیزو او فرهنګي سازمانونو پورې اړه لري او دهغو لخواسمبال او تمویلیږي .

- خبریال:

هغه حرفوي او مسلکي شخص دی چې درسنیو له لارې خپره نیز مواد او منځپانګه برابراو وړاندې کوي .

- مطبعه : هغه اقتصادي او تخنیکي دستګاه ده چې چاپي خدمات ترسره کوي .
- طابع : هغه حقیقي یاحکمي شخص دی چې دملکیت پربنسټ یادمالک په استازیتوب په فعال ډول دمطبعې دچارومتصدي وي .
- ناشر(خپرونکي ): هغه حیقیقي یاحکمي شخص دی چې دغیرموقوتواثارودچاپولواو خپرولو اجازه لري .
- خپرول دټولیزو رسنیو له لارې دپیغام او خبردلیږدونې عملیه ده .
- دفلم دتولید موسسه : هغه ټولنه ده چې دخپلې اساسنامې او مو خو په رڼا کې مستند او سینمایي فلمونه او عکسونه او سلایدونه جوړوي .
- نشراتي موسسه هغه حکمي شخصیت دي چې داساس نامې له مخې تاسیس او دبرېښنایي ،چاپي ،موقوتو او غیرموقوتو رسنیو خپرونې ،له خپلو موخو سره سم چاپ او خپروي .
- دخبریالي روزنیزمرکز : هغه مرکز دی چې په لنډمهاله او اوږدمهاله توګه دخبریالي په مسلکي روزنې لاس پورې کوي .

- دارالترجمه : هغه حکمي موسسه ده چې داساسنامې سره سم حق لري مطالب او مضمونونه دیوژبې څخه بلې ژبې ته وژباړي
- دخبررسونې آژانس :

هغه حکمي شخصیت دی چې داړیکواو داطلاعاتودراټولولواورسولو په برخه کې فعالیت کوی .

دتبلیغاتو او اعلاناتو شرکت :هغه تجارتي حکمي شرکت دی چې له اساسنامې سره سم په تبلیغاتو او اعلانونو لاس پورې کوي .

- دنسخې اخیستنې حق (کاپی رایټ) :دثبت شویو خپرونو دمعنوي ملکیت او امتیاز دحق لرل دي چې له منل شویو معیارونو سره سم دجلامقرری په واسطه تنظمیږي .
- دامتیازخاوند : هغه حقیقي یاحکمي شخص دی چې دبرېښنایي ،چاپی ټولیزو رسنیو ،دخبریالي روزنیزومرکزونو،مطبعو،خپرنیزو موسسودارالترجمو،خبري آژانس ددفلم جوړولوموسسو او دتبلیغاتو او اعلانونو دشرکت په تاسیس او جوړولو لاس پورې کوي .
- راډیو : دټولیزواړیکواو خبررسولو سمعي وسیله ده .
- ټلویزون : دټولنیزو اړیکو او خبررسولوسمعي او بصري وسیله ده .
- کېبلي شبکه :دټولنیزو اړیکو سمعي او بصري رسنۍ ده چې ګډونوالوته ملي او نړیوال اطلاعاتي ،روزنیز،ښوونیز،فرهنګي اوتفریحي پروګرامونه وړاندې کوي

.

- اعلانات : حقیقي او حکمي اشخاصوته دیوډول سمعي اوبصري خدمتونو وړاندې کول دي چې په برېښنایي او چاپی رسنیوکې دپیسو او یامتقابل خدمتونو په بدل کې ترسره کېږي .
- مرسته (اعانه ) :دحقیقي او یاحکمي اشخاصو له خواهرډول مرسته ده چې دټولیزو رسنیو دمادي یامعنوي پیاوړتیا لپاره ترسره کېږي .

## لومړی څپرکی

اخـلاق

داجتماعي اخلا قو د نشتوالي له امله ټولنې نابوديږي، او همدارنګه د فردي اخلاقو د نشتوالي په صورت کې ټولنې خپل پایښت او ارزښت له لاسه ورکوي، نو د غوره او پرمختللې ټولنې په جوړښت کې د ټولنیزو او فردي اخلاقو شتون په مساوي ډول لازم او ضروري ګڼل کیږي.

اخلاق یوه عربي کلمه ده چې په لغت کې دخلق جمع او د خوی ،عادت او کړو په مانا سره راغلې ده او دهغې معادل په انګلیسي ژبه کې(Ethos ) څخه عبارت دی چې دیوناني ژبې د(Ethos) له کلمي څخه مشتق شوي اوپه اصطلاح کې اخلاق دفلسفې دعلم جز بلل کیږي ،چې دیوځانګړي علم په نوم مطالعه کیږي،نو ویلای شوچې((اخلاق هغه علم دی چې هغه د خلکو د فکرونو، ارادو او کردارونو ترمینځ اړیکه نښلوي ،لکه څرنګه چې دهندسې علم داجسامو او شکلونو ترمینځ اړیکه قایموي )) ⇐ یا په بل عبارت ((اخلاق په لغت کې دخوی،عادت اوکړو وړو مانااافاده کوي،چې بنسټ او اساس ئې دښېګڼو رواجول اودبدیوله منځه وړل دي اوپه ا صطلاح کې دانسان دسمو اوناسو کړونواوعملونوپه اساس ولاړو پدیدو منظمه اوهراړخیزه مطالعه اوارزونه ده.))

اوهمدارنګه د اجتماعي اخلاقو هدف اومقصددخلکوتشویق کول دي،ددې لپاره ترڅوهغه ارزښتونه ،اعتمادونه اوعملونه چې هغه دبشریت په ژوندانه کې په زړه پورې رول لوبوي رامنځته کړي،اوهمدارنګه اخلاق دتاریخ په هرپړاوکې خاص اوځانګړي مشخصات لري،چې هغه دټولنې دعمومي لیدلورو او غوښتنو تابع دي ،اوهمداراز اخلاق نشي کولای چې دیوې ټولنې دباورونواوفرهنګ څخه جلاشي ...یوشمیرټولنپیژاندي داخلاقو په جوړښت کې ددین پراغیزمن رول ټینګار کوي ،اومذهب داخلاقو په منځته راتګ کې دغوره اواساسي لامل په توګه یادوي

---

⇐ باختري،منژه، اخلاق وحقوق درژورنالیزم،پاڼه ۲۴ ،چاپ کال۱۳۸۲ل.

،اوهمدارنګه ئې دښېرازي اونیکمرغي لورته دانسان په بیولو کې د غوره اوښنسټیز عنصر په توګه ګڼي،اوهمدارنګه دین هغه لامل بولې چې داخلاقو ساتنه کوي ،اوهغه ټولنه چې ددېن څخه بې برخې وي په تدریجي ډول سره خپل اخلاق له لاسه ورکوي،اوزیاتره اسلامي ټولنې داخلا قوسره نه شلیدونکې اړیکې لري ،او غالبا هر دیني اصل په دودیزواخلا قوباندې بدل شوي دی ،اوهرارزښت چې ددېني ارزښتونو سره په ټکر کې واقع شي،غیر اخلاقي بلل کیږي ،خوبایدله یاده ونه باسو چې دا اصل ډیروخت په هغوټولنوکې چې دین دسیاست اودولت اړوندوي مطرح کیږي، د ټولنیزو نتیجو په ترڅ کې ویلاي شوچې یومسعله اوپدېده (ښکارنده) دیو شمیروګړو لپاره داخلا قویوه ټولګه ده ،پداسې حال کې چې هغه دیوشمیر نورو کسانو لپاره غیر اخلاقي بلل کیږي ،اونن سباددې لپاره هڅه اوکوښښ کیږي چې داخلا قوپه اړه دبحث په ترڅ کې داخلا قو عمومي څانګې وشمیري ،اوهغې ته فردي اوقومي بڼه ورنکړي ،چې دهغې په منځپانګه کې هغه ارزښتونه اوښیګڼې چې دانسان په فطرت کې وجودلري برجسته شي اودهغې په اوچتوالي اوښکلا کې هڅه اوهاند وشي .

دلومړې ځل لپاره افلاطون دمیلادڅخه څلورپېړي وړاندې دخیرفلسفې بحث کړي دي ،نوموړی په دي اندؤ،لکه څنګه چې دلمر وړانګې دانسان لپاره ګټوري اواغیزمنې دي په هغه اندازه دخیرتفکراومفهوم هم دانسان دپوهاوي اوکړنولپاره اوپه ټولنیزه توګه دټولنې لپاره داساسي اوښنسټیزې اړتیا په توګه بلل کیږي ،اوهمدارنګه دښه ژوندنظریه اومفکوره پدې مفهوم ده چې انسان هم نېکمرغه وي اوهم اخلاقوته ژمن اووفاداره واوسې ،اونوموړې موخې اوهدف ته درسیدولپاره اړینه اوضروري ده ترڅوانسان نیازمن ((عادل )) واوسې،اکثره کارپوهانوداخلا قوبڼې ته دعینکودهنداروله شاه څخه لیدنه کړیده ،نودهمدي بنسټ پراساس نشوکولای چې دهغې په یواړخیزتعریف باندې بریالې شو،خوپه عین حال کې دټولوانساني ټولنوپه منځ کې داخلا قواصول ښه پوهاوي په موخه بایدلاندینیوټکوته د فعالیتونو او نظریاتو اوقوانین شته دي،چې دټولو پاملرنه وکړو.

الف: باورونه اواخلا قي عملونه ديوفرهنګ نه تربل فرهنګ پورې توپير کوي ،اوپه حقيقت کې اخلاق ديوشخص څخه تربل شخص پورې اوديوفرهنګ څخه تربل فرهنګ پورې توپير کوي ،اوهمدارنګه فرهنګې بېلوالى اوتوپيرونه داخلاقو په اړه مختلف لېدلورى مينځته راوړي .

ب: اخلا قي بنسټونه د بشر پر حالت ولاړدي ،.پدې مانا چې عقل، عواطف،خوندونه،دردونه اومړينه ددغواصولو په تعين کې برجسته رول لوبوي.[⇐]

داخلاقوموخه:

لکه څرنګه چې په دې اړه په مخکښې برخه کې هم څه ناڅه معلومات وړاندې شول ،خو بيا هم د عمومي قاعدې له مخې داخلاقوڅخه موخه اوهدف ديوقوم، خپل ((کورنۍ))ياانساني ګروپونواخلاقي اصل،روش، سيرت او...څخه عبارت ده، يو وخت داکلمه د اولس يا انساني ډ لې او همدارنګه د دودونو او د ژوند د ډ ول په مانا هم استعمالېده ،مګر نن ورځ ددې کلمې لپاره دنېکۍ يا بدۍ په اړه داخلاقي اصولو نظام هم راوړل کيږي د اخلاقو نه مطلب دځينوکارونوسموالى اوناسموالى او همدارنګه دسوژې (موضوع) دښه والي اوبدوالي سره مستقيمه اړيکه لري ، او د انساني کړنې اوفعاليت ديومعيارله مخې سم، معقول، مناسب، منصفانه حکمونه اولارښونې هم اخلاق ګڼل کيږي ...افراد او وګړي هره ورځ له اخلاقي پړاونو او حالاتوسره مخامخ کيږي .

له داسې اخلاقوسره چې هغه په عمومې ډول ډېرمعقول نه ګڼل کيږي که يو مدير دا فيصله وکړي چې ديوناسم جنسي کاردخبرخپرول په کاردي ،يانه ؟ او ياهم دپوليسو په اداره کې دکومې درغلۍ په اړه څېړنه ياريسرچ لازم دی ، اوکه نه ؟ پداسې حالاتوکې هغه داخلاقي حالاتودمسئلې سره مخامخ کيږي ، او يا فرض کړئ چې هغه دښوونکې په اړه دخبر دخپرولوفيصله کوي ، او يا د خپل دوست او ملګري په اړه دداسې خبر دخپرولو څخه ډډه کوي يعنې دا په دې مانا چې په

[⇐] باختري، منژه، اخلاق وحقوق درژورنالېزم،پاڼه ۲۵ ،چاپ کال۱۳۸۲ل.

يوحالت  کې کومه خبره روا او مناسبه ګڼله او په بل حالت کې يې غير معقوله اونامناسبه ګڼي ،چې  په  دي  صورت کې هغه فعاليتونه اوکړنې  دضمير اواخلاقي پريکړې اوفيصلې دمنلو وړوي ،که چيرې دهغه کار د داسې کسانو يا ادارو د سم او معقول چلندپربنسټ وي ،چې په ورځني ژوندکې دهغه ورځپانولوستونکې ورسره مخامخ کيږي ،اوهمدارنګه نوموړی بايد د نوروکارونو د رسوا کولو پرمهال خپل ځاني ديانت،اصالت اواخلاقي ارزښتونه په پام کې ونيسي ،اوهمدارنګه که چيرې خبريال دتحقيق ياڅيړنې پرمهال دکومې داسې موضوع دمعلومولو هڅه کوي ،چې د لږ ديانت اواخلاقولرونکې کسان يې دهغې څخه پټول غواړي ،نوپه دې صورت کې هغه کولای شي چې دحقايقو دسپړلولپاره جرئت،غيرت،قوي ځواک،مکر اوحتی په بعضې وختونوکې دچل اوفريب کولو څخه هم استفاده کولای شي .⇔

په اسلامي کتابونوکې دحق دتعريف په اړه داسې څرګندونې شوې دي،چې حق دقانون مطابق ديوانسان په بل انسان باندې ،اويا په يومال باندې ،اويا په دواړوباندې له قدرت څخه عبارت دي ،که څه هم چې نوموړی مال مادې او دمحسوس کېدلو وړوي لکه يوکور،اوياهم ددې برعکس مادې ا ودمحسوس کېدلووړنه وي لکه طلب.⇐

دحقوقو او اخلاقو ترمنځ اړيکه:

دا چې د بشر مادې ژوند، او فردي اصالت دپيروانوافکار دحقوقوديوي مهم ترينې منبع په توګه وګڼل شي،قانون جوړونکې کله هم دخپل محيط د اخلاقي نفوذ څخه مصوون ندي ،اوناتوانه اوناچاره دي چې دنظم دساتنې او د قانون د اجرا لپاره دټولنې اخلاقي قواعد تنظيم کړي ،يعنې دامکان تربريده هغه کارونه بايدتر سره شي چې هغه ټولنې ته بهتره اوپه زړه پورې وي ،اوددې برعکس دهغې کارونودترسره کولوڅخه بايدډډه وشي چې ټولنه يې بداوغير معقول ګڼي ،په

---

⇔ اديب، همايون، ژباړن، احمدزی، اميرجان وحيد ، پلټونکې خبريالي، پاڼه ۸۲-۸۳ ، کال ۱۳۸۷ل .

لنګرودي، دکترمحمدجعفر جعفري، مقدمه عمومي علم حقوق ،پاڼه( ۱۲-۱۵)چاپ کال ۱۳۸۴ل.⇐

اوسنيوحقوقوكښې اخلاقي کړنې اومقررات زياتې ريښې لري ،لکه په عهدباندې وفا،يوبل ته زيان نه رسول ،پخپلوتړونونوباندې درېدل ،اودامانت بيرته سپارل داخلاقي احکامولە جملې څخه شمېرل کيږي ،چې دقانون جوړونکو لخوا تضمين او د حقوقي قواعدو په ډله کښې يې ورته ځاى ورکړى دى. کله هم دولت په صريحه توګه اخلاقو ته احترام ضروري اولازمي ګڼي ،اوپه هغه باندې تيرى دقراردادونودباطل کېدواسباب اوحتى دقوانينوداجرامانع يې ګڼي ،لکه څرنګه چې دمدني قانون په ۹۷۵ماده کښې پدې ډول ذکر شوي دي ، ((محکمه نشي کولاى ،چې دنېکواخلاقو خلاف بهرني قوانين اوياهم خصوصي تړونونه اجرا کړي که څه هم نوموړى قوانين اصولاً مجاز وي.)) او د۱۹۱مادې ديوې معاملې داساسي شرايطوڅخه ((صرف مشروعيت )) ښودلى دى .⇐

اوهمدارنګه دحقوقو اواخلاقواړيکې په ټولواړخونوکښې ډيرې قديمي اوپخوانى ريښې لري ،په ځانګړي ډول په مطبوعاتوکښې له ډېروپخوانيوموضوعاتوڅخه ګڼل کيږي .

چې دبشري ټولنې توجه يې دځان په لور راګرځولې ده ،په هرصورت که له اوږده بحث څخه تيرشو، حقوق اواخلاق دواړه يودبل د موخو او اهدافو بشپړونکي بلل کيږي ،حقوق اواخلاق دوه هغه غوره اوپياوړي ځواکونه دي ،چې يوپربل باندې بشپړکيداى شي ،اوعملي کيدل يې دټولنې په ګټه اوبرياليتوب تماميدلاى شي ،اوهيڅ شخص نشي کولاى چې يواځې دقانوني لارو چاروڅخه خپل هدف اومقصدته ورسيږي ،ترڅوپه اخلاقي فضيلت باندې ځان ښکلى اوسمبال نه کړي ،په پخوانيوزمانوکښې دحقوقي اواخلاقي قواعدوتر مينځ هيڅ ډول بيلوالى اوتوپير نه ؤموجود،بلکې دوى دواړو به په ګډه دانسانانومناسبات تنظيمول ،سربيره په هغوزمانوکښې اخلاقي اوديني مقرراتو ټولنيزو اوشخصي اړيکوته ځواب ورکاوه،اوديوفرانسو ي پوه (ژان زوک) له نظره دې ته اړتيااوضرورت نه ؤ،ترڅوچې حقوقي قواعدوضع شي ، ځکه چې ديني عقايد اواخلاقي پرنسيپونه

---

⇐ کاتوزيان،ډاکتر ناصر،مقدمه حقوق ومطالعه در نظام حقوق ايران ،پاڼه ۲۰،چاپ کال۱۳۸۳ل.

دوګړو له خواپه ټینګه پلي کیدل اودرناوی یې کېده ،چې دغه حالت تر دریمې میلادي پېړۍ پورې په روم کښې هم رواج درلود،خووروسته بیا په کراره ،کراره حقوقي اواخلاقي آرونه اوقواعد سره جلا اوېېل شول ،د حقوقو اواخلاقو بیلوالی د هغو د تعریفونو څخه په ښکاره ډول څرګندیږي ،.هغه په دې مانا چې حقوق د وګړو او انساني ټولنو مناسبات تنظیموي ،اودتخلف په صورت کښې مادې جزا پرې تطبقوي ،پداسې حال کښې چې داخلاقي قواعدو پېژندنه یوستونزمن کار دی ،خو ددې سره سره بیاهم له هغوهدایاتواولارښونو څخه عبارت دي چې په واسطه یې د ښو او بدو تر مینځ توپیر پیژندل کیږي ،اودهغوی داساس اوبنسټ سالمه رغونه کوي ،له بله اړخه دحقوقي قواعدوموخه اواهداف دټولنې تنظیم ،ساتنه اورغونه ده ،پداسې حال کښې چې داخلاقو نه مقصد او موخه د کمال اوفضیلت لوړو پړاوونو او پېړیو ته د فرد او اشخاصو رسول دي،او همدارنګه شخصي اخلاق دانسان وجیبه اومسئولیت دځان په هکله ټاکي،اوټولنیزاخلاق یې د نورو په هکله ټاکنه کوي ،سربېره پردې اخلاق په ظاهري چلندبسنه نه کوي ،بلکې زیاتره دانسان هوډ او ارادې ته اعتبار ورکوي .[⇦]

خودحقوقي آرونواوقواعدوکړۍ یوازې اویوازې دانسان داړیکواوروابطوپه هکله له ټولنې سره سرو کارلري ،اودهغه دنفس په مقابل کښې دهغې وجیبې ته ارزښت اواعتبارنه ورکوي ،همدارنګه اخلاق اوحقوق دجزا او موئیدې له پلوه هم سره توپیر لري ،د اخلاقو جزا او موئیده یوازې دضمیرله عذاب اودوګړو له کرکې څخه ده ،او ددې ترڅنګ ویلای شو چې داخلاقو جزامادې اړخ لري ،اوعموماًددولت له خواترسر ه کیږي

.

دحقوقواواخلاقوتر مینځ توپیر دمختلفو اړخونو له مخې :

---

⇦ ستانکزی، پوهندوی، نصرالله ،دحقوقوبنسټونه ،پانه((۱۲_۱۳))چاپ کال ۱۳۷۹ل.

حقوق اواخلاق دبشپړ تړاوسره سره يو واحدمفهوم ندی،چې د دوو داسې نومونو سره راوړل کيږي ،چې دجهاتو(لوريو) له نظره يودبل سره فرق لري اوهمدارنګه ددغه توپيرونو نتيجه ده چې داخلاقي قواعدو تر څنګ دقوانينو وضع کېدل هم په ګوته کوي:

*-په موخوکښې توپير.

*-په قلمروکښې توپير.

*-دسرته رسولوپه ضمانت کښې توپير.

*- په جزاکښې توپير.

اوس کولای شو د هر يو په اړه په لنډ ډول مالومات وړاندې کړو .

الف : په موخوکښې توپير:

مونږبايد لومړی داخلاقي اوحقوقي قواعدو څرګند توپيرونه دهغې په موخو کښې ولټوو،داخلاقوڅخه موخه دشخص دعيبونواصلاح اوديوې سالمې ټولنې رامينځته کول دي، او همدارنګه په وجدان او باطني افکارو هم حکومت کوي، مګرحقوق په ټولنه کښې دروح دپاکۍ اوحسني نيت څخه مخکې دصلحې اونظم ساتنې ته توجه کوي ،له حقوقي قواعدوڅخه موخه داده چې په ټولنيزو اړيکوکې نسبي نظم اوعدالت تامين شي ،هر څومره چې په دې برخه کښې اخلاق نه وي رعايت شوي لکه دمرور زمان په سبب د دعوي نه اورېدل داخلاقوخلاف کړنه اوعمل دی،اوهغه قانون په ټولنه کې دپخوانيو دعواګانو دله مينځه وړلو اوهمدارنګه په ټولنه کې دنظم اوسکون درامينځته کولو لپاره مقرروي،داپه داسې حال کښې ده چې اخلاق په ټولنه کښې دحقوقو په پرتله له هغې څخه ځوځله جګې موخې لري دمثال په توګه : د انسان دځان او روح تصفيه ،دنفس پاکوالی او ...يعنې اخلاق هغه څه دي چې دقانون په څېر دټولنې دنظم اوثبات

لپاره هلې ځلې کوي ،په دومره توپيرسره چې اخلاق غواړي دغه نظم اوثبات دزوراوجبر له لارې نه بلکې دباطني پاکوالي اوجوړوالي له لارې عملي کاندي .

ب:په قلمروکښې توپير :

هغه فرق چې داخلاقواوحقوقوترمنځ موجوددې ،اوهمداشان دقانون جوړونې په هنرونواودهغې په اجزاپورې مربوطه اشکال ددې سبب شوي دي چې ددې دواړوقلمرويوشان ندی، لکه چې په اخلاقوکې دروغ ويل غير مشروع دي ،مګرحقوق دهغې لپاره په خاصوشرايطوکښې مجازات پېشبيني کوي ، برعکس په اداري اوتشريفاتي سازمانو پورې زيات شمېرټرلي قوانين ، د اسنادو تنظيم او د عوارضو اخستل اخلاقي بڼه نلري .

ج:- داجراپه ضمانت کښې توپير:

دغه اټکل غلط دی چې ټول قوانين الزام آوردي ،اواخلاق يوازې سفارښتونه دي ،اومرعاتول يې الزام ته ضرورت نلري،چې دهغه دواړوپه ښکاره بيلګې ليدل شوې ،اما واقيعت دادی چې اخلاقي اوحقوقي دستورونه دواړه الزامي دي ،مګردهغوی دالزام اواجراملاتړاوسرچينه سره توپير لري .

دقانون سرچيني دحکومتونو قدرت دی چې دسولې ټيکاو او دټينګښت مسؤل ګڼل کيږي،اودقانون وضع کولوته مخه کوي،دقانون قدرت له بهر څخه وي اما داخلاقو قدرت بيا دننه څخه وي ،دغه دولتونه دي چې دقانون د اجرا کولو ملاتړ بلل کيږي ،مګرهغه څه چې داخلاقو داجراکولوملاتړ کوي باطني او داخلي انګيزه وي ،په نتيجه کښې ويلای شوچې حقوقي قواعد د مادي او اجتماعي ضمانت لرونکي دي،اوقانون جوړونکي افرادبه دهغه په اطاعت باندې مجبور وي ،همدارنګه يو ډول جزايي پيښې هم په ځان کښې رانغاړي.

د:-په جزاکښې توپير:

دجزا د پشتوانې توپيرونو ته په پام سره دحقوقي او اخلاقي قواعدو څخه به سرغړونه هم متفاوته شي ،دقانون دماتولو جزادنيوي ده چې په جسم اومال پورې اړه لري ،په داسې حال کښې چې داخلاقوڅخه سرغړونه دجرمي اوزندان غوندې پايلې نه لري.[⇐]

اخلاق داسې محکمه ده چې دانسان وجدان دهغوتر ټولولوړقاضي دی، باطني ځيرل اودبدن دننه عذاب يې جزا ده ،اواخروي اثار هم بايد د اخلاقو ماتولو د جزاګانو په ډله کښې وبولو چې په هغه باندې باور داخلاقي قواعدو په رعايتولو کښې يواغېزمن لامل ګڼل کيږي

دوهم څپرکی

د ژورنالېزم اخلاق

اخلاق دټولنيزو قرارادونومجموعه ده،چې وګړي يې په ورځنيو چاروکې دنظم اوسمبالتيا لپاره پر مرعاتولو ژمن وي،که څه هم چې دا اصطلاح پراخه مفهوم لري ، خو ځېنې مهال ديوشمېرمسلکونوپه برخه کې دځانګړو لارو او حدودو ترمينځ مطرح کيږي، لکه سياسي اخلاق، ژورناليستک اخلاق، تحقېقي اخلاق او...ژورنالېزم د عادلانه اطلاعاتو او معلوماتو د پر وخت تامينولومسلک دی ،لکه څرنګه چې د عامه ژوندسره نږدې اړيکې لري، او دټولنې داعصابوحيثيت لري او د ژورنالېستي اخلاقو اصول اومعيارونه منل اوترسره کول لکه په ارزښتونو ، فضيلتونو ، اصولو او معيارونوباندې بينا او د نورو اړخونو د اخلاقو د منلو او ترسره کولو په شان دي ،کله چې د اصولو يادونه کيږي ،اصول هغه کُلي هدايات اولارښونې دي چې مونږه ته جوته کوي چې کوم شيان سم اوکوم ناسم دي ،که له اوږده بحث څخه صرف نظروکړو کولای شو په لنډ ډول يې ذکرکړو

تعريف:

[⇐] کاتوزيان، دکترناصر، مطالعه علم حقوق درنظام حقوقي ايران، پاڼه((۲۰-۲۱))چاپ کال ۱۳۸۳ل.

اخلاق عبارت دي ديو لړ هغو معيارونواو قواعدوله مجموعې څخه چې دهغې  د رعايتولو په رڼا کې انسان دکمال درجې ته رسيږي.

همدارنګه امام غزالي ح داخلاقو په اړه لاندې تعريف وړاندې کړی دی.

((اخلاق جمع دخلق ده چې په لغت کې خوی او سجيې ته ويل کيږي او په اصطلاح کې اخلاق عبارت دي دانسان دهغه قوي عادتونو له مجموعې څخه چې دهغې په وسيلې سره په غيرعمدي توګه نور عملونه صادريږي.))

په اکسفورډ ډکشنري کې د اخلاقو مانا داډول بيان شوې چې:

".Rule of conduct recognised in certain limited department of human life"

د ژورناليزم اخلاق هغه ژورناليستيکي معيارونه دي، چې د يوشي ښه يا خراب، سم يا ناسم، مسول او غيرمسول ارزښتونه ټاکي. دغه ژورناليستيکي معيار ته د ژورناليزم ارزښتونه ( Canons of Journalism) هم وايي. د ژورناليزم داارزښتونه د ژورناليست دندې او مسوليتونه هم ټاکي، ليکن هغه دندې او مسوليتونه کوم قانوني جواز نه لري

له بلې خوا ويلې شو چې اخلاق په لغت کې په دوه ډوله مانا شوي دي

١-اخلاق دخولق جمع چې دويونو (لغاتو ) په کتابونو کې ترډيره دطبيعت او خوي ياعادت په مانا سره راغلې ده

اخلاق دارزښتونو له جملې څخه دي چې دهغې په رعايتولو سره وجدان آرميږي اوکه چيري رعايت نه شي نو وجدان ناارامه کيږي .

اخلاق دهغه ارزښتونو له جملې څخه دي چې هغه قبول شوي دي ،اخلاقي ارزښتونه نسبي دي چې يو ه جامعه بلې جامعي ته فرق کوي .

مثال په ډول : سل کاله مخکي به چي هلک او نجلي وغوښتل چي واده وکړي پلار او موربه يي تصميم نيولو .او هيڅ زوي به دپلار په مخکي به يي خبري نشواي کولاي مګراوس دغه حالت تغير کړي اوس هلک اونجلي خپله تصميم نيسي چي واده سره وکړي .

تعريف : اخلاق دهغو پديدو مجموعه ده چي دډير پخوا څخه راپه دي خوا دانسان په ژوند کي وجود لري او نظروخت ته تغير کوي .

هدف اخلاق :

اخلاقو هدف عبارت دي له دښيګڼو راواجول او دبديو له منځه وړل

داخلاقو ډولونه

اخلاق په دوه ډوله دي ۱:فردي اخلاق ۲: اجتماعي اخلاق

۱:فردي اخلاق هغه دي چي په يو شخص پوري اړه لري

مثال :دلباس اغوستلو طريقه ،دخبرو طرز ،کردار او داسي نور

۲: اجتماعي اخلاق هغه اخلاقو ته ويل کيږي چي مربوط په اجتماع پوري تعلق ولري .مثال په ډول دويلو او رفتار طريقه په ټولنه کي ،همدارنګه په فاميل او ياد اسي نورو ځايونو کي

داخلاقو لمن ډيره پراخه ده او داخلاقو تطبيق خپله دانسان په وژدان پوري اړه لري .او يوه ټولنه هغه وخت خوشبخته کيداي شي چي دهغي اخلاق په وجود کي وي دژوند او زنده ګي په بدلون سره اخلاق تغير کوي .

داخلاقو او قانون ترمنځ توپير

داخلا قو ساحه پراخه ده اما دقانو ن ساحه محدوده ده نسبت اخلاقو ته

اخلاق یو له بخشونو دفلسفي څخه دي چي دلته دځو دانشمندانو نظرونه وایو

۱ افلاطون : په سنه ۳۴۰ کال مخکي له میلاد څخه په یونان کي یي ژوند کولواو په لس کلني کي دسقراط شاګردؤ او مهم اثر یي دجمهوریت په نامه ؤافلاطون داسي نظریه درلوده چي خداي او مذهب شته دي ددي په خاطرچي په ټولنه کي نقش لري او خلک دهغي په تطبیق مکلف دي

افلاطون وایي چي دانسان لپاره کافي دي چي خیر وپیژني او هرکله یي چي خیر وپیژندو نو هغه هیڅ وخت بد عمل نه ترسره کوي او مونږ باید همیشه دجهالت پروړاندي ترسره کړو نه دیو شخص سره مبارزه هرکله مو چي ناپوهي له منځه یوړه او خلک مو له جهالت څخه را وایستل نو بیا دخیر او شرتفکیک کیداي شي .

ارسطو:

ارسطو ۳۰۰ کاله مخکي له میلاد څخه په یونان کي زیږیدلي دي او ۲۰ کاله یي دافلاطون شاګردي کړي ده .ارسطو دهرپدیدي لپاره دري مرحلي مشخصي کړي دي .

اوله مرحله افراط دوهمه مرحله دفضیلت کمال دي او دریمه مرحله تفریط دي چي اوله او اخرمرحله ښه نه ده مګرمنځني مرحله یعني دوهمه مرحله ښه ده او په شخص پوري اړه لري او عقل ته ضرورت لري

مثال : په مابین دبخل او انصاف کي انسان باید سخاوت انتخاب کړي

مثال : په مابین دتواضح او تکبرکي انسان باید میانه وي .

سقراط

سقراط ۴۷۰ کاله مخکی له میلاد څخه په یونان کی ژوند کولو هغی په خدای ج عقیده درلوده او دهغی څخه هیڅ اثارنه دی پاتی شوی او هغه به همیشه دآتن ښار په کوڅوکی گرځیده او دخلکو څخه به یی پوښتنی کولی کله به چی خلک دسقراط له پوښتنو څخه عاجز شول نو بیا به یی جواب ورکولو .

سقراط دعقل په فظیلت ایمان درلود او داسی یی ویل چی اخلاق هغه وخت په ټولنه کی ځای پرځای کیدای شی چی انسان خپل خواهشات کنترول کړی او په هغی باند ی تسلط ولری هرکله چی انسان دغه کارترسره کړی او وتوانیدلی شی په هغه ټولنه کی ځای پرځاي وي .

سقراط په هغه وخت کی ددولت له خوا متهم شو او دزهرو جام یی وڅښلو..

۲- راغب اصفهاني ددي کليمي په اړه ليکي ،خلق او خولق په اصل کي سره يودي ،خو خلق هغو ځيزونو او شکلونو ته ويل کيږي چي په سترگو دليد وړوي ،او خولق هغو ځيزونو ته ويل کيږي چي په بصيرت سر درک کيږي دلغتپوهانو له وينا وو څخه ثابتيږي چي خولق دانسان په نفس کي داخلي کيفيت دي او صفت دي .

له بلي خوا داخلاقو کليمه دښو کړنو دمعيارونو دټاکلو لپاره کارول کيږي .اخلاقي کړنه په ښکاره يا پټه دمناسبو او گډو لارو چارو ټولگه تراستناد او ارجاع لاندي نيسي

له اصطلاحي پلوه اخلاق دعلومو په بيلابيلو څانگو کي مطرح شوي او ډول ډول تعريفونه لري نو په ټوليزه توگه دي بحث ته ورگډيږو .

اخلاق پوهان معمولا خولق داډول پيژني ! خولق هغه نفساني ملکه ده چي کړني او فعلونه ورڅخه په اسانی صادريږي .

خو آیت الله مصباح دغه تعریف بشپړ نه ګڼي او په باوریي داخلاقو دعلم موضوع ټول هغه نفساني ملکات دي چي اخلاقو فلیسوفانو تراوسه پري ټینګار کړي ،او دانسان ټول هغه اختیاري کارونه رانغاړي چي ارزښت لري ،یاني ښه او بد ټول په ځمن کي نیسي او کولاي شي چي نفس ته یو کمال وبښي او یاد رذلیت او نقص لامل وګرځي .

یوبل عالم ایت الله جوادي املي اخلاق داسي تعریفوي

اخلاق عبارت له هغو نفساني هیتونو او ملکاتو څخه دي چي کله نفس وربانديي متصف شي نو په اساني سره یو کارترسره کوي .

اخلاق د ټولنیزو قراردادونو هغه مجموعه ده، چې وګړي یې د ژوند د ورځنیو چارو د نظم او سمبالتیا لپاره پر مراعتولو ژمن وي. که څه هم دا اصطلاح پراخه مانا لري خو ځینې مهال د یوشمیر مسلکونو په برخه کې د ځانګړو پولو او حدودو تر منځ مطرح کیږي لکه سیاسي اخلاق، ژورنالیستیکي اخلاق، تحقیقی اخلاق او نور.
ژورنالیزم د عامه اطلاعاتو او معلوماتو د پروخت تامینولو مسلك دی او څرنګه چې له عامه ژوند سره نږدې اړیکې لري او د ټولنې د اعصابو حیثیت لري نو خامخا د یوشمیر اصولو، ظوابطو او اخلاقو په چوکاټ کې راګیر چاپیریال لري، تر ډیره حده ژورنالیستیکی اخلاق د یوشمیر نالیکل شویو قراردادونو مجموعه ده چې په ټوله نړۍ کې نافذ دي او سره ورته ارزښتونه لري.

په ژورنالیزم کې واقعیت، حقیقت او آزادي هغه درې مفاهیم دي چې ژورنالیست یې په کلکه پام ساتلو ته اړ دی. ټول اطلاعات باید پر واقعیتونو ولاړ وي، ټول واقعیتونه باید حقیقت ولري او ټول ژورنالیستکي فعالیتونه باید د یوې مسلکي آزادۍ پر بنیاد ترسره شي. په نړۍ کې دولتي او مؤسسه یې ژورنالیزم ځکه ډیر اعتبار نلري چې د یوې سیاسي کړۍ لپاره وقف کیږي.

له مؤسسه یې ژورنالیزم څخه هدف د یوه سیاسي حزب یا تنظیم لپاره د تبلیغاتي دستګاه جوړول دی، البته د دولتي او مؤسسه یې ژورنالیزم فعالیت ممنوع نه دی بلکې معمول هم دی خو د آزادو ژورنالیستیکی مرکزونو په تناسب لږ اعتبار لري. تر ټولو معتبر او اعتمادي خبریال هغه دی چې تر ټولو ډیره مسلکي آزادي ولري.

کله کله یوشمیر خبریالان د مادي او مالي ګټو لپاره ځان پر ځواکمنو کړیو پلوري، زمونږ په هیواد کې داسې خبریالان هم لیدل شوي چې یوې راډیو یا آژانس ته کار کوي خو پټ د کوم قوماندان، رسمي چارواکي، یا والي په رکاب او دربار کې هم نامعلومې دندې لري، چې د آزادی د نه لرلو له امله په ولس کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي. له زورواکو سره غیر مشروع ملګرتیا او دغې ملګرتیا ته وفاداري د اطلاعاتو د بې پرې توب اصل ماتوي.

زمونږ ټولنه نوې د اطلاعاتو د جنګ ډګر ته ورننوتلې ده ځکه خو تر هرڅه مخکې د ژورنالیست آزادي، مسلکي سپیڅلتیا او اخلاق په خطر کې دي. ما اوریدلي دي چې پخوا به یوشمیر ولایتونو کې خبریالانو له زورواکو او چارواکو سره پټ قراردادونه درلودل او اطلاعات یې هغه ډول خپرول چې هغو چارواکو غوښتل، د دې په بدل کې دغو خبریالانو زور و زر ترلاسه کول او آن چې د زورواکو په مرسته یې خپل مخالفین ډبول، کیدای شي داسې څه لا اوس هم وي.

له زورواکو سره قراردادونه د ژورنالیزم اخلاقي قراردادونه ماتوي او مسلکي شرم رامنځ ته کوي، البته دا په دې مانا نه ده چې ژورنالیست دې خامخا د دولت یا کوم چا پر ضد وي نه دا کاملاً غلطه خبره ده ژورنالیست یوازې او یوازې د حقیقتونو عکاس دی او بس. دا په تیره بیا د آزادو رسنیو لپاره مهمه ده چې خپل خبریالان له نږدې څخه وڅاري چې د واکمنو تر کنټرول لاندې را نه شي. که ژورنالیست غواړي آزاد وپیژندل شي مسلکي تعهد یې حکم ورته کوي چې د واکمنو او

زورمندانو له دم او منتر څخه ځان وساتي. د څو ورځو غیرمشروع ګټه د ټول عمر اعتبار له منځه وړي او آن تر دې چې د ټول مسلك رنګه وربدوي.

په هیواد کې لاتر اوسه د ژورنالیستانو داسې خپلواکه ټولنه نه ده رامنځته شوې چې د مطبوعاتو د حریم ساتنه وکړای شي، د یوه ژورنالیست مسلکي بداخلاقي د مطبوعاتو پر ټول حریم تیری دی، ټول ژورنالیستان باید د خپلو ملګرو د ښوئیدلو مخه ونیسي.
مطبوعات ولې د سیاسي واك څلورم رکن ګڼل کېږي؟

ددې لپاره چې وګړي هماغومره چې د قانون، پولیسو او حکومت په وړاندې د مسئولیت احساس کوي د مطبوعاتو پر وړاندې یې هم کوي. ټولنیزه رسوایي تر ټولو لویه جزا ده، د جنایت په صورت کې ټولنیزه رسوایي مطبوعات رامنځ ته کوي ځکه خو د مطبوعاتو ځواك جدي ګڼل کېږي حکومتونه سم کار کوي ددې لپاره چې مطبوعات یې رسوا نه کړي، وزیران، والیان او رئیسان د خلکو خدمت کوي ددې لپاره چې له ژورنالیستانو ویریږي، ژورنالیست وسله نه لري خو د عامه رسوایي وسیله ورسره ده، خاین واکمن د خپل خیانت د پټولو لپاره ژورنالیستان په بیه اخلي او له مسلکي پلوه د کمزوریو اخلاقو خاوند ژورنالیستان خپل مسلك په بیه پلوري.

ددې په نتیجه کې د خیانت یا خدمت په هکله واقعیتونه او حقایق پټ پاتې کېږي چې په پایله کې د مسئولیت احساس له منځه ځي او په ټولنه کې فساد عمومیت پیدا کوي.

د پوهې ترڅنګ آزادي او اخلاق د ژورنالیست ښه صفتونه دي او دا درې واړه د یوه خبریال خبري اعتبار د ژورنالیست په .په ټولنیز ارزښت، اهمیت او کاري ونډې مخامخ اغېز لري شخصیت، صداقت، آزادۍ او مسلکي اعتبار پورې تړلې دی. خلك وایي له پیښې څخه خبر شوم، زه یې ځکه رښتیا بولم چې فلان ژورنالیست یا آژانس نه مې واوریده، دا د خبري آژانسونو او خبریالانو دنده ده چې د خلکو دغه اعتماد وساتي.

د ژورنالیزم اخلاق هغه بحث دی، چې د پرمختللیو ټولنو په پوهنځیو کې بحث پرې کیږي.
او تر ډېره بریده فرهنګي مرکزونه د ژورنالیستانو اتحادیې او آژانسونه هڅه کوي د دغو اخلاقو د تأمین لپاره موازین، مقررات او حتی قوانین وضع کړي.

په ګڼو هیوادونو کې د پټې کمرې، پټ مایك كارول او د پټو خبرو رسوا کول جرم ګڼل کیږي د ژیړ ژورنالیزم اصطلاح هم کله کله هغه مهال کارول کیږي چې کوم ژورنالیست متداول اخلاق تر پښو لاندې کړي.

ژورنالیستیکي اخلاق هیڅکله د بیان د آزادۍ او د اطلاعاتو د بشپړ خپراوي مخه نه نیسي بلکې د ژورنالیزم اخلاق د اطلاعاتي خوندیتوب یا مصؤنیت لپاره یو ښه تضمین دی. ټولنپوهان وایې: اخلاق په محکمو کې نه بلکې په وجدانونو کې تلل کیږي له همدې امله تل پر اخلاقو د بحث پر مهال د ضمیر یا وجدان نوم هم ډیر یادیږي له دې ځایه ده چې د ژورنالیست د مسلکي اخلاقو په هکله د بحث پر وخت ښایې د قضاوت د همدې معنوي دستګاه یعنې وجدان اهمیت هیر نه شي تر ټولو بریالی او مهذب ژورنالیست هغه دی چې د خپل کار پر مهال د حقایقو د څرګندولو لپاره بشپړ مسلکي آزادي او وجداني آرامی ته پام وساتي.

د ژورنالیست خپلواکي او استقلالیت د ټولنې د فکري استقلال لپاره لار هواروي او یو ښه وړاندیز به دا وي چې په افغانستان کې کومه پیاوړې مسلکي ټولنه د ژورنالیزم اخلاق تدوین کړي او د هغو د تأمین پروسه وڅاري. ژورنالیزم یوازې د معاش او مالي ګټې مسلك نه دی بلکې د یو ستر ټولنیز ارزښت په وړاندې تعهد او مسئولیت ګڼل کیږي.

هغه څه چې ژورنالستیک اخلاق ورته نه ویل کیږي:

- له خلکو څخه ځان پورته ګڼل.
- د ژورنالست له موقفه ناوړه ګټه اخستل.
- د بیان ازادۍ ناوړه ګټه اخستل.
- د اف ریکارډ خبرو ثبتول او بیا یې خپرول.
- د داسې پوښتنو کول، چې بلې غاړې ته پکې سپکاوی وي.
- د ملي یووالي پرضد او د شخړو د زیږولو لپاره سوالونه کول.
- د یو چا په پلوۍ د پوښتنو کول او بلې غاړې ته کم وخت ورکول.
- په بحثونو او ګردي میزونو کې د سیالو غاړو په رابللو کې د انډول نه ساتل، داسې چې له یوې خوا نه د یوه کس او له بلې خوا د دوو تنو را بلل، یا د اچې د یوې غاړې قوي او د بلې ناتوانه کس رابلل.
- په مرکه کې د چا ژوند ته پام نه کول.
- که مرکه کوونکي مو د نوم ښودل نه غوښتل باید تاسو ورته ژمن واوسئ. کله کله دغه ډول مسئلې ډیرې حاسې او خبره محمکې ته ورسیږي، که مو له چا سره دهغه د نوم د نه ښودلو ژمنه کړې وه ، نو باید ټول فشارونه ومنئ، په یو شمیر هیوادونو په ځانګړي ډول برتانیې کې د اندرو ګلیګین کیسه د نړۍ ډیرو ژورنالستانو ته معلومه ده، هغه داسې وه، چې بي بي سي داسي رپورټ خپور کړ، چې کو دولتي چارواکي ورته ویلي و چې په عراق کې د هستوي وسلو د نشتوالي په پوهیدو سره د برتانیې لومړي وزیر هغه هیواد ته خپل سرتیري واستول، کله چې دا رپورټ خپور شو، نو چارواکو له

خبرياله د دغه رپورټ د منبع غوښتنه وکړه، خو ګلیګن منبع ونه ښودله،خبره د بي بي سي د څو مشرانو استعفا او زندان ته دګلیګن تر تلو ورسیده.

که تاسو هم له ورته ستونزې سره مخامخ شوئ نو همدومره ژمنتیا ژورنالستیک اخلاق ګڼل کیږي.

- په ټیلیفون له یوه کس سره خبرې کول بې له دې چې هغه ته ووایاست د هغه ثبتول او په پای کې ورته ویل چې دا خپروئ، د ژورنالیزم اخلاق نه دي.
- د یوې پیښې ستر معرفي کول، لکه یو وخت چې په کابل کې د خاورو خځلو په منځ کې یوه چاودنه وشوه او هیڅ زیان یې نه درلود، ځینو رسنیو په خپلو خبرونو کې وویل، چې کابل یوې زورورې چاودنې ولړزاوه، دا بیخي افوا او بداخلاقي ده.
- په واړه ګروپ کې په خلکو د یوه کار یا جرم تور لګول، د بېلګې په ډول: په یوه دفتر کې تر پنځو پورې کسان کار کوي او یوه پکې غلا کړې وي تاسو په خپل رپورټ کې وایئ چې د دغې موسسې له غړو څخه یوه په دغه غلا کې لاس درلود، که سند درسره وي نو تورن په ګوته کړئ.
- بې له دې چې چاته ووایې د هغه د عکس اخستل او خپرول.
- د تېروتنې پټول.
- د تېروتنې په پوهیدو سره د هغې تکرارول.
- له قانونه ځان پوره ګڼل، لکه چې په کابل کې یو شمیر خبریالان پولیسو ته د تلاشۍ پر وخت وایي: زه خبریال یم باید دغې سیمې ته مې پرېږدې، دا ژورنالستیک اخلاق نه دي، که کومې سیمې او ځاي ته امنیتي ځواکونو نه پرېښودئ د ورتلو او ننوتو بله

قانوني لاره ولټوئ چې تاسو او پولیس دواړه له مسؤلیته خلاص شئ، لکه له اړوند مشر سره خبره کول او د اجازې اخیستل.

- د مرکې له کولو وروسته د خپلې کمرې او ټیپ بندل.
- په دغه وخت کې د کېدونکو خبرو کوټ کول چې اجازه نه لرئ.
- په خصوصي کارونو کې د دفتر د کارت ښودل او له هغه موقفه ناوړه ګټه پورته کول.
- که مو مرکه کوونکي درته د هغه د مرکې د نه خپرولو وویل او تاسو یې خپروئ دا بد اخلاقي ده. نو اوس معلومه شوه چې د پورته یادو شویو مادو څخه ډډه کول ژورنالستیک اخلاق بلل کیږي.

او په مقابل کې لاندې ټکوپه پام کې نیول یواړین کاربلل کیږي .

- ژورنالیست باید په هېڅ ډول سره د چا تر مالي اسارت لاندې رانشي (رشوت،حیله،او تخفه ) له چا وانخلي او دحق په مقابل کې له هېچا څخه ونه وربږي .
- ژورنالیست باید په خبرو کې هېڅ وخت له مبالغې څخه کار ونه اخلي او له دروغ ویلو څخه په جدي توګه ځان وژغوري. دخبر او رپوټ د تیارولو پر مهال باید له احساساتو څخه کار ونه اخلي. له پلویتوب څخه باید ډډه وکړي او په خبر کې باید خپل نظر وړاندې نکړي .
- ژورنالیست باید د ټولنې ټول فرهنګي مسایل (رسوم،عنعنات،دین،مذهب ...)دټولنې دټولو قشرونو ابرو او عزت ته احترام ولري .
- لکه څنګه چې ژورنالیست په ټولنه کې دژبې حیثیت لري باید خپل ځان د ټولنې نماینده وبولي او هدف یې ټولنې او خلکو ته خدمت کول وي، ځو پدې توګه دخلکو په زړونو کې ځای پیدا کړي او دخلکو واقعي استازی شي.
- ژورنالیست باید په هېڅ وخت کې خپل ځان خلکو ته غلت معرفي نکړي .

- ژورنالیست باید په دقیقه توګه واوري او هر څه چې لیکي لومړی یې په دقیقه توګه وارزوي او دخپل هر خبر لپاره باید سرچینه ولري .
- دهغو کمپنیو، ډلو،ګوندونو او ټولنیزو سازمانونولپاره چې یا خپله پکې غړیتوب لري او یاهم کوم دوست یې پکې کار کوي دخبرونو،تبصرو او مقالو خپرول دژورنالیزم له اخلاقوسره مغایرت لري.
- امانتداري، ایمانداري، انصاف او صداقت دژورنالیزم شعار دی باید په هر مهال دهغې څخه په ټینګه ملاتړ وشي. په خبر کې مساوات اوبرابري په نظر کې ونیسي خبر باید داسې ترتیب شي چې عام فهمه وي.
- په هره ټولنه کې قومي لړکي وجود لري چې ځانته خپل خپل کلتور لري باید هغې ته د قدر په سترګه وکتل شي .هر ژورنالیست بایددزړه له تله بل ژورنالیست ته احترام ولري .
- ژورنالیست چې خبر لیکي باید دهغې تاریخ اومهم نقاط له ځان سره یاداشت کړي او یو خبر چې لیکي باید له ځان څخه پوښتنه وکړي چې څه شی لیکي دڅه په هکله دي،څه وخت اوله چا سره یې خبرې کړي دي څه شی یې ویلي وی په کومو شرایطو کې ولې ،څه ډول...

دخبر واقعیت او صحت

دخبر واقعیت او صحت دپېښو څخه درپوټ په تیارولو کې دژورنالیست په وسیله په صحیح توګه دخلکو دخبرول موخه ده.

د پیښې پیښیدل پخپله واقعیت دي، صحت او حقیقت بیا د هغې په جزئیاتو پوري اړه لري، چې پېښه څه ډول ده او څنګه رامنځ ته شوي ده.

خبریال بایددواقعیت په پام کې نیولو سره درپوټ په برابرولو کې په هېڅ صورت سره دخپل ځان او دهغې رسنۍ نظر چې پکې کار کوي درپوټ په متن کې ځای پرځای نکړي په داسې توګه چې حقیقت مو پکې اغیزمن کړی وي. د رپوټ لیکلو پرمهال باید رپورټر دومره متوجه وي، چې اوریدونکي داسي وانه انګیري، چې ګواکي دغه رپورټ فلاني لیکلي، ځکه چې هغه خو د فلاني اژانس سره کار کوي.

دقت او صداقت پدې معنی دی چې ژورنالیست هغه څه چې ویني خلکو ته په پوره امانتداري سره ورسوي. امانتداري په هر څه کې شرط ده، په مراعت کولو سره یې موږ ته اسلام هم سپارښتنه کړي ده، خو په ژورنالیزم کې امانتداري ځکه مهمه ده، چې د ژورنالیزم تاثیر او اغېز عام دي.

ایچ ایس سیتنسیس یو امریکایي خبریال په هغه څېړنه کې چې ۱۹ مې پیړۍ په وروستیو کې او ۲۰ مې پیړۍ په لومړیو کې په نهو ورځپاڼو کې ترسره کړي دې نتیجې ته ورسید چې د۱۸٦٥ نه تر ۱۸۷٤ کلونو تر منځ دغو ورځپاڼو ټولو په خبرونواو رپوټونو کې واقعیت او عینیت په نظرکې نه نیولومګر د ۱۹۱٤ نه تر ۱۹۵۰ کلونو په اوږدو کې عینیت او واقعیت درپوټونو مهم جز بلل کیده.

عینیت هغه څه دي، چې په سترګو ولیدل شي او له واقعیت څخه حقیقت ته ډېر نږدې دي. یانې واقعیت رامنځ ته کیږي او له هغې وروسته خبریال سیمې ته ځي او عینیت ته رسیږي.

ډېر خلک په دې باوردي چې په کامله توګه هیڅوک نشي کولای چې عینیت خلکو ته وړاندې کړي دا ځکه چې هر ژورنالیست دیوې خاصې جهان بینی له مخې رپوټ تیاروي ددغه جهان بینی له مخې په غیر عمدي توګه خبریال متاثره کیږي چې دغه تاثیر په رپوټ کې څرګندیږي .

په بعضو وختو کې خبریال دقضیې دټولو اړخونو څخه خبر نه وي نو له دې کبله نشې کولی چې پېښې ته یو ښه تصویر ورکړي یاني په ښه ډول هغه پېښه رپورټ کړي، خو کله داسې هم پېښیږي چې خبریال د ژورنالیزم له ارزښتونو مطابق درپوټ یاخبر موضوع انتخابوي او هغه خلکو ته رسوي.

خو په همدې حالت کې په غیر قصدي توګه خپل ذهني او اخلاقي قضاوت پکې شاملوي، نو په همدې توګه ویلی شو چې دقت او عینیت په باورونو پورې هم تړلی دی، داسې هم پېښیږي، چې امانت دیولړ عواملو له کبله نشي ثابت کیدلی.

مورنر یو بل امریکایې خبریال دی، چې پدې اړه داسي نقل کوي، چې یو مهال یو چا ورته شکایت کړی ؤ او ورته ویلي یې وو، چې دیوې ورځپانې دګډونوالو شمېره څه دپاسه زر تنه اعلان کړي وه پداسي حال کې چې ددې خپرونې ګډونوال درې زره تنه وو نو پدې حالاتو کې ژورنالیست د نیمګړو معلوماتو او د لیکوالۍ کمزورتیا له کبله دبښلو وړ نده، په لنډه توګه ویلی شو چې دقت اوصحت دژورنالیست مسلکیتوب او اخلاقو ته قوت وربښي

.

اخلاق ولې مهم دي؟

دنړۍ ټول ژورنالیستان په خپلو هیوادونو کې دورځني کار پر مهال ځانګړي ارونه په پام کې نیسي دغه ارونه په ټولیزه توګه سره یو دي خودهر هیواد د قوانینو له مخې ځانګړیو برخو ته پکې پاملرنه کیږي. د اخلاقو په مراعت کولوسره  موږ لاندې ګټې او اعتبارونه ترلاسه کولاي شو:

۱.دژورنالیست دکار لپاره پولې ټاکي .

۲.مسلکي ژورنالیست له غیر مسلکي ژورنالیست څخه بیلوي.

۳.ژورنالیست ته ځانګړی نوم اواعتماد وربښي.

٤.دژورنالیست ورځنیو چاروته ارزښت ورکوي.

٥.ژورنالیست دچارواکو له تورونواوګواښونو څخه ژغوري .

٦.ژورنالیست دخپل مسلک او وګړیو پروړاندې ژمن ښيې.

۷.چاته دهغه په کار کې دلاسوهنې اجازه نه ورکوي.

په ژورنالېزم کې داخلاقو لوی لوی مفاهیم

په ژورنالېزم کې ګڼ شمېر اخلاق او حقوقي اصول  مطرح دي چې اوس مهال دنړۍ شمېر هیوادونو په ژورنالېزم کې ورته پوره پاملرنه کیږي او هغه تر مطالعې لاندې نیول کیږي او په بعضو نوروهیوادونو کې اجراء شوي ضمانت نه لري او یوازې اخلاقي جنبه لري او بس.

لدې جملې څخه ډېرې مقولې لکه خصوصي حریم ته احترام، په بې پرې توګه درپوټ تیارول،دین او مذهب ته درناوی، دبډې نه اخیستل،  دخبري سرچینو د اسرارو ساتل او نه افشاء کیدل او له ادبي غلا څخه ډډه کول.... داخلاقي ارزښتونو په ډله کې خسابیږي.

یوشمېر نور اساسي حقونه لکه (معلوماتو ته لاس رسی، دبیان ازادي، دځواب ویلو حق یوازې په اخلاقي چوکاټ کې باقي نه پاتې کیږي، بلکې دیو هیواد دموضوعه قوانینو دمهمو برخوڅخه شمېرل کیږي ، چې دامکان تر بریده په لاندې ډول ورته اشاره شویده.

نوټ:اجراء شوی ضمانت عبارت دی له مؤیدې څخه او مؤیده [هغه عمل ته وایې چې مکافات او مجازات ولري].

اخلاقو آرونه په لاندي توګه په ګوته کړو.

۱- حقیقت: یوژورنالیست بایددتل لپاره هڅه وکړي ترڅوحقیقت ولیکې او همدارنګه حقیقت ووایي، له دروغو ویلو څخه د تل لپاره ډډه وکړي، همداراز ژورنالیست بایدپه حقیقت مین شخص وي ،ترڅوحقیقت وویلای شي اوپه حقیقت پسې ولاړ شي ،اوریدونکو،لیدونکو او لوستونکو او په عمومي ډول مخاطبینو ته حقیقت ډالۍ کړي ،دیوژورنالیست لپاره رښتیا ویل په نقل قول کښې امانت او تقوا ساتل اوپه لیکنو کښې دځاني ګټو او احساساتو د ورګډولو نه ځان ساتل،اړین اوضروري ګڼل کیږي .

۲- دقت او پاملرنه: دکاراوفعالیت په ډګرکښې بایدزیاته پاملرنه وشي،ځکه چې دسمواودقیقواطلاعاتوموندل دوګړوحق دی ،همدارنګه د ناسمو اطلاعاتو خپرول هیڅ ګټه اوارزښت نه لري ،نواړینه ده چې هرڅه باید په دقیق اوحقیقي بڼه ولیکل شي ،نولازمه بریښي چې د هر څه نه مخکې لومړی ژورنالیست باید رښتني او دقیق معلومات ترلاسه کړي اودومره څېړنه وکړي ترڅو د هغه سمون او ریښتینولي باوري کړي ،کومې پیښې چې تائیدشوې نه وي بایدیادونه یې وشي چې تراوسه تائیدشوې نه دي،د دقیق معیارلپاره باید له څو منابعوسره اړیکه ټینګه شي اوترڅنګ یې بایداصلي منبع په اختیارکښې ولري .

۳-عینیت: ژورنالېست بایدعیني حقیقت خپورکړي ،اوهمدارنګه باید په عینیت کښې بې طرفي او انډول مرعات شي ،اودخپلې نظرېې له ویلو څخه بایدپه کلکه ډډه وشي .

٤-انصاف: ژورنالیست بایدصادقانه عمل وکړي ،اوهیڅکله داسې عمل ترسره نکړي چې یوازې یوطرف وځپې اوبل لوری حق په جانب وګڼي اوهمیشه هغه څه په نشر ورسوي چې واقع شوي وي ،نه هغه څه چې دژورنالیستانو د احساساتو انعکاس وي او په کلکه له غوړمالۍ اوپلوۍ پرته د چا په صفت او تائیدبوخت شي ،د دغه ډول درنښت اوبرعکس ناوړه کلمو استمالول هغه وخت درست دي ،چې حقیقت ولري ،ژورنالیسک اخلاق هرډول پلوي ردوي اوپه کلکه یې غندي اوپه دي ډول بې طرفي یوغوره معیارګڼي ،

٥-صحت: دیادونې وړده چې د ژورنالیست هرڅه بایدصحت ولري ،اوله ځانه یې جوړنکړي اوهمدارنګه په عادي چارواعتماد ونه کړي .

٦-خپلواکې: ژورنالیست بایدهیڅکله په ډلو ټپلو پورې تړاو و نه لري اوهغه بایدخپلواک اوخپل سري و او سې ،دهغومنابعوڅخه چې حقایق پټوي هیڅ ډول جوړجاړي ونه کړي اودسوغات له اخستلوڅخه که څه هم لبراویادېر وي په جدي توګه ډډه وکړي او د واک او اختیار د خاوندانو پر وړاندې باجرئته اوغښتلې اراده خپله کړي، د وګړو مسؤلیت ته بایدغاړه کېږدي او د پیښې ځای ته ځان ورسوي اوهیڅکله دبل چا په تمه پاتې نشي .

۷-انتقاد: خبریال خپله غلطي او اشتباه باید ومني او د هغه د اصلاح او صحت لپاره باید هاند او هڅه وکړي .

۸-وضاحت: ژورنالیست ته په کارده چې موضوع واضح ولیکي، ترڅو چې مخاطبین پرې وپوهیږي او په هراړخیزه توګه یې وجاجوي، همدارنګه د یادونې وړده ، که چیرې ژورنالیست دموضوع په اړوند پوره او دقیق مواد تر لاسه نه کړي ،ښایي د منبع د دعوی پرمهال پړ شي،اوهم ددې امکان

شته چې بې ګناه کسان تورن کړي اوهغوی ته بې ځایه تاوان ورسوي اوهمدارنګه ژورنالیست باید هرومرو پدې وپوهیږي چې د هغو دروغو تکرار چې نورو ویلي وي دومره ناسم اوناوړه دي ،لکه ژورنالیست چې پخپله ویلې وي .⇐

مسلکي اخلاق: تردې مهاله کومې ټولنې پرله پسې غښتلي اخلاق ندي رامنځته کړي ،خویوې امریکایې ټولنې American Association Pinion Researchپخپله یوه اخلاقي کړنلاره جوړه کړیده ،چې په لاندې ډ ول یې وړاندې کوو.

دمسلکي تمرین آرونه:

**:دشمېرو او عددونو په راغونډولوکښې بشپړه پاملرنه پکارده،د سمو او دقیقو نتایجولپاره بایددپام وړګامونه پورته شي .

**:همدارنګه په ټولنیزه خاکه کښې او همداراز د شمېرو اوعددونوپه تحلیل او شننه کښې هم ځانګړی احتیاط ته اړتیاده.

**:دهغه خبرنیزو وسایلوڅخه بایداستفاده وشي ،چې داړونده خبرنې سره ډېر ورته والی او تړاو ولري .

**:همدارنګه دداسې وسایلو د کارولوڅخه باید ډډه وشي ،چې د هغې په واسطه شکمنې پایلې رامنځته شي .

**:په لوی لاس باید ترحقایقو درندې خبرنې ونه کړو،همدارنګه مونږه باید موندنه اوکاري تګلاره په سمه توګه بیان کړو.

**:داوړدو او له عددونو سره د ناتړلو سپړنوڅخه بایدصرف نظر وشي

---

⇐ آوازمجله ،R.T.A،ازانتشارات رادیوتلویزون افغانستان، پانه (۸-۹)،چاث کال ۱۳۸۷ل.

دخلکوسره په راشه درشه کښې دمسلکي بازۍ آرونه

(۱): دولس سره:

الف:-داولس ټاکلي استازي باید د خپلې خبرني اوتګلارې په اړه په اعتماد کښې وساتو.

ب:-کله چې اولس دخبرنې په ګډوډيدو (Distortion) پوهيږي دسموالي لاره يې باید وګړو ته روښانه شي.

(۲)اخیستونکي (پیرونکي):

الف:-دیوي شخصي اداري یاپیرونکې لپاره دخیړنې پرمهال بایددهغوي رازونه محفوظ وساتل شي داخلاقي اصل ترسیوري لاندې داسې کارته اړتیا پیښیږي ،په هغه صورت کښې ⇐،خوکه د(ب). پروا نلري .

ب:-څېړنیزه پروژه بایددتخنیکي ستونزواومحدودو وسایلو په پامنیوي سره ومنو.

.

(۳): ځواب ویونکي :

الف: لازمه بریښي چې ځواب ویونکي ته باید دروغ ونه ویل شي ،داسې لاره هم باید خپله نکړوچې ښکنځل،بې عزتي،بې پتي،زور،ظلم او...وي.

---

⇐ شاهد ،ایس ایم ، ژباړن، سهار، نذیراحمد ، رسنیزه څېړنه،پاڼه (۲۳۷-۲۳۸)،چاپ کال۱۳۸۷ل.

ب: ترڅوچې ځواب ویونکي پخپله رازونه نه وي افشاکړي ،خوندي ساتنه يې زمونږه دنده اومسؤليت دي ،بايددقيقه پاملرنه ورته وشي .

په ژورنالېزم کښې دمسلکي اخلاقونړيوال اصول ( International principles of professional ethos in journalism)

په ژورنالېزم کې دمسلکي اخلاقو د نړيوالو آرونو په اړه زياتې مشورتي غونډې ترسره شوې دي،هغه وروستۍ ناسته چې په ۱۹۸۳ م کال کې د نوامبرپه شلمه په پاريس کې تر سره شوه،د ژورنالستانو د اتحاديو غړو په نړۍوال او منطقوي ډول دټولې نړۍ په سطحه يو شمېر خاص اصول او مقررات وضع کړل،او ددغه اصولويوه ځانګه دهغې ديموکراتېکوالى دى ، چې هغه په بنستيزو فکرونو، ټولنيزعدالت او اجتماعي مسؤليت باندې تاکيد کوي اوهمدارنګه ژورناليست بايديو صادق او وفادارشخص وي ،

ځکه چې دټولنې دوګړو پر وړاندې مسؤل شخص دى ،همدارنګه مستبدې او ديکتاتورې ډلې نشي کولاى چې دهمدې ډول مفاهمو او ټولنيزو مسؤليتونو لپاره دعمومي ګټوجوړونکې شي ،ويل کيږي چې نورې داسې  معقولې اومنل شوې  لارې اوطريقې وجود نلري ،چې واړه ژورنالېستان يې دنړۍ په هرګوډکښې دنومورړو اصولودټولومادوموافق شي ،مګر د يو عمومي ليد لوري په نتجه کښې ويلايشو چې دنړۍ زياتره ژورنالېستان د دغه اصولنامي له ځانګړتياوڅخه اغيزمن دي .

همدارنګه د يادونې وړ ده چې ددغې اصولو مادې د دولتونو د اساسي اوکليدي نقش د تائيد په مفهوم ندي او مخکې د خپريدو نه د دولتي سانسور په کلکله مخالفت څرګندوي ،ديادونې وړده چې لاندينيو ټولنو او سازمانو نو د دغه نړيوالو اصولو او مسلکي اخلاقو په جوړولوکې مهمه اوپه زړه پورې برخه اخيستې ده.

**:دورځپاڼې لېکنې نړيوال سازمان

**:دورځپانه ليکونکونړيوال فدراسيون

**-دمطبوعاتونړيواله کاتوليکه ټولنه

**-دلاتيني امريکا دورځپانه ليکونکوفدراسيون

**-دعربي ورځپانه ليکونکوخبريالانوفدراسيون

**-دافريقادورځپانه ليکونکودخبريالانوفدراسيون

**-داسيادورځپانه ليکونکوخبريالانوټولنه

هغه اصول اومقررات چې دپورتنيوټولنواوسازمانونولخوا وضع شوي دي په لاندې توګه يې يادونه کوو:

١- پيښواواطلاعاتوته لاسرسى دوګړو حق دى :

ريښتينومعلوماتو ته لاسرسى په ټوله نړۍ کې دميشتو وګړو بشپړحق دى، ترڅو کره، په زړه پورې او دقيق اطلاعات په لاس راوړي ،اوهم وکولاى شي چې د ډله ايېزو رسنيو له لارې خپلو فکرونو ته انعکاس ورکړي او ژورنالېستان هغه مسؤل افراد دي چې د هغه په مټ وګړي کولاى شي په معقولو او ريښتينو معلوماتو لاس پورې کړي .

٢-ژورنالېستان بايد ځانونه حقيقت ته وقف کړي:

ورځپانه ليکونکي يوازې ځرګندو واقيعتونو ته شوي دي ،اوتر ټولومهمه دنده يې هم داده،چې وګړوته دريښتينواطلاعاتو په وړاندې خپل ځان دې هدف ته ځانګړى کړي ،پيښې او واقعات ديو پاک اوسپڅلي وجدان له مخې وګړو ته وړاندې کړي ،لکه څرنګه چې د خبريال خلاقيت ((نوښت)) د حقيقتونو او واقعتونو په وړاندې کولوکښې بې اغيزه ندي ،نوپرهمدې ترتيب خبريال بايددقيق

متوجه شي چې اصلي هدف په رپوټ اوخبر کښې یوښشپړحقیقت او واقیعت ته انعکاس ورکول دي .

۳-دژورنالېست ټولنیزمکلفیت :

ورځپانه لیکونکي دمعلوماتوپه وړاندې کولوکې نه یوازې داچې خپلو چارواکو ته مسؤل دي ،بلکې په عمومي ډول ټولنیزواوملي ګټوته هم ځواب ورکونکي دي ،دخبریال ټولنیزمکلفیت هغه دیته اړباسي ،ترڅوپه هر ډول شرایطوکښې دسپېڅلي وجدان له مخې په عمل کولولاس پورې کړي .

٤-دوګړوګټون اوونده:

ژورنالېست بایدپه رسنیوکښې دوګړو د ګټون حق ،دپوره ارزښت او اهمیت څخه برخمن کړي ،همدارنګه دهغوی دنظرونو،او خبرواترو د نشرولو پرمهال او د هغه دژونددبېلابېلواړخونوپه اړه پخپل رپوټ یاخبرکښې د هغو ښکارندو ((پدیدو)) په اړه چې دوګړولپاره داهمیت وړوي پوره درناوی ولري، او ژورنالېست بایددځواب ویلوحق اودخپلې رسنۍ لپاره داړونده فعالیتونو تصحیح کول په نظرکښې ونیسي ،هره غلطي اصلاح کړي ترڅووګړي په رسنیز ډګر کښې خپل رول حس کړي ،له نېکه مرغه ویلای شوچې ننیو رسنیو دغه امرتر زیاتې اندازې په اثبات رسولی دی .[⇐]

٥-دورځپانه لیکونکي مسلکي شرافت :

دورځپانه لیکونکي رول ددې غوښتنه کوي ،چې په دې فن کښې دشرافت دلوړومعیارونوپر درلودلو سره د خپل شخصي آند پرخلاف باید د اطلاعاتو پر رسولو کښې پوره پاملرنه وکړي ،اوهمدارنګه مسلکي شرافت خبریال ته ددې اجازه نه ورکوي ،ترڅورشوت اخیستلوته مخه وکړي ،اودعامه ګټودلاسته راوړلوپرمهال دشخصي اوفردي ګټوپرموندلولاس پورې کړي ،اوپه

---

[⇐] شکرخوا ،داکتریونس ،محمدآصف شینواري،خبر،پانه (۱۱۷-۱۱۱۸)،چاپ کال **۱۳۸۵**ل .

مستقیم اوغیر مستقیم ډول خپله پانګه زیانمنه کړي،همدارنګه مسلکي اخلاق ژورنالېست ته ددې اجازه نه ورکوي ترڅوپه ادبي غلا لاس پورې کړي،یاهم پرته دسرچینې د ذکرڅخه دمنبع په توګه استفاده وکړي

٦-خوصوصي اسراروانساني حریم ته درناوی :

شخص ته درناوی اوهمدارنګه دوګړودرازونوخوندي ساتل چې د نړیوالو اصولو له مخې پکې تهمت،افترا اوشخص ته سپکاوی په جدي توګه منع شوي دي ،ددې ترڅنګ ژورنالېست بایدانساني کرامت ته دملي قوانینو او نړیوالو حقوقو د مادو پر بنسټ درناوی ولري ،او دوګړو د حیثیت د تویولو څخه بایدجدا ځان وژغوري .

٧-عمومي ګټوته درناوی:

ژورنالېست بایددټولنې عمومي اوټولنیزمصلحتونه په پام کښې ونیسي ،اوعامه ګټې اوهمدارنګه دټولنې ملي حیثیت وپیژني اوپه هېوادکښې خوځنده قوانین،عادتونه اواخلاق په نظرکې ونیسي اوعامه اوټولنیزوګټوته بایددفردي اوشخصي ګټو په پرتله بهتري اوغوره والی ورکړي .

٨-نړیوالوفرهنګي ارزښتونوته درناوی:

ژورنالېست بایدمختلفوفرهنګونوته پوره درناوی ولري اوټولنیزارزښتونه په پام کښې ونیسي، د هغو مطالبو د خپراوي څخه چې هغه د بیلابیلو ډلو تر منځ د تاوتریخوالي سبب کیږي ،په کلکه

پرهيز وکړي اوهمدرنګه دصلحې ، ديموکراسی، بشري حقوقوپوره درناوی وکړي ،ژورناليست بايد د لوايحو، اعلاميو، نړيوالو مقرراتو او د هېواد ټولو حقوقي اسنادوته چې دهغې لپاره فعاليت کوي ،پوره بلدتيا ولري او په هېوادکښې ټولنيزواعتمادونوته اعتباروركړي اودوګړوترمينځ يې دود ⇐کړي، بايدپه نړيواله کچه ديوي اعتمادي فضاپه رامنځته کولوکښې هڅې ترسره کړي .

۹- د وګړو پر وړاندې د جګړو ختمول:

جګړه په هرحال کښې دملتونوپه فرهنګ کښې يوه پليته پدېده ده ،يوخبريال بايددهغومطالبودخپراوي څخه ډډه وکړي کوم چې د لويو جګړو او وېنو تويولو لامل ګرځي،.بايددوګړو،ملتونو،حکمتونو په منځ کښې د سولې او امنيت په ټينګښت اوهمدارنګه دملي پوهاوي په راوستلوکښې فعاله ونډه ولري.

.

۱۰-داطلاعاتي نظم پربنانوې نړيوالې اړيکې:

انسان دنژادي توپير پرته دنړۍ په هرګوټ کښې چې ژوندکوي، بايد د مالوماتي نظام څخه برخمن وي ،نوي اطلاعاتي نظامونه اړدي ترڅو دکمپيوټر اوانټرنيټ له تکنالوژۍ څخه ګټه پورته کړي ،کوم چې داقتصادي ټولنوله حالت سره نيغ په نيغه تړاو لري ،بين المللي ټولنې اواولسي بنسټونه بايدپدې لاره کښې هلې ځلې وکړي ،ترڅو د معلوماتومستقيم او انډوليز چټر ((پوشش))منځته راشي .

۱۱- خبريال دمرکې پرمهال :

---

⇐ پورتنی اثر .

خبریال د مرکې کولو پروخت کښې له هغه چا سره چې مرکه ورسره کیږي ،بایدپه مؤدبانه ډول سلوک ورسره وکړي اوهمېشه بایدپه یادولري چې هیڅکله له نورو سره دنیشخنداومسخرو نه ډک چلند او رفتار ونکړي..

۱۲-خبریال دتېروتنې پرمهال:

هرکله چې خبریال تېروتنه کوي اوپه اړه یې پوه شي بایدهغه زرترزره له ممکنه لاروا صلاح اوتصحیح کړي ،که چیرې یې اصلاح نکړي نوداپه دې معنې ده  چې خبریال په حقیقت کښې اوریدونکوته درناوی نلري .

۱۳-درسنۍ ټولنیزمسؤلیت :

رسنۍ دټولنیزمسؤلیت پربنسټ د روزنېزو پرګرامونو په خپرولولاس پورې کړي اوهمدارنګه اعلانونه اوخبرتیاوې بایدپه داسې توګه ترسره شي،چې دهغوی دحقیقي طبیعت په اړه دشک هیڅ ځای شتون ونه لري.

۱۴-داخلاقي مسؤلیتونوترسره کول:

داخلاقي مسؤلیتونوترسره کول اوپه پام کښې نیول چې د خبریالۍ د دندې پرمهال وړاندې کیږي په خبریال پورې تړاو لري، چې نوموړي اصول باید د دولت د لاسوهنې لپاره هېڅ ډول لاره برابره نکړي.[⇐]

دریم څپرکې

[⇐] مینه مجله،خپلواکه کلتوري اوهنري خپرونه،اووم کال څلورمه ګڼه،پرله پسې څلورد یرشمه ګڼه ،پانه۱۸ ،چاپ کال ۱۳۸۷ل .

اخلاق په ټولنیزو اړیکوکې

Ethics in Public Relations

دژوند د نورو برخو په شان ټولنیزې اړیکې(Public Relations) هم یولړ اخلاقي آدابو ته پاملرنه کوي ،هرنظام او ځانګه یو لړاخلاقو او آدابو ته ضرورت لري ،همدارنګه دټولنیزو اړیکوکارکوونکي او مینوال هم دهمدې اخلاقي کړنلاروترسیوري لاندې ژوندکوي ،همدارنګه ریښتیاویل ،د حقیقت وړاندې کول ،ریښتني معلومات، روښانه تګلارې او خوږ ذوق د ټولنیزو اړیکو د اخلاقوبنسټ جوړوي ،دیادونې وړده چې د ټولنیزو اړیکو کارکونکي بایدې بریتوب، لرلید، احتیاط، تقوا، دیانت، د بیان وړتیااودوګړودپوهاوي آرونه په پام کښې ونیسي ،په اوسني وخت کښې دسیالیو په روا او ناروا لارو او طریقوسره د تولیداتو دروا ګټلو او ځان ښودنې بازار ډیرګرم شوی دی ،نو پداسې شرایطوکښې اخلاقي اصولو ته دقت اوپاملرنه کول تربل هرڅه اړین اوګټوربلل کیږي ،دنړۍ په بیلابیلوبرخوکښې هره اداره هڅه اوکوښښ کوي ترڅودټولنیزواړیکویوه خاصه څانګه پخپل واک اواختیارکښې ولري، ترڅو د نوموړې ادارې په ګټه هلې ځلې اوفعالیتونه ترسره کړي ،داړیکودڅانګې دارزښت په لوړیدوسره دهغې دکارکونکودندې اومسولیتونه هم درنیږي ،همدارنګه د دندو او مسؤلیتونوهیله اوغوښتنه داده چې داړیکوڅانګې کارکونکي د اخلاقو او اخلاقي آرونو او اصولو په جامه سمبال و اوسي ،د نړۍ په زیاتره هیوادونوکښې څومره چې دټولنیزواړیکوڅانګه غښتلې کیږي په همغه اندازه یې پرکارکوونکوداخلاقي آرونو او ارزښتونودپامنیوي ټینګارکیږي ،همدارنګه دنړۍ په زیاتروهیوادونوکې لکه امریکا، استرلیا، کاناډا، بریتانیا او ... د ټولیزو اړیکولپاره ځانګړي اخلاقي آرونه او ارزښتونه ټاکل شوي دي او دغوآرونو او ارزښتونوته یې قانوني بڼه ورکړې ده ،چې له دې امله فرانسه لومړی هېواد دی چې په ۱۹٦٤ زیږدیزکال کښې یې اخلاقي آرونو ته رسمي اوقانوني بڼه ورکړه،او د لومړي ځل لپاره د فرانسي په دولتي خپرونه ((ګزت))کښې خپاره شول .

اوهمدارنګه په ۱۹۶۹ زکال کښې دبریتانیا دولسي جرګې (House Of Commons) څانګې دبریتانیا د ټولنیزو اړیکو د انسټیټیوټ په وړاندېز سره د اخلاقي اصولو لایحه منظوره کړه ،چې دټولنیزو اړیکوکارکونکي د وګړو د زړه راښکون هڅې کوي او انساني کرامتونه به ژوبلولوته نه ورکوي ،دنوموړي لایحې په اساس د څانګې هیڅ کارکونکي نشي کولای چې بې ځایه خبرونو ته مخه کړي ، اوهمدارنګه اړیکمشرهیڅکله نشي کولای چې دخپلې څانګې دکوم بل مشر یا کس په خلاف د ناوړه خبرو یازیان اړونې هڅه اوهاندوکړي . دیادونې وړخبره ده چې په امریکا کښې دټولنیزو اړیکو اړونده کسان دنوموړي هېواد ټولنیزو اړیکو د ټولنې (PRSA)له وضع شوو آرونو او اصولو سره سم چلندکوي اوهغې ته پوره درناوی لري ،همدارازپه ۱۹۶۱ زکال کښې په وینزکښې د ټولنیزو اړیکونړیوالې ټولنې (International Public Relation Association) پخپله غونډه کښې دټولنیزو اړیکواخلاقي اړخونو د خوندیتوب او رعایت لپاره یولړ آرونه وړاندې کړل چې دلته یې په لنډه توګه یادونه کوو.

*** لوړاخلاقي ارزښتونه اوبې داغه شهرت بایدخوندي وساتل شي .

*** دمسلکي دیانت ترڅنګ بایددټولنیزو اړیکو د نړیوالې ټولنې اصول په پام کښې ونیول شي .

*** له څانګې سره اړونده کسان بایدله وګړوسره غوره اوپه زړه پورې رابطه او راشه درشه ولري .

*** هیڅ یوغړی بایدداسې یوعمل تر سره نه کړي ،چې دنورولپاره د سپکاوي سبب ونه ګرځي .

*** دڅانګې هیڅ غړی داحق نه لري چې بې ځایه معلومات خپاره کړي.

*** دڅانګې غړي بایدداسې کارونه وکړي ،چې خپلو مخکینیو او اوسنیو لګښتوالو ته ترې زیان ورسیږي .

*** دځانکې غړي بايددخپلومخکينيومراجعينوباورزيانمن نکړي .

*** هيڅ غړی به بل غړي يا اداري ته دزيان رسونې هڅه اوکوښښ نه کوي .

*** همدارنګه په ۱۹٦٥ زکال کښې دالمان په ايتنزښارکښې ديوې غونډې په ترځ کښې لانديني نړيوال اصول منظورشول .

۱- د ټولنيزو اړيکو مشران بايد د خپلو ځانګو اخلاقي آرونو او ارزښتونو ته پوره درناوی ولري .

۲- داسې کړنلاره بايدغوره کړي چې دوګړو د روزنې ترځنګ خپلمنځي يووالي ته وعده او پراختيا ورکړي .

۳- په ريښتينولۍ ولاړ حقايق اومعلومات خپاره کړي .

٤- اړيکوال ،يادارېکودځانګومشران اوکارکوونکي  بايد دهغوفرهنګي اواخلاقي بوختياوو په پراختياکښې مرسته وکړي ،چې دبشري حقونوپه نړيواله کړنلاره کښې خوندي شوي وي که څه هم چې زمونږه په ګران هېوادافغانستان کښې تراوسه پورې دټولنيزو اړيکو په اړه اخلاقي اصول ندي ټاکل شوي ،خو اړينه ده چې داسلامې اصولوپه رڼاکښې يوڅه آرونه په ګوته کړي اوهمدارنګه ورته قانوني بڼه ورکړل شي .

دڅېړنې اخلاق Research Ethics :

مخکې له دې چې د څېړنې په اړه خبرې وکړو لازمه او ضروري بولم چې لومړی څيړنيزه يا پلټونکې خبريالي وپېژنو.

((پلټونکې خبريالي په اصل کې يوه ذهني چاره د (عمل) ده . پر تصوراتو او حقايقو د غور کولو او پرهغې د پوهېدلو فن دی .))

همدارنګه د پلټونکي خبريال ذهن بايد د همېشه لپاره آماده وي تر څو په کوم مجلس کې د خبر ورکولو پرمهال ، الوتکه ، موټر ، کور يا دفتر کې لنډه دا چې د ورځني ژوند په بهير کې هره نکته چې د هغه لاس ته ورځي او هره خبره ورته په ډاګه کيږي کوم چې دهغه په ذهن کې ورګرځي دا د پلټنې او څېړنې لپاره ښه موضوع جوړېدای شي ... او په ذهن کې را پيدا شوو مختلفو اړخونو ته ښه پاملرنه کوي او د مسلکي اخلاقو او دوديزو قوانينو په رڼاکې د هغو جاج اخلي.⇐

که د څېړنې Research په اړه خبره تمامه کړو او د هغې پر ځای د څېړنې اخلاق Research Ethics تر بحث لاندې ونيسو په لاندې ډول يې لوستلای شو :

* دخپلواکۍ آر: ددې اصل موخه او هدف همدا دی ، چې څيړونکی يا محقق بايد د خلکو دحقونو او ارزښتونو درناوی وکړي ،او له بې ځايه لاس وهنې څخه په کلکه ډډه وکړي .

* له زيان رسونې پرهېز: څېړنه مو بايد د همېشه لپاره چاته زيان او تاوان ونه رسوي .

* هوساينه : له څېړنې مو بايدوګړي ګټه پورته کړي او چاته ستونزې او مشکلات ونه زيږوي.

* نياو ( انصاف ) : په څېړنه کې بايد له تعصب څخه کار وانخلو او هر څه په خپل مناسب ځای کې استعمال کړو.

**خو له هغه ټکو نه علاوه نورو لاندينيو ټکو ته هم بايد پوره پاملرنه وکړو :**

۱- له خوښې پرته څوک پخپل سر په څېړنه کې شامل نه کړو .

۲- خلک ګډون ته اړ نه باسو .

۳- له دروغو ويلو څخه ډډه وکړو او په لوی لاس ورته دروغ ونه وايو.

---

⇐ اديب ،همايون ، پلټونکې خبريالي ، ژباړن، احمدزی، اميرجان وحيد ، صفحه ۲۵ ،چاپ کال ۱۳۸۷ل .

٤- چاته داسې يو کار مه ورسپارئ ، چې هغ کم پکې راشي .

٥- پر خلکو باندې سرباری مه جوړېږئ .

٦- د چا خلوت (Privacy) مه اغېزمنوئ .

٧- ولکې ډله یا (Control Group) له ګټو مه بې برخې کوئ .

٨- په تجربه کې شریک کسان باید ډاډه وساتو .

خپلخوښی ګډون :

په تجربو کې باید دا فرادو ګډون خپلخوښی وي ، په څېړنیزو تجربو کې د زور زیاتي څخه کار نه اخیستل کیږي ، او نه هم د زور ګډون داړتیا وړ پایې ورکوي . او څېړونکی باید د خپلې ادارې ، ګوند یا ډلې په نوم پټونې یا درواغو سره څوک د تجربې لاندې رانه ولي . او همدارنګه د څېړنې ارزښت او موخه کې له مبالغې باید ډډه وشي ، د خپلخوښي ګډون تر څنګ پر خبرتیا ولاړه خوښه هم اړینه ده او همدا راز دا اوس په څېړونکي پورې اړه لري چې تر څېړنې لاندې کسانو لاره څومره معلومات⇐ او رازونه وښيي .

پټول او دوکه (concealment and Deception) :

په تجربوي څېړنه کې د پټولو (اخفا) او دوکې تکنیکونه ډېر عام کارول کیږي او د اخفا هدف له مطالعې لاندې کسانو څخه څه پټول او دوکه بیا په ارادي توګه درواغ ویل دي ، پدې صورت کې په دواړو کې اخلاقي مسئلې رامنځ ته کیږي ، او په دې سره خلک په راتلونکې کې حساس کیږي . بیا هم په ښه توګه غور په کار دی ، چې آیا :

١- د څېړنې ارزښت څومره دی ؟

---

⇐ شاهد ، ایس ام ، رسنیزه څېړنه ، ژباړن نذیراحمد سهار ، صفحه ٢٣٣-٢٣٤ ، چاپ کال ١٣٧٨ل .

۲- آیا د اخفا او دوکې متبادل تکنیکونه کارول کېدای شي او که نه ؟

۳- دوکه څومره سخته ده او که نه ؟

له دوکې ټول اغېزمن کسان باید د تجربې پر ګټو قایل او ډاډه کړای شي. اوس ویل کیږي چې په لاندې حالاتو کې د ټولنیز ساینس لپاره دوکه رابلل کېدای شي .

۱- کله چې د معلوماتو متبادله اومعقوله لاره نه وي.

۲- کله چې تر تاوان نه ګټه ډېره وي .

۳- کله چې افرادو ته هر وخت د لاس اخیستنې واک ورکړای شي .

٤- کله چې تر مطالعې لاندې کسانو ته رسېدونکی جسمي یا رواني زیان لنډ مهالی یا ژر ډاډ ورکول کیږي .

٥- کله چې په پای کې دغو کسانو ته ډاډ ورکول کیږي .

دخلوت خوندیتوب (Protection of Privacy) :

له دې نه زیاتره د سروې په څېړنه کې استفاده کیږي ، ځواب ویونکي باید ډاډه کړای شي چې له هغوی نه اخیستل شوي معلومات به خوندي کیږي .

دخلوت ضمانت په دوو طریقو سره صورت نیسي ، یانې د نوم ورکی (Anonymity) او راز ساتنې باوري کول ، د نوم ورکی باوري کېدل په دې مانا دي ، چې دخواب سره به د اړونده کس نوم نه څېرېږي . دا کار په مرکو کې ناشونی دی ، خو هلته د راز ساتنې ضمانت کېدای شي ، راز ساتنه په دې مانا چې له اړونده معلوماتو سره به دهغوی نومونه نه راځي اوهمدارنګه دحقایقو تر شنې وروسته هم څېړونکې دا خپله دنده او مسؤلیت وګڼي چې حقایق د نښو نښانو سره یوځای خپاره کړي .

د حقایقو د شننې او رپوټ چمتو کولو آرونه :

د حقایقو په شننه او رپوټ چمتو کولو کې مسلکي معیار ساتنه د خبرونکې مهمه دنده بلل کیږي ، د حقایقو ګوډ مات وړاندې کول نا معیاري او غیر اخلاقي شمېرل کیږي ، دشمېرو او اعدادو په تحلیل کې د سرحد تعینول او ټاکل هم د خبرونکې په لاس کې وي ، چې د بې تفاوتۍ له امله په پایلوکې تېروتنې منځ ته رانه شي ، او همدارنګه خبرونکی یا محقق باید داسې معلومات پټ نه کړي چې موندنه یا پرمختګ یې تر اغېز لاندې راولي . دمثال په توګه که دتجربوي ډلې او کنټرول ډلې د آزموېښتونو تر مینځ دوه اونۍ تېرې شي ، په دې صورت کې خبرنکی باید د ا واضح کړي، چې نور خبرونکي د تاریخ توکي او بلوغت داغېز کچه جوته کړای شي .[⇐]

اعلان او اخلاق (Ethics in Advertising)

دټولنیزو اغېزو له مخې اعلان ځانګړی او ارزښتناک ځای لري ، خو له دې سره ، سره یو لړ اخلاقي اصولو او قواعدو ته هم غاړه ږدي ، ژوند د ښو او خوږو اخلاقو په لومه (کړۍ) رانغښتی دی، که چېرې له دغه حد (کړۍ) څخه کله بهر شو نو حتمي خبره ده چې د ژوند ښکلا به مو بدرنګه او له خاورو سره خاورې شي، نو له دې ویلای شو چې د اشتهارونو مربوطه کسانو او ټولنو یو لړ اخلاقي اصول او ارزښتونه رامنځ ته کړي دي ، چې د صرف کوونکو او اعلان کوونکو تر مینځ انډولیزي . اړیکې د اشتهارونو په بهیرکې ژوندۍ ساتي ، د اخلاقو دغه آرونه او قواعد په لاندې توګه دي .

۱- ریښتینولي:

د اشتهارونو په نړۍ کې دریښتیا او درواغو تر مینځ کرښه ایستل یوڅه مشکل کار دی ، خو ددې سره اړینه ده چې له ریښتینولۍ په زیاته پیمانه کار واخیستل شي او په همدې ترڅ کې باید د افواه

⇐ همدا اثر : پاڼه ۲۳۵- ۲۳۲.

هاتو او مبالغو څخه په کلکه مخنیوی وشي تولید شوي توکي دداسې ځانګړنو سره خلکو ته ښودل چې حقیقت او ریښتینولي ونه لري ، دا په اصل کې د وګړو په حقوقو سترګې پټول دي ، لکه څرنګه چې اوس د سیالیو لړۍ ډېره ګرمه ده . او اکثره اعلان کوونکي یود بل په ضداعلانونه خپروي خو تر څنګ یې اخلاقي اصولو او قواعدو ته پاملرنه نکوي ، او د اخلاقو تګلاره او کړنلاره داده چې له ریښتینولۍ نه کار واخیستل شي او له بې ځایه تبلیغاتو څخه ډډه وشي .

۲- له ټګیو ډډه کول :

کله نا کله ځینې ادارې د خپلو تولیداتو لپاره د نورو مشهورو او متل شوو کمپنیو له نوم او نښان څخه ګټه پورته کوي . او د اعلان له لارې لګښتوالو او مصرف کوونکو ته چل او دوکه ورکوي .

چې دا په حقیقت کې د قانون خلاف یو عمل دی ، همدا راز ثبت شوې ادارې دا حق لري او کولای شي د داسې اشتهاروالو په خلاف په قانوني کړنلاره لاس پورې کړي او محاکمې ته یې راکش کړي ، ځکه دا څرګند حقیقت دی چې د اعلان اخلاقي اصول او آرونه اعلان کوونکي ته د داسې ډول ټګیو برګیو اجازه نه ورکوي او ددغه ډول کړنو څخه د مخنیوي کلکه او جدي غوښتنه کوي .

۳- له ناسم اغېز نه ډډه:

په ځینو اشتهارونو کې له ناسمو بیانونو کار نه اخیستل کیږي ، خو په ټولنه کې یو غلط او ناسم تاثیر رامینځته کوي ، د اعلان مخاطبان له دغه کاره یو ناسم اغیز (برداشت) اخلي ، ځکه خو اړینه بریښې چې له دا ډول کړنو او عملونو څخه په کلکه پرهېز وشي.

٤- د ټولنيزو ارزښتونو خونديتوب :

هره ټولنه يو ډول ټولنيز او فرهنګي ارزښتونه لري ، او همدارنګه ددغې ارزښتونو خونديتوب او ساتنه دټولنې د هر فرد وجيبه او دنده ده ، د اعلانونو د جوړولو او وړاندې کولو پرمهال بايد نوموړی ارزښتونه په پام کې ونيول شي .

د مثال په ډول : په يوه اسلامي هېواد کې د ورځپاڼو او راډيو تلويزيون له لارې د شرابو په اړه اعلان يو ستونزمن کار دی ، ځکه د اسلامي ټولنې وګړي د داډول اعلان په مقابل کې فوراً حساسيت ښکاره کوي او د هغې په مقابل کې د هغه پر خلاف را ولاړيږي ، د خواشينۍ وړ خبره ده چې زموږ يو ډول رسنۍ خصوصاً تلويزيونونه له ياد شوو اخلاقي اصولو او قواعدو څخه سر غړونه کوي ، او داسې اعلانونه خپروي چې زموږ له ټولنيزو او فرهنګي ارزښتونو سره اړخ نه لګوي ، او همدا شان په چاپي خپرونو کې د توکو د ارګانونو اعلان خپرول هم زموږ د ټولنيزو ارزښتونو سره په ټکر کې دي .

له منفي شهرت نه ډډه :

په اعلانونو کې له څه وخته راهيسې د منفي تشهير (شهرت ورکولو) چارو زور او قوت موندلی دی . په دې ډول مقابل يا سيال توکي ټيټ او خپل توکي لوړ ښيي ، په نغوتو او کنايو سره هڅه او کوښښ کيږي ، تر څو د مقابل (سيال اړخ ) توکي بې خونده او بې کېفيته وښيي ، منفي شهرت نه يوازې دا چې قانوني ستونزې او مشکلات رامينځته کوي ، بلکې ددې سره ، سره د خپلې ادارې او توکو ارزښت او اهميت هم زيانمن کوي ، د اعلان د اخلاقي آرونو غوښتنه او تقاضا همدا ده چې له منفي شهرت نه ډډه وشي او د اشتهار يا اعلان اساسي او بنسټيز توکي په پام کې ونيول شي .

د انځور خبريالۍ اخلاق :

د خبر په شان انځوریز ژورنالېزم هم یو لړ اخلاقي معیارونه په خپل واک او اختیار کې لري ، او د نړۍ هیڅ قانون هم خبري رسنیو ته د بې مهاره اوښ په شان خپلواکي او آزادي نه ورکوي . فوتو ژورنالېزم (....) ته هم هېواد د خپل ټولنیز ژوند په بهیر کې یو لړ اخلاق معیارونه په نښه شوي دي . خو زموږ د هېواد په شمول ځینې هېوادونه شته چې دغه آر ته ډېره لږ پاملرنه کوي. او د نړۍ زیاتره خلک په همدې یوه خوله دي چې ګواکې پارونکي انځورونه خپاره نه کړي ، او همدارنګه د وګړو په شخصي ژوندانه انځور خپراوی قانون څخه سرغړونه ده او داخلاقي آرونو خلاف کړنه او عمل بلل کیږي .

د ورځپاڼواونوروخبري رسنیوعکاسان هم د یوچا د شخصي ژوندانه د انځور خپراوي حق نه لري ، او باید جداً له دغه کار نه ډډه وکړي ، او ددې تر څنګ داسې انځور هم باید خپور نه کړي چې هغه د وګړو د خوښې وړ نه وي . د بیلګې په توګه : د سویو کسانو، د سختو ټپیانو، مړو کسانو انځور خپراوی د ټولنې پر وګړو باندې بده اغېزه کوي او په ټولنه کې ویره ، ډار او اندېښنې رامنځ ته کوي .⇐

د بریټانیا د شهزادګۍ ډیانا د شخصي ژوند د انځور خپراوي پر سر د عکاسانو او خبریالانو ترمینځ سخته سیالي روانه وه حتی تر دې چې د هغه مرګ یې هم د انځور اخیستنې پر مهال ورپېښ شو تر دې واقعې وروسته د نوموړې سمې (بریټانیا) عکاسان تر سختو نیوکو لاندې راغلل ، او خلکو غوښتنه وکړه چې عکاسان دې په یوه قانوني اډانه کې خپلې چارې پر مخ بیایي او د خلکو د ځاني ژوندانه له ځپلو او زیانمنولو څخه لاس واخلي. د اوږده بحث څخه تیریږو او دانځور خپراوي پر مهال په کار ده چې لاندینیو ټکو ته جدي پاملرنه وشي.

---

ریاض ثاقب ، نذیراحمدسهار، نوې خبریالي ، صفحه ۲۰۲-۲۰۷ کال ۱۳۸۲.⇐

الف : د نړۍ هیڅ قانون هم عکاسانو ته د چا په ځاني ژوندانه کې د ورننوتو اجازه نه ورکوي . او همدارنګه د وګړو له اجازې پرته انځور خپرواى له اخلاقي آرونو سر غړونه ګڼل کیږي ، د یادونې وړ ده که چېرې یو هېواد دښمنه کس پلټل کیږي ، انځور خپراوی یې د عکاسانو او خبري رسنیو مهمه دنده او مسؤلیت دی .

ب : د ژیړ ژورنالېزم (E) یعنې دلوڅو لړغړو انځورونو پر خپراوي دې لطفاً بندیز ولګول شي .

ج : د ویرووونکو او ډارونکي انځورونو له خپراوي دې هم صرف نظر وشي.

د: خبري رسنۍ باید هېوادنیو، ټولنیزو دودونو ته پوره درناوی وکړي او د ټولنې د دودونو ضد انځورونه خپاره نه کړي .

هـ : له هغو انځور خپراویو باید ډډه وکړي ، چې له یوه منفي کردار نه اتل جوړوي .

و: دانځور ریښتینولي باید خوندي شي ، یعني لوی غونډې وړې او وړې لویې ونه ښودل شي . دغه کار د خبریالی له آرونو سره په ټکر او د خبري رسنیو په زیان تمامیږي .

د انځور راکړه ورکړه (Exchange of photographs) :

لکه څرنګه چې د ورځپاڼو عکاسان یو له بل سره انځورونه تبادله کوي ، خو ددې سره ، سره د ورځپاڼو چارواکي پرې څه نیوکه نه لري . د انځورونو تبادله له دې امله اړینه ده ، چې ورځپاڼې له دریو ، څلورو څخه زیات عکاسان په دندو نه شي ګمارلای . چې له دې جملې څخه یو په اوونیزه رخصتۍ ځي او پاتې درې عکاسان په دې نه توانیږي چې د اړونده ښار ټولو غونډو ته لاس رسۍ وکړي او دښار ټولو غونډو او ناستو ته ولاړ شي . او دښار زیاتره غونډې ماښام مهال جوړیږي ، او عکاسان په یو وخت کې یوازې کولای شي یوې غونډې ته تشریف یوسي ، خو د ورځپاڼې چارواکي غواړي نورې مهمې او په زړه پورې غونډې او جلسې هم عکاسي کړي ، ددغه مسئلې د آواري لپاره عکاسان اړ دي ترڅو ګډ کار او اړیکې (working relationship) ټینګې کړي . او

همدارنګه له ټاکلي پلان سره سم عکاسان غونډو او ناستو ته ځي ، انځورونه اخلي او په پای کې يې يو تر بله سره بدلوي ، دلته دا هم ضرور ده چې د انځورونو تبادله (Exchange) يوازې په ورځنيو پيښو پورې تړاو مومي ، غيرعادي (Exclusive) انځورونه نه تبادله کيږي ، ځکه هره ورځپانه غواړي داسې انځورونه او خبرونه خپاره کړي چې په نورو هغو کې نه وي ، تر څو وګړي د ورځپاڼو اخيستلو ته تشويق کړي . د يادونې وړ خبره ده چې په غير عادي انځورونو سره د ورځپاڼو په محبوبيت کې هم مثبت بدلون راتلای شي .

انځورليک (Caption) :

په ورځپاڼو کې تر خپريدونکو انځورونو لاندې ، چې کوم تحليل او سپړنه ليکل کيږي ، انځورليک (Caption) بلل کيږي . او همدا شان له انځور ليک پرته انځور سپړنې ته اړتيا لري . ⇐

د ژباړې او اقتباس حقوق :

مخکې له دې چې د ژباړې او اقتباس په حقوقي مسايلو باندې رڼا واچوو، داپوښتنه را مينځته کيږي چې ژباړه څه ته وايي ، د دغې د حل وفصل لپاره له اوږده بحث څخه تيريږو ، صرف مثبت نمونه يې خورا يو لنډ تعريف او پيژند ددغې پوښتنې د حل لپاره کافي دی .

((ژباړه هغه مهارت دی ، چې د هغې په مرسته د لومړۍ ژبې منځپانګه ، معلومات او نور د ضرورت وړ شيان له خپل اصلي شکل او جوړښت څخه ايستلای او د دوهمې ژبې شکل او جوړښت ته يې اچولای يا ننويستلای شو .

---

⇐ شاهد ، ايس ايم، ژباړن، سهار ، نذيراحمد ، نوې خبريالي ،پاڼه ۲۷-۲۸ ، کال ۱۳۸۲ل .

یا په بل عبارت : ژباړه هغه فعالیت دی ، چې له یوې ژبې څخه متن اخلي او بلې ژبې ته یې په مساوي ډول اړوي ، چې لومړۍ ژبې ته یې سرچینه او دوهمې ژبې ته یې د موخې ژبه ویل کیږي .⇐

همدارنګه د ژباړې او اقتباس د کاپي کولو حق خوندي اعلام شوی دی او دهغې د امتیاز درلودونکي څخه د امتیاز غوښتنه کوي ، ژباړه په یوه ژبه کې د یوې کړنې او عمل د سرته رسونې څرګندونه ده د هغې د اصلي نسخې سره د توپیر په بڼه اقتباس د یو کار د پراختیا لپاره له یوې سرچینې څخه د ګټې اخیستنې لړۍ ده ، د بیلګې په توګه : د فلم د جوړونې لپاره د یو کتاب څخه اقتباس چې د فلم د څرنګوالي ګټې پکې نغښتې وي او یا هم د داسې یو کتاب د متن څخه اقتباس چې هغه په بنسټیزه توګه د یو پوهنتون د محصلینو لپاره لیکل شوي وي .

او له هغې څخه اغېزمنه ګټه اخیستل کېدای شي ، د ژباړې او اقتباس ملاتړ د بیا خپراوي د حق خوندیتوب په واسطه سره تر سره کیږي او همدارنګه د ژباړې او اقتباس د خپراوي باید د هغې د امتیاز درلودونکي څخه صلاحیت واخیستل شي او همداراز د اقتباس د حق طرح په دې وروستیو وختونو کې د ساینس او تکنالوژۍ په پرمختګ سره په یوه توده موضوع بدله شوې ده ، چې د دغې تکنالوژۍ څخه د ګټې اخیستنې په موخه د ژباړې او اقتباس په اړه متناسب بیلانسونه رامینځته شوي دي ، چې په دې سره کېدلای شي د ژباړې او اقتباس څخه په معاصره پیړۍ کې اصولاً د قانون په چوکاټ کې ګټه پورته شي.⇐

د کردي میز اخلاق:

---

⇐هاله ،پوهاند حبیب الرحمن ، ژباړن استاد امان الله اماني، دژباړنې اصول ، صفحه ۳ ، کال ۱۳۸۷ل.

⇐ USAID د ژورنالیزم د اخلاقو په اړه خپره شوې ټولګه .

لکه څرنګه چې اخلاق په مختلفو برخو کې وڅېړل شول او دلته د ګردي مېز د اخلاقو په اړه څو مهمو ټکو ته اشاره کوؤ،چې دا هغه ټکي دي ، چې یو ژورنالیست یې باید د ګردي مېز د جوړېدو پرمهال په پام کې ونیسي .

١- میلمه ته په سم ډول بلنه ورکو( غوره میلمه پالنه ) .

٢- میلمه باید له خپل استوګنځي څخه په موټر کې راولو او بېرته یې تر خپل استوګنځي پورې ورسوؤ.

٣- د میلمنو وخت باید په نظر کې ونیول شي او له بې ځایه مزاحمت څخه ډډه وشي.

٤- خبریال یا د ګردي مېز چلوونکی باید ډېر صمیمي وي غوره او په زړه پورې اخلاق ولري او د میلمنو او مرکه کیدونکو څخه ساده او غوره پوښتنه مطرح شي .

٥- د ګردي مېز په پای کې د میلمنو بیا معرفي کول او د هغې نه مننه کول او کور ودانۍ ویل ، او خبریال باید د میلمنو څخه د ټلیفون شمېرې ، ایمیل آدرس او نوره پته واخلي .

٦- ژورنالیست باید د ګردي مېز فضا نورماله وساتي، او له ځانه باید قاضي او یا پولیس جوړ نه کړي .

٧- د ګردي مېز چلوونکی (ژورنالیست) باید په نورمال ډول خبرې وکړي او د چا له سپکاوي څخه په جدي توګه ډډه وکړي او د هیڅ وخت لپاره باید جدي برخورد غوره نه کړي .[⇔]

په کارتون کې ژورنالیستیک او وظیفوي اخلاق :

په اوسنۍ پیرۍ کې په چاپي رسنیو کې کارتونونه د پاڼو او صفحاتو یوه اساسي برخه جوړوي ، کارتونونه هماغه حیرانوونکي موجودات ، چې د هنرمندانو انګېرنې په ځینو قضایاوؤ کې د عدالت

[⇔] تنی، اسدالله ، د شیخ زاید پوهنتون ، د ژورنالیزم پوهنځي څخه درسي لیکچر نوټ .

خواته کشوي ، او همدارنګه د رازونو څخه پردې جګوي او د خپلو لیدونکو په خدمت کې یې وړاندې کوي . کارتونونه د پلټونکو هنرمندانو او د هغې کشفیات دي چې په خپل کشف سره په ناوړه عملونو او کړنو خاندي او خپلو مخاطبینو ته نه یوازې خندا بلکې تر څنګ یې فکراو پلټنه هم ډالۍ کوي ، اساساً په کارټوني ژانر کې دوه شیان تر سترګو کیږي ،یوداچې کارټون په خپلې ښودنې او څرګندونې سره د خندا یو بهتره خندونکې او د بدیو بیانونکې وسیله ده.

او همدارنګه کارتون یوه پرې کوونکې ذریعه ده او د کړنو او عملونو بیانوونکې ژبه او د انساني ټولنې د نیمګړتیاوؤ برسېره کوونکې ذریعه ده .او کارتون د خپل پیدایښت سره سم د ځینو ستونزو سره لاس او ګریوان دی ، نوموړی ژانر پخپل هنري شدت سره پخپله فعالیتګاه کې بستر او د هغې هغه شکلونه انځوروي . چې دهغې ښودنه په تمسخر (مسخره ډوله شکل) سره د ناسمو کړنو او عملونو روان حالات د لیدونکو ، اوریدونکو او لوستونکو سترګو ته رسوي ، چې د هغوی د ذهن دتشویش سبب کیږي .

کارتونونه د ویناوؤ هغه بې حده څرګندونې دي چې د کارتونیت جهان بیني او دهغه دکړنو د څرنګوالي واقیعتونه او دهغې د ذهني ساحې پراختیا بیانوي . دا چې کاریکاتورونه د کلونو ، کلونو را په دې خوا مروج دي او د لیدونکو د تفریح وړ ګرځېدلي دي ، ولې ددې سره ، سره په دې اړه ځینې انتقادي نظریې هم شتون لري . دا چې ممکن کله کاریکاتورونه په جسمي ، ناتوانۍ او نژادي مشخصاتو تېری وکړي او د خلکو د ناراحتۍ سبب وګرځي ، بنا پرداسې مواردو کې غیر اخلاقي ګڼل کیږي .

د ژورنالیزم د پولېستر کارپوهانو د خپلو یو شمېر همکارانو سره ((هغه انځورونه چې زخمونه جوړوي)) نومي کتاب کې لیکلي دي ، چې په دې کتاب کې هڅه شوې تر څو په حقیقت ورسوي چې غیر مناسب تصویر په یو فرد یوه روحي ضربه واردوي ، نوموړی په دې کتاب کې د افرادو او وګړو سپک او حقیر ګڼل د نژاد ، جنس او یا جنسي جازبو پر بناء محکوم کړي او دا ډول

تصویرونه منفي انځورونه بولي ،کوم چې روحي ناراحتی زیږوي ، او دنورو د مسخرو او ملنډو سبب ګرځي عموماً هغه رسنۍ چې له دې ژانر څخه استفاده کوي د همیشه لپاره باید نوموړي اخلاقي اصول او مقررات په پام کې ونیسي ، تر څو چې خپاره شوي کارتونونه او کاریکاتورونه د تبعیض ، کرکې ، ناخوالو او جګړو سبب ونه ګرځي او د خلکو او وګړو روحي او ټولنیز موقیعت او موقف زیانمن نه کړي

⇦.

ځلورم څپرکی

د مطبوعاتو او بیان آزادي

آزادۍ هغه ارزښت او مشخصه ده ، چې د انسان په فطرت کې وجود لري او دغه حق د حصول او لاس ته راوړنې لپاره مبارزه د انسان د نورو کړنو سره یو ځای قرار لري . فطرتاً انساني غوښتنه هم داده ، چې د آزادۍ تر سیوري لاندې خپل ژوند ته دوام ورکړي او هر کار او عمل چې غواړي یې تر سره یې کړي په خورا ډېر تفکر سره یې د کلونو کلونو په اوږدو کې د آزادۍ او دهغې د پراخوالي په اړه نظریات راڅرګند کړي ،او په ځانګړې توګه هغه د ټولنیزو کړنو لکه دقانواو د حقوقو قدرت او ژورنالېزم د مفاهمو سره پرتله کړي، چې د هغې له جملې څخه ځینو لکه هایبېزفکر کاوه ، چې آزادۍ پرته له قید او شرط څخه د ژوند چارې له نابرابرۍ او هموارۍ سره مخامخ کوي له هغې ځای نه چې د انسان په وجود کې منفي انګېزې پیاوړې دي پس ددې دا قدرت او زورور شتون اړین دی ، تر څو دغه آزادۍ په یوه خاصه محوره کې مهار او کنترول کړي او دیو ښه نوع بشر د نابودۍ او هلاکت مخه ونیسي او په دې هکله اړینه او ضروري ده چې د آزادۍ یا

---

⇦ باختري،منژه، اخلاق وحقوق درژورنالېزم،پاڼه ۱۱۳-۱۱۴ ،چاپ کال۱۳۸۲ل.

قدرت غوښتنې د بې ساري ميني او رشد مخنيوی وشي ، کوم چې دواړه د انسان په فطرت او خلقت کې شتون لري. ولې برعکس ( لاک ) بيا په دې عقيده ده چې د خبرپه وخت د انسان په وجود کې پيا‌وړې ده ، نو له دې امله کولای شو چې په يوه مدني ټولنه کې هغه حقوق چې انساني ټولنې تر واريدو د مخه درلودل هم وساتو. او د انسان نظرونه ، نيکۍ او خير ليدنې په پام کې نيولو سره بايد هغوی د جبر لاندې ونه نيول شي ((د ژان ژاک روسو)) له نظره بيا قدرت او آزادۍ دوه مساوي او واحد ارزښتونه دي آزاد انسان د قدرت لرونکی دی اما په دې هکله بايد څرګندنه کړو هغه کار چې انسان يې ترسره کول غواړي عقل او پوهه انسان ته دا قدرت ورکوي تر څو هغه غوښتنې چې د نوموړی د خوشحالۍ سبب ګرځي وپېژني . عقل پرته له دې چې انسان رهبري کوي . په ديموکراتيکه ټولنه کې فرد مجبوردی چې دخپلې آزادۍ د ځينو برخو څخه د ټولنې نورو وګړو ته د ګټې په خاطر سترګې پټې کړي او هغه محدود کړي او همدارنګه ديوه فرد آزادي د نورو وګړو آزادي ده . د زيان او تاوان رسولو په مفهوم نه ده او همدارنګه دمطبوعاتو او بيان آزادي هغه مفاهيم چې د ډيرې پخوا زمانې څخه راپه دې خوا د خبرنګارانو او قدرت لرونکو تر منځ يو ډول اخلاقياتو او منازعاتو د رامنځته کېدو سبب ګرځي .

او د نړۍ مختلف هېوادونه د دغو آزاديو څارنه کوي او په نتيجه کې د ژورناليستانو کړنې او فعاليتونه محدودوي ، درسنيو او بيان آزادي پرته له دې چې دحقوقي مفاهمو بحث پکې څېړل کيږي دهغوی لپاره دحدودو تعين او د متقابل احترام څرنګوالی د هغوی د اخلاقي مفاهمو څخه کنټرل کيږي .

د بيان آزادي چې د رسنيو د فعاليتونو اصلي محور تشکېلوي او په حقيقت کې د رسنيو څرنګوالی پرته د بيان د آزادۍ څخه پوښتنې رامنځته کوي او اورېدونکې پرته ددغه اصل او پدېدې څخه په

رسنیو اعتماد او باور نه شي کولای او همدارنګه دبیان آزادي دمدني آزادیو څخه یوه آزادي شمېرل کیږي کوم چې دلیکنو او ویناوؤاړیکې په برکې نیسي .[⇐]

او وګړي او افراد هغه څه چې درک کوي باید د کتاب او مطبوعاتو له لارې بیان او نورو ته یې ورسوي او نور وګړي د خپلو افکارو څخه برخمن کړي .

د بیان آزادي او مطبوعات او د ټولنې مدیر هیئت باید د وګړو د غوښتنو او تمایلاتو څخه ځان خبرکړي او باید خپلې کړنې او فعالیتونه اصلاح کړي او همدارنګه دتېروتنو شودنه نیوکې ددې سبب کیږي چې صلاحیت لرونکې مقامات کلیدي پوستونو ته رسوي او همداراز دقلم او بیان آزادي د ټولنې د پرمختګ سبب ګرځي او د استعدادونو په انکشاف کې په زړه پورې نقش لوبوي او با استعداده اشخاص دامورو کنټرول په لاس کې اخلي او د مختلفو هېوادونو عکس العمل د نوموړو آزادیو په اړه ډول ډول دی کله ناکله د زور او زیاتي په وسیله دغه آزادی له منځه ځي،او ټولنه دسیاسي امورو او عجایبو په هکله بې علاقې پاتې کیږي . که چېرې رسنۍ د دولت تر سانسور لاندې واقع شي او یا خپل فعالیتونه په تشریفاتي بڼه ترسره کړي نو په دې صورت کې د ټولنې دوروسته پاتې کېدو سبب ګرځي ، په نتیجه کې ویلای شو ، چې د بیان او مطبوعاتوآزادي په اوس مهال یا عصرکې د ثبات او ټینګښت د غوره او بنسټیزه عواملو څخه ګڼل کیږي او همدارنګه د ځواکمنو او پرمخ تللو هېوادونو په ثبات او استحکام کې او مخصوصاً هغه هېوادونه چې دیموکراسي غوښتونکي وي په زړه پورې نقش لري او دټولنې دټولنیزو مساواتو او دفساد په مخنیوي کې مهم رول لوبوي او هیڅوک نه شي کولای چې په ټولنه باندې ځان تحمیل کړي ،مګر دا چې عمومي فکرونه دهغې سره هملاري شي او ټولنیز فکرونه دهمدې لارې بڼه پیدا کوي او غالباً د چارو اداره د کار د سرته رسونې یو ه ځانګړتیا ده .

---

[⇐] پورتنی اثر .

دمطبوعاتو له آزادۍ سره د هغې مطلوب غبرګون او یا نه غبرګون مل دی . دمطبوعاتو دنده او مسؤلیت د سر پټول او د حقیقت د پیښو شلول نه دي ولې رسنۍ د ټولنې هنداره ده . او کله چې دغه رسالت سرته ورسوي کارونه په ټولو کچو په ریښتینې بڼه تر سره کیږي . په هغه مواردوکې چې کلیدي چارواکي يې په يوه کوچنۍ تېروتنه له کاره ګوښه کيږي کمه نه ده ځکه دهغې عمده دلیل درسنیو مدیریت دی ، اوهمدارنګه دمسؤلیت مفهوم دملت په وړاندې همدغه دی . دکارونو دځواک او نیمګړتیا ټکي باید د وګړو سره په تړاو مشخص وي. او مطبوعات کولای شي دغه پېژندنه صادقانه او ریښتینولي څرګنده کړي او په حقیقت کې دبیان آزادي د دریو عناصرو درلودونکې ده :

۱- د عقیدې آزادي : په دې مفهوم چې هرڅوک په آزادانه توګه پرته له ویرې او ډار څخه د خپلو نظریاتو او عقایدو د ظاهرولو حق ولري . دغه عقاید او آزادي کېدای شي په مختلفو ساحاتو کې ظهور وکړي .

۲- داطلاعاتو آزادي: د اطلاعاتو د خپرولو آزادي د اطلاعاتو دمیندلو آزادي ، د اطلاعاتو دپلټلو آزادۍ ته شامليږي . او د بیان د آزادۍ تکمیل کوونکې بلل کیږي .

۳- د معلوماتو او افکارو د خپرولو آزادي: چې په هغه کې د افکارو آزادۍ خپرونه، ټولنیزې، کلتوري، اقتصادي او سیاسي نظرې او همداشان شمیرې او نور مسایل مطرح او دبحث وړ ګرځي .[⇐]

په کورنیواو نړیوالو قوانینو کې د بیان آزادي:

⇐ مدني، ډاکتر سیدجلال الدین، حقوق اساسي و نهادهای سیاسي جمهوري اسلامي ایران، پاڼه ۷۷او ۸۱ ، کال ۱۳۷۰ل.

د بیان د آزادۍ لمړی تعریف : د لمړي ځل لپاره د بشر د حقوقو په نړیواله اعلامیه کې چې دفرانسې د ۱۷۸۹ میلادي کال په لوی انقلاب کې ارایه شوی او دغه اعلامیه په یوه سریزه او ۱۷ مادو مشتمله ده ، او په ۱٤ مادو کې یې د آزادۍ ذکر شوی دی او هغه هم په دې ډول چې (( آزادي دیو کار د سرته رسولو د آزادۍ څخه عبارت ده چې نورو ته یې د زیان رسولو سبب ونه ګرځي ، بناء پر دې د هیڅ یو فرد د طبیعي حقوقو اجراء د حد او سرحد لرونکې نه ده مګر هغه حدود چې د هماغه حقوقو څخه یې د ټولنې نورو غړو ته تضمین او حد ټاکلی وي او دغه حد او سرحد یو ازې قانون ټاکلی شي او بس)) او همدارنګه د نوموړې اعلامیې په (۱۱) ماده کې راغلي : چې ((آزادي د افکارو او عقایدو د جزیاتو او دبشر ارزښتناکه حقوقو څخه ده بناء پردې هریو وګړی چې هرڅه غواړي کولای شي په آزادانه توګه یې ووایي ویې لیکې چاپ ته یې ورسوي مګر په هغه حالاتو کې چې قانون ټاکلی وي نو په دې صورت کې د آزادۍ د حدودو څخه تجاوز چې په قانون کې لیکل شوی وي د مسؤلیت لرونکی وي ))

او همدارنګه په ۱۹٤۸ میلادي کال په سپتمبر کې د بشر دحقوقو په نړیوالې اعلامیې په ۱۹ ماده کې راغلي دي : چې ((هرڅوک د بیان او آزادۍ حق لري او په دې حق کې هغه آزادي شامله ده چې څوک دخپلې عقیدې د نظر درلودلو څخه ویره او اندیښنه ونه لري او د عقایدو او مالوماتو په پلټنه او لاسته راوړنه کې دکوم برید او سرحد پرته آزاد وي ))

ولې باید په یاد ولرو چې آزادۍ هم د حد او سرحد لرونکې ده ، او په هیڅ یوه ټولنه کې پرته د قید او شرط څخه د قبلیدو وړ نه ده او همدارنګه په نوموړې اعلامیه کې ذکر شوي دي چې :

۱- هر څوک چې په هغې ټولنه کې دندې او مکلفیتونه لري چې یوازې هلته دده د شخصیت آزاده او بشپړه وده ممکنه وي .

۲- هر څوک باید د خپلو حقوقو او آزادیو په عملي کولو کې دهغو محدودیتونو تابع وي چې د قانون په ذریعه یوازې ددې لپاره ټاکل شوي وي ، چې دنورو آزادیو او حقوقو په مناسب ډول

التزام وشي او وپېژندل شي او په يوه آزاده ټولنه کې د اخلاقي موازنو ، غوښتنو ، عمومي نظم او هوساينې مرعات وشي .

۳- په هيڅ راز دغه حقونه او آزادۍ دملګرو ملتونو د اصولو او موخو برخلاف نه شي عملي کېدلای . په ۱۹٦٦ ميلادي کال کې د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق د ۱۹ مادې په دوهمه فقره کې ذکر شوي دي چې ((هر څوک د وينا د آزادۍ حق لري او په دغه حق کې د زده کړې لټول معلومات او فکر په لاس راوړې پرته له دې چې سرحدونه په پام کې وساتي په شفاهي ، ليکلي ،هنري او يا هره بله وسيله تر لاسه کول شامل دي ))

په دې وروستيو عملي تحقيقاتو او لاسته راوړنو کې د بيان آزادي په څلورو مراحلو ويشل شوې ده چې په دغه ويشنه کې د امريکا د استقلال اعلاميه د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه او د فرانسې دلوی انقلاب اعلامې يې د لومړۍ مرحلې لمړني تعريفات ګڼل کيږي .

د لاسته راوړونکو حقوقو تعريفات د دوهمې مرحلې جزء او د سولې د چاپېريال ساتنې او پراختيا د حقوقو څخه برخمن کېدل په دريم پړاو کې شامليږي او د وروستي پړاو تعريفونه د نويو معلوماتي ،ارتباطي ،انټرنيټي اوفني لاسته راوړنو په محور استوار تعريفات ګڼل کيږي . يو له دغو قوانينو څخه چې په څلورم پړاو کې په تصويب رسيدلی د اروپايي ټولنې د وزيرانو دشورى د ۱۹۸۲ ميلادي کال د مطبوعاتو د آزادۍ تصويب شوې اعلاميه ده چې په يوه سريزه او ۸ مادو کې او په ۳ دريو برخو دمتن په شکل تحرير شوې او همدارنګه دسريزې په ٤ څلورمه ماده کې ذکر شوي چې ((د بيان او اطلاعاتو آزادي د انسان د ټولنيز، سياسي ، اقتصادي او فرهنګي پرمختګونو لپاره ضروري او د دغو پرمختګونو لپاره شرط دادی چې د نورو ډلو او ملتونو او دنړيوالې ټولنې د اجتماعي او فرهنګي پرمختياوؤ سره برابروي ))

او همداراز د افغانستان په ۱۳۸۱کال داساسي قانون په ۲٤ ماده کې هم په دې هکله يادونه شوې ده (( آزادي د انسان طبيعي حق ده ، دا حق د نورو له ازادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د

قانونو له لارې تنظیمیږي حدونه لري او د انسان آزادي او کرامت له تیري خوندي دي دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی ))

او همداراز ددغه قانون په ۳٤ ماده کې هم دغه ټکې ځانګړي شوي دي (( د بیان آزادۍ له تیری څخه خوندي ده هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا ، لیکنې ، انځور او یانورو وسیلو له لارې په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعایت څرګند کړي هر افغان حق لري چې د قانون دحکمونو سره سم مطالب بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقاماتو ته وښيي خپاره او نشر کړي د مطبعو، راډیو ، تلویزیون دمطبوعاتو د خپرولو او د ډله اییز ارتباط په نورو وسایلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لارې تنظیم کیږي )) ⇐

افغانستان د ۱۳۸٤لمریز کال د رسنیو ټولینز قانون په خپله لومړۍ ماده کې داسې ذکر کوي: دغه قانون د اساسي قانون د څلور دیرشمې ۳٤ مادې له حکم سره سم او د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامې د ۱۹ مادې په پام کې نیولو سره د فکر او بیان آزادۍ د حق دتامینولو او په هېواد کې د ټولنیزو رسنیو د وسایلو دفعالیت د تنظیمولو په مقصد وضع شوي دي .

او همدارنګه ددغه قانون دوهمه ماده د نوموړی قانون موخې شرح کوي او ټول د بیان د آزادۍ د رشد او دهغې د ساتنې په اړه تاکېد کوي اود دغه قانون موخې په لاندې ډول دي:

۱- د فکر او بیان د آزادۍ دحق ملاتړ او تضمین .

۲- د ژورنالیستانو دحقوقو ملاتړ او د ټولنیزو رسنیو دوسایلو د آزاد فعالیت د شرایطو تامینول .

۳- د آزادو خپلواکو او پراخه بنسټونو، ټولنیزو رسنیو دوسایلو رواج کول .

---

⇐ د افغانستان د اساسي قانون ۲۴ ماده .

٤- دخبرو ، ليکنو ، رسم ، تصوير ، په کسټ کې ثبت کولو ، تمثيل ، حرکت اونورو علمي ، ادبي ،هنري او د چاپ او خپرولو په واسطه د هېواد د اتباعو د فکر او احساس د څرګندولو لپاره د مناسبو زمينو برابرول .

٥- د اسلام دمقدس دين دحکمونو له په پام کې نيولو سره د بشر دحقوقو نړيواله اعلاميه کې مسجل د بيان د ټوليزو رسنيو د وسايلو د آزادۍ داصل په پام کې نيول .

٦- د ټوليزو رسنيو دوسايلو د سالمې ودې په مقصد مرسته په داسې ډول چې وکولای شي په هېواد کې دثقافت د خپرولو اغېزمن وسايل وي او د خلکو نظرېې د ژورناليستيکې معيارونو، اصولواو ارزښتونو د صداقت ، بې طرفۍ او انډول سره سم منعکس کړي .⇐

او په نتيجه کې کولای شو چې درسنيو دقانون څلورمه ماده چې دهمدې موضوع په اړه راځرخي دهمدې بحث د وروستۍ برخې په توګه ذکر کوو.

د فکر او بيان د آزادۍ په اړه دنوموړی قانون څلورمه ماده داسې صراحت کوي.

١- هر شخص دفکر او بيان دآزادۍ حق لري چې د دولتي چارواکو دلاس وهنې او محدوديت پرته دقانونو دحکمونو په حدودو کې دمعلوماتو ، اطلاعاتو او نظريو غوښتنه ، تر لاسه کول او ليږدول په دې حق کې شامله ده . په دې حق کې د معلوماتو د خپرولو، ويشلو او تر لاسه کولو او د وسايلو آزاد فعاليت هم شامليږي .

٢- دولت دټوليزو رسنيو د وسايلو د آزادۍ ملاتړ پياوړتيا او ضمامت کوي د دولت او دولتي ادارو په ګډون هيڅ حقيقي يا حکمي شخص نه شي کولای دخبري يا معلوماتي رسنيو دآزاد فعاليت منع

---

⇐ د ټولنيزو رسنيو قانون ، رسمي جريده فوق العاده ګڼه ، صفحه (١-٣) ، دچاپ کال ١٣٨۴ل .

، تحریم ، سانسور یا محدود کړي او یا په بل ډول د ټولنیزو رسنیو په خپرونو او معلوماتي چارواکو کې لاسوهنه وکړي خو د دغه قانون له حکمونو سره به سم عمل کوي .)

اطلاعاتو ته دلاس رسي حق:

)) یوه غیر دولتي مدني مؤسسه ده چې دبیان د آزادۍ په اړه یې پراخه Article۱۹ ماده ((
فعالیتونه تر سره کړي دي نوموړې مؤسسې د ۱۹۹۹ میلادي کال د جون په میاشت کې اطلاعاتو ته دلاس رسي حق یوه غوره نمونه وړاندې کړې ده چې بیا وروسته د قانون په بڼه رامنځته شوه او دملګرو ملتونو د سازمان په عمومي غونډه کې په ۲۰۰۰ میلادي کال کې تصویب او دتایید وړ وګرځیده او اوس مهال نوموړی قانون په نړۍ کې دزیات ارزښت لرونکی دی، او دنړۍ زیات شمېرهېوادونه یې د حق څخه پیروي کوي . په نوموړې نمونه کې د اطلاعاتو د آزادۍ او لاس ته راوړلو د حق په اړه ۹ اصول درج شوي دي . چې په لاندې ډول یې لوستلای شو .

لومړی اصل : دحد اکثر ښکاره کول :

د اطلاعاتو حد اکثر ښکاره کول دا مفهوم راپیژني چې ټول هغه معلومات چې په هېواد کې موجود دي باید د خلکو دلیدو وړ موقف کې قرار ولري او څرګندشي . او ټول وګړي باید دمعلوماتو د لاسته راوړلو د انډولیز او مساوي حقوقو څخه برخمن شي یوازې په هغه صورت کې کولای شو ، ددې اصل څخه رجوع وکړو کله چې د اطلاعاتو ښکاره کول ملي امنیت ته ګواښ پیښوي او یا دوګړو ترمنځ د ډار اچونې سبب ګرځي او ټولنیز نظم ویجاړوي . په نتیجه کې ویلای شو چې دولت یوازې په استثنایي شرایطو کې اطلاعات پټ ساتلای شي.

دوهم اصل : د خپرونې لازم والی:

دولتي اُرګانونه باید داطلاعاتو خپرول ددوامداره جریان په بنه جاري وساتي او اسناد، مدارک او اطلاعات دهمدې اصل په آساس خپاره کړي او هېوادوالو ته يې په شفافه توګه د دولتي پروګرامو او فعالیتونو د دولتي تصمیمونو ، سیاسي طرحو، قانوني تغیراتو او د اتباعو د مثبتو او منفي نظرونو مطابق معلومات ورکړي .

دریم اصل : په حکومت کې د شفافیت پیاوړتیا:

دولت باید ټول اطلاعات په واضح توګه پرته د کوم ابهام څخه اتباعو ته ابلاغ کړي او هیڅ ډول بدلون باید په اطلاعاتو کې صورت ونه نیسي .

څلورم اصل :په دې اړه د وضع شویومحدودیتونو مشخص کول:

هرکله چې دولت د هېواد دموضوعه قانون او یاکومې بلې ملاحظې په اساس په آزادو اطلاعاتو یو محدودیت وضع کول اړین وبولي باید چې دولت په ځانګړي ډول هغو خلکوته وښيي او ددې محدودیتونو د ضرورت دلایل دې په ګوته کړي .

پنځم اصل : د سهولت رامنځته کول :

د اطلاعاتو او وګړو تر منځ د فاصلې حد د امکان تر حده رالنډشي . اتباع باید اطلاعاتو ته د لاس رسي او تمایل غوښتنې په صورت کې پرته د هر ډول قید او شرط څخه د هغې نه برخمن شي او په دې اړه داسې وسایل او اسباب تهیه نه شي تر څو ټول خلک د دولتي اُرګانونو څخه اطلاع لاسته راوړي .

شپږم اصل : د اطلاعاتو دموندلو سرچینه باید ګرانه نه وي :

هغه خبرې او اطلاعاتي منابع چې دولتي ارګانونه يې په دې اړه په نظر کې لري باید ګران نه وي ترڅو ددې حق مانع نه شي .

اووم اصل : خبري اترې او ښکاره غونډې :

دولت باید خبرې اترې او غونډې دمثال په توګه پارلماني غونډې په ښکاره توګه دایرې کړي تر څو ټول اوسیدونکې ترې خبرشي او په دې وپوهیږي چې دولت په کومو کارونو بوخت دی او څه ډول پریکړې کوي .⇐

آتم اصل : د اطلاعاتو د آزادۍ د اصل سره د نورو قوانینو همغږي کول :

په هر قانون کې باید اصطلاحاتو ته د لاس رسي حق ته ترجیح ورکړل شي . او هر کله چې یو قانون ددې اصل سره په ټکر کې واقع شي باید دتعدیل او بیا کتنې لاندې ونیول شي ترڅو ددغه حق لومړیتوب ته ترجیح ورکړل شي .

نهم اصل : د منتقدینو او افشاء کوونکو ملاتړ :

هغه افراد چې منفي جریانونه دټولنیزو ګټو پرضد عملیات او جنایت کوونکې اشخاص افشاء کوي باید چې د قانوني ملاتړ څخه برخمن شي .

دمطبوعاتو او بیان دآزادۍ استثناوې :

په پورتنیو بحثونو کې مو د بیان او مطبوعاتو آزادي په کورنیو او نړیوالو قوانینو کې وڅېړله ولې باید اعتراف وکړو چې حتی په هغو هېوادونوکې چې نوموړو ارزښتونو ته یې په خپلو قوانینو کې ځای ورکړی دی کله ناکله ځینې استثنایي او خاص حالتونه کوم چې په قانون کې نه دي تجویز شوي منځ ته راځي ، او ددې باعث ګرځي ترڅو دغه آزادي محدوده کړي ولې بیا هم نوموړی محدودیتونه باید په امنیت عمومي منافعو پورې په اړوندو ګټو او مهمو حیاتي عملونو برخلاف وضع نه شي او له دې پرته به دمنلو وړ نه وي . په ټولیز ډول داخلي جګړې د ګاونډیانو سره جګړې سیمه اییز او نړۍوال جنګونه ،طبیعي پیښې، امنیتي کتنې ، دنظامي جګړې اعلان او خبرداري او

⇐ د USAID څخه د ژورنالیزم د اخلاقو په اړه خپره شوې ټولګه .

بالاخره  اضطراري حالات چې پرمختللو وجوهاتو او مناسبتونو ممکن په یوه هېواد کې منځته راشي دا ډول استثناوې رامنځته کوي او همدارنګه دافغانستان د اساسي قانون په ۱۴۳ ماده کې د اضطراري حالت په اړه داسې یادونه شوې ده .

(( که د جګړې ، دجګړې دخطر ، وخیم اختشاش او طبیعي آفاتو او یا ورته حالاتو له امله دخپلواکۍ او ملي ژوند ساتنه په هغه طریقه چې په اساسي قانون کې ټاکل شوي ناشوني وګرځي د جمهور رئیس له خوا دملي شورى په تایید دهېواد په ټولو او یا ځینو برخو کې اضطراري حالت اعلانیږي که اضطراري حالت تر دوو میاشتو ډیر زیات دوام ومومي د اوږدولو لپاره یې دملي شورى موافقه شرط ده . ))

د اطلاعاتو آزادۍ ته د لاس رسي حق :

د فکر او بیان آزادۍ او دمعلوماتو د لاسته راوړلو حق د یوې مدني او دیموکراتیکې ټولنې عمده مشخصات دي . مدام سالاري (( دیموکراسي )) په حقیقت کې یو نوعه داخلي خبرتیا ده کوم چې درى اساسي نقاط لري . ګریفتاري ، اغېزاچونه ، او په ټولنزو غونډو کې مسؤلیت منل او په دې ترتیب دیموکراسي د داخل څخه خارج ته انتقال مومي او همدارنګه اصلاحاتو ته لاس رسی په رسنیو او اساسي قوانینوکې دیوه اساسي حق په توګه پیژندل شوي دي ، چې له دې امله یو اخلاقي اصل هم بلل کیږي .

اوس مهال په نړۍ کې یوه مؤسسه   (Central information commission)یا  (CIC) نومیږي موجوده ده ، نوموړې مؤسسه د اطلاع ورکونې مراحل څاري اود هر هېواد د امورو د نظارت او څارنې دنده په غاړه لري او د اطلاع ورکونې ټول مراحل څاري .

د هر هېواد اوسیدونکې چې د نوموړې ټولنې سره یو ځای کیږي باید هغه قانون تعقیب کړي څکه دهغه مطابق وګړي حق لري تر څوپه ټولو امورو کې د اختلاس او خیانت په اړه دحکومت څخه

معلومات وغواړي . ددې قانون په اساس هر څوک حق لري تر څو دمسؤلو افرادو او مراجعو څخه معلومات وغواړي او هر کله چې مسؤل افراد د ٤٨ ساعتونو په اوږدو کې دمعلوماتو د ورکولو څخه ډډه وکړي نو په هغه صورت کې د قانوني تعقیب لاندې راځي او تر اوسه پورې د نړۍ ٧٥ هېوادونه د دغه مؤسسې يعنې کميسيون غړيتوب لري او دافغانستان د آساسي قانون د ٥٠ مادې په يوه برخه کې هم په دې اړه يادونه شوې ده (( دافغانستان اتباع حق لري د قانون حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات تر لاسه کړي دا حق د نورو حقوقو او عامه امنيت له زيان رسولو پرته حدود نه لري . )) او همدا راز د رسنيو عمومي قانون پنځمه ماده هم دمعلوماتو دغوښتنو په اړه حکم کوي (( هر څوک حق لري ،چې معلومات وغواړي او تر لاسه يې کړي ، دولت د هېواد د اتباعو له غوښتنې سره سم هغه معلومات چې غوښتل کيږي برابروي ، خو داچې غوښتل شوي معلومات محروم راز وي ، افشاء کول يې دهېواد د امنيت ملي ګټې او ځمکنۍ بشپړتيا په خطر کې واچوي او يا دنورو حقوقو ته زيان ورسوي . ))

په درنښت

وړانديزنه

هر ټولنيزنظام د يوه خاص او ټاکلي قانون په رڼا کې تنظيم کيږي . هر کله چې کومه ټولنه د قانون له رڼا څخه بې برخې شي د نورو ټولنو له سيالۍ څخه لويږي او د پرمختګ په لور قدمونه نه شي اوچتولای ، ځکه چې د ګډوډۍ په فضا کې انسانان نه شي کولای خپلې ارادې په ښه شان تمثيل کړي نو لازمه ده چې په هره عرصه کې يو لړ ټاکلي قوانين او اصول شتون ولري څو په سرغړونې يې افراد مجازات شي او د مربوطه اصولو په منلو اړشي . نو په ژورناليستيک ډګر کې هم يو لړ قواعد او اصول ټاکل شوي، څو ژورناليستان يې د ژورناليزم د دندې تر سره کولو پر مهال په ځان عملي کړي ، څود ناخوالو له رامنځته کيدو ځان او ټولني ته بشپړ نجات ورکړي.

اوس څو وړاندیزونه د خپل زړه د سوي آواز په توګه ستاسې مخې ته بېدم تر څو زما دغه غږ د صلاحیت لرونکو کسانو تر غوږو پورې ورسیږي اوپه اړه یې کوټلي کامونه پورته کړي:

۱- په لومړي سر کې مې د ژورنالیزم د ډګر له سیالانو څخه هیله داده، چې خپل قلم په داسې موضوعاتو را وڅرخوي چې د ژورنالیزم په بیلابیلو اړخونو کې سپړنې وکړي او نوي ، نوي مطالب وڅیړي او د لوستونکو په اختیار کې یې ورکړي څو له حقوقو څخه یې سالمه استفاده وکړي .

۲- اوس مهال کوم کسان چې په رسنیو کې دنده تر سره کوي ، اکثره داسې کسان دي ،چې د ژورنالیزم د اصولو او اخلاقو څخه ناخبره دي ، نو د مطبوعاتو لوړ رتبه مسؤلین باید د داسې کسانو د مخنیوي په اړه لازم اقدامات ترسره کړي . څو له یوې خوا ټول مسلکي شوي او خپل مسلک ته ژمن او وفادار پاتې شي .

۳- هغه مسلکي ژورنالیستان چې په رسنیز ډګر کې فعالیت ترسره کوي د هغې نه زما یوازینۍ هیله داده ، چې هغوی لومړی په دې برخه کې ځان د پوره پوهې او کره معلوماتو څخه آګاه کړي او ددې سره ، سره اړینه بریښي ، چې د ژورنالیستیکو اصولو او اخلاقو څخه ځانونه برخمن کړي او د همدغه اصولو او پرنسیپونو په رڼا کې ټولو ورځنیو پیښو او حوادثو ته انعکاس ورکړي .

٤- لکه څرنګه چې ژورنالیست د ټولنې د شته وګړو د عامه افکارو په روزنه کې مهم رول لوبولی او لوبوي یې نو ضروري خبره ده، چې ژورنالیست د حقایقو د پیروی سربیره د ټولنې سالمه رهبري وکړي ، په بې پرې والي سره حقایق بیان او هیڅکله تر مالي اسارت لاندې رانشي .

٥- ژورنالیست باید د مختلفو هیوادونو فرهنګونو ته پوره درناوی ولري، د هغوی ټولنیز ارزښتونه په پام کې ونیسي او د هغو مطالبو د خپراوي څخه چې هغه د بېلابیلو ډلو تر منځ د تاوتریخوالي لامل ګرځي په کلکه پرهیز وکړي .

پـای

اخځلیکونه

۱- ادیب همایون، ژباړن،احمدزی ،امیرجان وحید ،پلټونکې خبریالي، خپرونکی ،دانش خپرندویه ټولنه پیښور،۱۳۸۷ ل .

۲- باختري،منیژه،اخلاق وحقوق در ژورنالیزم، خپرونکی ،ناصر هوتکي، کابل ، ۱۳۸٦ لمریز.

۳- تڼی ، اسدالله ، د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي څخه درسي لیکچرنوټ .

٤- ثاقب ریاض ، ژباړن ، سهار، نذیراحمد، نوې خبریالي، خپرونکی،میوند خپرندویه ټولنه،پیښور، ۱۳۸٦ ل .

۵- د افغانستان اساسي قانون ،۲٤ ماده .

٦- د ټولنیزو رسنیو قانون ، رسمي جریده فوق العاده ګڼه ، ۱۳۸٤ ل ، پرله پسې ۸۷۱ ګڼه .

۷- دمجلې اداره، د افغانستان د خبریالانو اخلاقي اصول، مینه (مجله)، خپلواکه کلتوري او هنري خپرونه، اوم کال څلورمه ګڼه ، پرله پسې ۳٤ ګڼه ، ۱۳۸۷ل .

۸- ستانکزی ، پوهندوی نصرالله ، د حقوقو بنسټونه ،خپرونکی،سالنګ کتاب خپرونکی،۱۳۷۹ لمریز.

۹- ستانکزی ، پوهندوی نصرالله ، د حقوقوویشنه ، خپرونکی،سالنګ کتاب خپرونکی،کابل،۱۳۸۷ ل .

۱۰- شاهد،ایس ایم، ژباړن، سهار، نظیر احمد، رسنیزه څیړنه،خپرونکی، د ختیځې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکه ټولنه، ۱۳۸۷ ل .

۱۱- شکرخوا،ډاکټریونس، ژباړن ،شینواری، محمدآصف، خبر،دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، ۱۳۸۵ ل .

۱۲- کاتوزیان، ډاکټر ناصر،مطالعه علم حقوق ومطالعه در نظام حقوقي ایران، خپرونکی،شرکت سهامي انتشار،چاپخانه حیدري، ۱۳۸۳ ل .

۱۳- لنګرودي ، ډاکټر محمدجعفر جغفري،مقدمه علم حقوق، خپرونکی، کتابخانه ګنج دانش، ۱۳۸٤ ل .

۱٤- ممموزی، عرب شاه ، ژورنالیستي اخلاق، آواز(مجله)، د افغانستان د ملي راډیوتلویزیون له خپرونو څخه،خپرونکی، مطبعه آزادي، ۱۳۸۷ل .

۱۵- مدني،ډاکټرسیدجلال الدین، حقوق اساسي و نهادهای سیاسي جمهوري اسلامي ایران،خپرونکی، چاپخانه علامه طباطبائي ، ۱۳۷۰ل .

۱٦- هاله ، پوهاند حبیب الرحمن، ژباړن ، اماني، استاد امان الله ،د ژباړنې اصول ، خاور خپرندیه ټولنه ،۱۳۸۷ ل .

-۱۷http//www.article 19. Org/pdfs/standards/righttoknow/pdf

-۱۸www.wipo.int/new/en/links/addresses/ip/index.htm